# د معجزې تیږه

ناول


لیکوال: موریس لبلان

ژباړه: نصیر احمد احمدي



هغه کتابونه چې سمسور وو بپاڼې پرلیکه کړې او یا یې پر لیکه کوي،
نور څوک یې پر لیکه کول اجازه نه لري



کال: ۱۳۹۳ل



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډې خبرې:
په نوې ځوانۍ کې مې مطالعه ډېره وه، پولیسي او جنایي ناولونه مې تر نورو زیات لوستل، بیا یوه ملګري یو جنایي ناول راکړ، ومې لوست، خوند مې ترې واخیست او د کتاب له اصلي کرکټر (ارسن لوپن) سره مې مینه پیدا شوه. وروسته وپوهېدم چې ارسن لوپن د امریکایي فیلمونو د پولیسي کرکټر (جیمز باند) غوندې یو مشهور کرکټر دی او فرانسوي لیکوال (موریس لبلان) په خپلو ډېرو جنایي ناولونو کې همدا کرکټر لوبولی دی. د (موریس لبلان) نور جنایي ناولونه مې هم وموندل، ومې لوستل او خوند مې ترې واخیست.
څه موده مخکې پخوانیو خیالونو په مخه کړم، د همدې لیکوال کتابونه مې سترګو ته ودرېدل، فکر مې وکړ چې ښکلې او له پېښو ډک جنایي ناولونه یې لیکلي دي، راځه! یو ترې وژباړه.
یو خو په پښتو کې ډېر کم جنایي او پولیسي ناولونه لرو، بل به زموږ خلک د نورې دنیا له پولیسي او جنایي ادبیاتو سره اشنا شي، خوند به ترې واخلي او د جنایت او جنایتکارو نه به یې لا ډېره کرکه وشي.
که مو خوښ شو، راته وو ایاست، د ارسن لوپن نور کتابونه هم شته چې په ژباړلو ارزي.

مننه
نصیراحمد احمدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ــ ورونیک دوهرژمون:
ورونیک خپلې اوښکې پاکې کړې، مخامخ ولاړې ځوانې ښځې ته یې وکتل. په غریو کې یې وویل:
ــ هونوریک ، خبرو دې ووېرولم، ووایه ! زما پلار دې په خپلو سترګو ولید ؟
هونوریک د سارک د جزېرې یوه ځوانه میرمن وه. دې د کاسکې د دهقانانو غوندې خبرې کولې او په څېره کې یې د معصومیت نښې له ورایه ښکارېدلې.
هغې یوه سړه سا وایسته، ویې ویل:
ــ میرمن ورونیک، تاسو د وروستي وحشت په اړه ناخبره یاست؛ د سارک د جزیرې اوسېدونکي مرګ په خپلو سترګو ویني؛ یواځې یوه میاشت مخکې جزېرې ته یو ناپېژانده کس راغی؛ دا سړی تر اوسه چا نه دی لیدلی، خو په خلکو کې ګونګوسې خپرې شوې، چې دی د هغو المانیانو له ډلې یو دی چې غلا کوي او خلک وژني. داسې ورځ دې نه وي چې د ساحل په څنډو او ځنګله کې یو ، دوه مړي ونه موندل شي.
میرمن هونوریک غلې شوه، ورونیک ته یې وکتل ، ویې ویل:
ــ د دې جزېرې په یوه متروک کور کې د څلورو صلیبونو نښه ولیدل شوه؛ دا صلیبونه په وینو ککړ وو؛ لاندې یې یوه جمله لیکلې وه:
« څلور صلیبه ــ څلور جنازې ». په بل کور کې یې څلور کسه پر صلیب راځړولي وو، له دوی سره هم یو یادښت پروت و: « د مړو دا شمېره باید دېرشو ته ورسېږي ». اوس د جزیرې د اوسېدونکو په مینځ کې وحشت پروت دی؛ یوه میاشت مخکې له دې جزیرې څخه د وتلو هڅې پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي؛ هره ورځ ډله ډله خلک جزیره پرېږدي او په خپله مخه ځي. خلک ان له خپلو سیورو هم وېره لري. هو رښتیا ، تېره اونۍ له خپلو څو ملګرو سره له جزېرې ووتم؛ سودا مو اخیسته؛ مور، پلار او وړه خور مې د جزېرې په لاندېنۍ برخه کې پاتې شول، خو اوس د دوی ژوند ته کومه تمه نه لرم.

هونوریک غلې شوه، ورونیک ته یې وکتل، د هغې په سترګو کې اوښکې ځلېدلې.

ورونیک ښکلې میرمن وه؛ زېړې سترګې یې درلودې، خو په دې ښکلو سترګو کې درد او اندېښنه له ورایه ښکارېدل.

ورونیک په پېغلتوب کې تر دې لا ډېره جذابه وه؛ هغه وخت یې د بوهم په ښار کې له یوه ځوان سره وپېژندل؛ ځوان ورسکي نومېده، خو ورونیک ته یې لا په هماغه اوله ورځ خوند ورنه کړ. دا نه پوهېده چې دا ځوان څوک دی او پخوا یې څه کول، خو د ورونیک د پلار ( کنت هرژمون ) د ټینګار له لاسه هغې له دې ځوان سره واده وکړ. کال ووت؛ زوی یې پیدا شو چې نوم یې فرانسوا ورباندې کېښود. د ورونیک پلار او د هغې خاوند په پیل کې یو بل ته ګران ول، خو وروسته یې تر مینځ خړې اوبه تېرې شوې، ان څو ځله یې یو بل په سپکو ټکو یاد کړل.

ورونیک نه پوهېدله چې اصلي خبره څه ده؛ یوازې دومره احساس ور لوېدلی و چې د دې د خاوند او پلار تر مینځ توره پېشو تېره ده. دا وېره یې وروسته لا پسې ډېره شوه، دې ته داسې ښکارېدل چې ورسکي د دې د پلار د وژلو پلان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اندېښنه يې ډېر ژر په واقعيت واوښته؛ ورونيک يوه ورځ د پلار کوټې ته ورغله؛ سترګې يې رډې راوختې؛ د ورسکي په لاس کې تبره چاړه ښکارېدله. ورسکي قوي ځوان و؛ په اسانی سره يې د ورونيک پلار پر ځمکه پرېباسه او پر ټټر يې کېناست.

ورونيک چيغه کړه، خو خاوند يې د دوهمې چيغې وار ورنه کړ، دروند سوک يې د ښځې ژامې ته سيخ شو او هغه بې سده پرېوته. کله چې يې سترګې رڼې کړې، ورسکي په کوټه کې نه و. دې په خپل پلار پسې سترګې ورغړولې، هغه کونج ته غلی ناست و. ورونيک ور وښوېده، په کمزوري غږ يې وويل:

_شکر چې ژوندی يې.

کنت هرژمون د خولې له کونج څخه په راوتلې وينه لستونی تېر کړ، په ستړي غږ يې وويل:

_هو، سا راکې چليږي.

ورونيک وويل

_دا جنايتکار چېرته لاړ؟

_بيا به يې ونه وينې.

ورونيک په حيرانی خپل پلار ته وکتل:

_ولې؟

د پلار تندي يې ګونځې پيدا کړې:

_لورې، هيله کوم ، په دې اړه نورې پوښتنې مه رانه کوه، زما او د ورسکي تر مينځ يو وحشتناک راز دی؛ نه يې شم درته ويلی؛ بل څوک بايد ورباندې پوه نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونيک يو ناڅاپه وژړل او ځان يې د پلار غېږې ته ور واچاوه.
کنت هرژمون وويل:
ـنور به هغه دلته رانه شي.
ښځې په ژړا کې وويل:
ـهيله کوم، علت يې راته ووايه.
پلار يې وويل:
ـروسکي د بوهم د يوه پخواني پاچا کړوسۍ دی؛ ده د بوهم او سني پاچا ته جاسوسي کوله او زه له څه وخته راهيسي په دې حقيقت پوه وم. ما د پوځ يوه مشر ته خبر ورکړ؛ ډاډه يم، ورسکي به تر څلرويشتو ساعتونو ونيول شي او خپله سزا به ووينې.
د ورونيک چيغو زور واخيست:
ـاه، نو زما زوی فرانسوا به بې پلاره شي !
د کنټ هرژمون د تندي ګونځې لا پسې ژورې شوې:
ـهو، خو نه غواړم خلک په دې پوه شي چې فرانسوا د هغه زوی دی.
ښځې په ژړا کې وويل:
ـنور څه نه شې ويلی؟
ـنه، کومه بله پټه خبره نشته، خو زما او ورسکي د رازونو په اړه بله پوښتنه مه کوه، هيله کوم، که درته يې ووايم، زړه به دې له وېرې وچاودي.
سری غلی شو، لاړې يې تو کړې؛ وينه پکې ګډه وه؛ ويې ويل:
ـله دې رازونو زه په خپله هم ويرېږم؛ په موږ کې بايد يو مړ شي، زه يا ورسکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونیک، د خپل پلار پښو ته ور ولېده:
ـاه ! پلاره، تاسو نوره هم په وحشت کې واچولم. هغه کومه پېښه وه چې تاسو دواړه يې سره دښمنان کړئ؟ هیله کوم، ووايه ! زه بايد په دې خبرو پوه شم.
کنت هرژمون سوړ اسويلی وايست:
ـدا راز د فرانسې په تېر تاريخ پورې اړه لري. که ورسکي په دې مبارزه کې بريالی شي، هيڅوک به د هغه مخه ونه شي نيولای، خو خدای د وکړي چې زما اند ښېنه بې ځايه وي.
ـپلاره ! تا وويل چې ورسکي به زنداني شي؛ نو ولې ويرېږې؟
کنت هرژمون په خبره کې ور ولوېد:
ـهو، خو که له زندان وتښتي، بيا !
يوه شېبه دواړه غلي شول؛ ورونيک د ورسکي په ببلتون نه وه خپه ځکه له لومړۍ ورځې يې هغه نه خوښېده، خو د خپل زوي فرانسوا راتلونکي يې زړه خوړ.
کنت هرژمون وويل:
ـورونيک، غوږ ونيسه چې څه درته وايم.
ورونيک سرې سترګې ور واړولې.
پلار يې وويل:
ـزما او د ورسکي د جګړې په اړه بايد هيڅوک هم خبر نه شي؛ پوهېږم چې ورسکي ستا خاوند دی، خو خبره خلاصه شوه؛ ته بايد د بوهم يوه ليري پراته کلي ته لاړه شې او هلته په هغه کور کې واړوې چې ماته له نيکونو راپاتې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونیک وپوښتل:
ـاو ته؟
ـله فرانسوا سره د سارک جزیرې ته ځم.
ورونیک په حیراني ویل:
ـد سارک جزیره؟
ـهو، سارک د فرانسې یو لیرې پروت ټاپو دی؛ هلته ډېر خلک نه ورځي؛ اوسېدونکي یې هم تر یونیم سلو کورنیو نه اوړي. د جزیرې ساحل له اوارو تېږو ډک دی. له لوړو ـ ژورو یې مختلفو ونو سرونه راپورته کړي؛ بس نور څه نشته، اوارې تېږې او شنه ځنګلونه؛ له همدې امله په اونۍ کې یواځې یو ځل یوه مساپر وړونکې وړه بېړۍ ورځي او بس.
ورونیک په حیرانۍ وپوښتل:
ـخو ته ولې دې جزیرې ته ځې؟
ـدا زما شخصي راز دی؛ په بل چا پورې اړه نه لري. فرانسوا هم ځکه راسره بیایم چې هغه ځای محفوظ او له خطر څخه خوندي دی. کېدای شي چې ورسکي د خپل زوی د تښتولو له پاره یو څه وکړي.
ـنو زه له تاسو سره نه شم تلای؟
ـدا بیا وروسته خبره ده، که مې وخت وموند، نو احوال به درکړم او په پته به د یو څو ورځو له پاره جزیرې ته راشې.
ورونیک غلې شوه، هغه پوهېده چې پلار یې له خپلې خبرې نه اوړي.
میاشت ووته؛ ورونیک د پلار د استولي پیغام په واسطه وپوهېده چې ورسکي نیول شوی دی. وروسته د ورونیک پلار له خپل لمسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرانسوا سره د سارک جزیرې ته لاړ. ورونیک به هم کله کله د پلار په اجازه د زوی لېدو ته ورتله، خو هلته یې د ډېر وخت له پاره د پاتې کېدو اجازه نه درلوده.

خو ورونیک تر اوسه لا د پلار په راز نه وه پوهېدلې. یوه ورځ د ماکونوک په نوم یوه ښځې چلوونکي ورته وویل چې پلار یې ډېر وخت په ځنګله کې تفریح کوي او کله کله هم د جزیرې په پخوانیو ویرانو ( خرابو ) کې په یو څه پسې ګرځي. داسې لکه د یوه لوی ګنج په پیدا کولو پسې چې سرګردانه وي.

د کنت هرژمون کور د یوې شنې غونډۍ پر سر و؛ په دې کور کې یو بل سړی هم اوسېده؛ استفان مارکس نومیده او دا سړی د فرانسوا معلم و. کنت هرژمون په دې سړي باور درلود او د هغه له لارښونو سره سم به یې خپل پټ کارونه پر مخ وړل.

استفان مارکس یوه ورځ پر ورونیک زړه بایلود او د همدې پاکې مینې له امله فرانسوا لا ورباندې ګران شو. کنت هرژمون عاقل انسان و؛ ذهن به یې ژر خلاصېده؛ په لنډ وخت کې وپوهېد چې معلم یې پر لور مین دی. خو نه یې غوښتل چې د خپل ماموریت تر پایته رسېدو مخکې د خپلې لور د واده په اړه کوم تصمیم ونیسي. ده له استفان سره ژمنه وکړه، هر وخت چې خپل هدف تر لاسه کړي، له هغه وروسته به یې له و رونیک سره د واده غم وخوري.

پنځلس کاله تېر شول؛ په دې موده کې د ورونیک زړه ته ولوېده چې پخوانی خاوند (ورسکي) به په زندان کې مړ شوی وي. خو لا هم کنت هرژمون استفان ته د دې اجازه نه ورکوله چې له لور سره یې واده وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وخت په تېرېدو سره د سارک د جزېرې سکون په نا ارامۍ بدل شو؛ په خلکو کې ګونګوسې شوې، چې په جزیره کې غله او قاتلین پیدا شوي او د خلکو مال او ژوند ګواښي. دا اوازې ورځ په ورځ ډېرېدلې ان د کنت هرژمون زړه هم وحشت ونیو؛ له همدې امله یې ورونیک ته د یو چا په لاس احوال ور ولېږه چې جزېرې ته راشي او خپل زوی فرانسوا له ځان سره بوځي.

دا احوال لېږونکې میرمن هونورین وه چې ورونیک ته یې د جزېرې د وحشت کیسې کولې. هونورین ویل:

_میرمن ورونیک، تاسو ډېره موده له جزېرې لیرې یاست، خو جزیره بدله شوې ده؛ هغه پخوانی امن نه دی پکې پاتې. پوهېږې! داسې ورځ دې نه وي چې یو یا دوه مړي ونه موندل شي؛ وضع خرابه ده او د حالاتو د ښه کېدو تمه هم نه لیدل کېږي. د استفان مارکس غوښتنه دا ده چې پلار دې باید جزیره پرېږدي، خو هغه سرټمبه سړی دی؛ تر اوسه یې د استفان خبره نه ده منلې.

تېره شپه له ځنګله پرله پسې ډزې راغلې؛ خلکو چیغې وهلې، خو هېچا دومره زړه نه درلود چې نږدې ورشي او په دې ځان پوه کړي چې څه خبره ده. نیمه شپه مو حیرانونکې غږونه واورېدل؛ د غونډۍ له سره د ساحل څنډې ښکارېدلې.

ورونیک وویل:

_نو په ځنګل کې غله دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـنه پوهېږم! تر اوسه چا نه دي ليدلي؛ څنګه به يې وينې؛ د جزيرې اوسېدونکو ته چې دزمري زړه هم ورکړې ، نو ځنګله ته د تلو جرات نه لري.

ورونيک په خبره کې ورولوېده:

ـښه، نو هغه غرونه د څه وو؟

هونورين وويل:

ـد جزيرې اوسيدونکي په بيړيو کې تښتېدل !

ـاو پلار مې پاتې شو؟

ـهو، د خلکو په تېښته خوشاله و، ويل يې چې ښه زيرى دى، غله به پوه شي چې په دې جزيره کې د لوټلو له پاره څه نشته، بس، دا نا اميدي به يې له دې جزيرې ورک کړي.

ـاو فرانسوا څه کوي؟

ـهغه ډېر وخت په ښکار تېراوه، استفان مارکس به تل ورسره و، خو په وروستيو څو ورځو کې دواړه له کوره نه دي وتلي.

ورونيک سړه ساه واخيسته، ويې ويل:

ـبايد ډېر ژر جزيرې ته لاړه شم او خپل زوى وژغورم.

د هونورين سر وځړېد:

ـخو په دې شرط چې تر اوسه ژوندى وي.

ورونيک فکر په مخه کړه؛ له نيولې خبرې څخه يې داسې ښکارېدل چې ذهن يې پخوانيو خاطرو نيولى دى؛ وروسته يې سر هسک کړ:

ـڅه وخت حرکت کوو؟

ـسبا سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونیک وویل:

ـهونورین ! په جزیره کې وضع خرابه ده؛ مونږ باید له وسلې پرته هلته لاړ نه شو؛ یو ملګری مې دی، پاتریس بلوال نومیږي. پخوانی تقاعدی افسر دی؛ هغه یو دوست لري چې دن لوی پرنا ورته وایي، خو زه ډاډه یم چې دا هماغه ارسن لوپن دی.

هونورین په حیرانۍ وویل:

ـارسن لوپن؟ هغه خو مړ شوی.

ـنه ، ارسن لوپن دومره په اسانۍ نه مري؛ په یوه میلمستیا کې مې له پاتریس بلوال او میرمن کورالي سره وپېژندل. پاتریس بلوال مهربانه سړی دی؛ ده په میلمستیا کې دن لوی پرنا راوپېژاند ، ماما ن کورالي ویل چې دی یو بل نوم هم لري، ارسن لوپن.

هونورین وویل:

ـښه، له دې سړي څه غواړې؟

ـپاتریس بلوال ته یو خط لیکم او هیله ورنه کوم چې مرسته را سره وکړي.

ـپه دې مانا چې ارسن لوپن د سارک جزیرې ته راغواړې؟

ـهو

ـاو که ستاسو خبره ونه مني، بیا ؟

ـارسن لوپن هیڅوخت د پاتریس بلوال غوښتنه نه ردوي.

ـپه هر صورت، مونږ باید سبا وخته حرکت وکړو ؛ که له یکشنې خبره واوښته، بیا جزیرې ته تر بلې اونۍ کومه بېړۍ نه ځي.

ـسمه ده، همدا اوس هغه ته خط لیکم او تر سبا سهاره به هر څه چمتو وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونیک دا وویل؛ پر څوکۍ کېناسته؛ قلم او کاغذ یې ور واخیستل؛ ویې لیکل:
ښاغلي پاتریس بلوال:
تېره اونۍ مې تاسو ته وویل چې زما پلار کنت هرژمون او زوی مې فرانسوا د سارک په جزېره کې له خطر سره مخامخ دي؛ نیت مې دی چې سبا سهار وخته د سارک د جزیرې په لوري حرکت وکړم، له تاسو څخه هیله کوم چې خپل ملګري ښاغلي لوی پرنا ته ووایاست چې د مرستې له پاره جزېرې ته راشي.
په درنښت
ورونیک دوهرژمون

۲_ څلور صلیبیونه!
د هغې ورځې په سبا ورونیک له هونورین سره د ګلژمون له ځنګله تېر شول، ساحل ته ورسېدل. ساحل ته نږدې د ځنګل په څنډه کې یو متروک کور ښکارېده. په دې کور کې به یو وخت کب نیوونکو شپې تېرولې، خو اوس له یوې خرابې پرته بل څه نه و.
ورونیک او د هغې د سفر ملګرې دې کور ته ورنږدې شول؛ د کور تر مخ ګڼ نارینه او ښځې ولاړ ول؛ له وحشت وهلو څېرو یې داسې برېښېدل چې د خوشالۍ خبره نه ده.
ورونیک له یوې ځوانې بزګرې وپوښتل:
_څه خبره ده؟
ښځې خپل سر وښوراوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـورشئ، په خپله يې وګورئ !
ورونيک او هونورين، دواړه خرابې ته ورننوتلې؛ د خلکو په مينځ کې يې لار وايسته؛ د دهلېز په پای کې لنډې راتاوې شوې؛ يو ناڅاپه يې رنګونه والوتل او ځای پر ځای ودرېدې. پر مخامخ دېوال څلور صليبه ښکارېدل؛ پر هر صليب يو وژل شوی انسان ځوړند و؛ تر څنګ يې پر وينو دا جمله ليکلې وه:
« د دېرشو اجسادو جزيره ـ څلور صليبه. د ا د هغو کسانو سزا ده چې غواړي زموږ په اسرارو پوه شي.»
د ورونيک لينګې ولړزېدل؛ لاس يې پر دېوال ولګاوه؛ هونورين تر مټ ونيوله او په زحمت يې له ګنې ګونې راوايسته. ساحل ته نږدې پر يوه هواره ډبره کېناستل؛ هونورين وويل:
ـورونيک، وګوره، څه درته وايم ! دا د خطر لومړۍ نښه ده؛ دا مړي بايد دېرشو تنو ته ورسيږي؛ دوی هغه کسان وژني چې پر اسرارو يې د خبرېدو هڅه وکړي. خلکو اوس دې جزيرې ته د سارک پر ځای د دېرشو جسدونو نوم ورکړی دی.
ورونيک په وېرېدلي غږ وويل:
ـدېرش جسدونه ! څه مانا؟ دوی ولې دا اجساد په دې ويرانه کې راځړولي دي؟
هونورين وويل:
ـدا کنډواله، د سارک جزېرې ته د تګ په لاره کې موقعيت لري؛ هر څوک چې د سارک جزيرې ته ځي، لومړی يې په دې مړو سترګې لګېږي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چا چې دا کار کړی، غواړي خلک د سارک جزېرې ته له تګ څخه راوګرځوي،

ورونیک وویل:

_خو موږ باید خپل ځانونه جزیرې ته ورسوو.

هونورین اوبو ته وکتل؛ حرکت یې نه درلود ؛ مړې وې؛ سوړ اسویلی یې وایست:

_زه دا څلور نفره پیژنم. دوی د سارک اوسیدنکي ول؛ یوه یې هانریت نومیدله؛ د یوه کب نیونکي میرمن وه؛ خاوند به یې ډېر وخت په ځنګله کې وېدېدو. په وروستیو کې یې ویلي وو چې له ګڼو ونو وېرونکي غږونه راوځي.

_بیا ؟

_نه پوهیږم. خو میرمن هانریت او درې نور کسان له شا څخه په مرمیو لګېدلي وو.

ورونیک وویل:

_اوس څه تصمیم لرو ؟

_موږ د جزیرې خواته ورځو ،خو له بېړۍ نه کښته کېږو ؛ له هماغه ځایه به استفان ته ور غږ کړو ؛ هغه به د سیند غاړې ته راشي او په خبره به ورسره پوه شو.

_که رانه غی ؟.

_نو بیا به په بېړۍ کې پاتي یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شورماشور غږ راغی؛ پولیس ول؛ شپږه وروسته يې صلیب شوي جسدونه راکښته کړل؛ په ځانګړو ګاډیو کې يې کېښودل او له هغه ځایه يې یووړل. خلک هم ورور ورو په خپلو کارونو پسې لاړل.
دوی دواړه هم په یوه کښتۍ کې کېناستلې. بېړۍ حرکت وکړ؛ هونورین وویل:
ـ د سارک په جزیره کې له څو بېوزله کب نیونکو پرته بل څوک نه دي پاتې. کنت هرژمون چې کله دې جزیرې ته راغی، د غونډۍ پر سر يې له لرګیو یو ښکلی کور جوړ ک؛ د ورځې به په همدې کور کې و، خو د شپې به له خپل لمسي (فرانسوا ) سره ځنګله ته تلو.
د ځنګله په دې ویرانو کې د برې پلټنې شوې دي، خو تر دې دمه هېڅ هم کوم ګنج نه دی موندلی. کنت هرژمون وایي چې دا جزیره یو وخت د بوهم د پاچاهانو او شهزادګانو د اوسېدو ځای و؛ دلته لا اوس هم د پخوانیو پاچاهانو ځیني اثار ښکاري چې د ویرانو په بڼه پاتې دي.
یوه بله خبره هم ده؛ زاړه کب نیونکي وایي،چې د لوی سیند اوبه شفا ښښونکې دي؛ که څوک د دې سیند یو غوړپ اوبه وڅښي، په بدن کې يې ټولې ناروغۍ له مینځه ځي؛ ما خپله څو ځله له همدې سینده اوبه څښلې دي؛ خوند يې ښه نه و، خو د پښو دردونه مې لیرې شول.
هونورین غلې شوه؛ورونیک ته يې وکتل؛ د هغې تور وېښته شمال یوې خواته اړولي وو؛ داسې ښکارېدله چې د دې خبرې نه اوري او یوازې د خپل زوی فرانسوا په فکر کې ډوبه ده. ورونیک په رښتیا هم د خپل زوی په اړه فکر کاوه، خو کله به يې په ذهن کې د استفان مارکس څېره هم راګرځېده؛ احساس يې کاوه چې هغه ورباندې ګران دی؛ د استفان

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارکس هم دا خوښېږي، خو تر اوسه یې لا یو بل ته د مینې خبره نه وه کړې.

لمر لودلی و چې بېړۍ ساحل ته ورسېده؛ باد په ارامۍ سره لګېده؛ د ځنګله ګڼې ونې توربخونه ښکارېدلې او ځای ځای د ونو له څانګو ځخه د ویرانو د زړو د بوالونو څوکې راوتلې وې.

دواړو غوږ ونیو؛ په ساحل کې چوپتیا وه، خو کله کله به د یوه حیوان کوکې ته ورته تېره غږ انګازې جوړې کړې. ټاپو داسې غلی و لکه د مرګ سیوری چې ورباندې خپور وي.

د ورونیک زړه له تشویشه ډک و. په زړه کې یې نهیلي ور تېرېدله. یوه شېبه تېرو یادونو په مخه کړه؛ کله چې به دې جزېرې ته راغله، فرانسوا به منډې ور وهلې؛ خوله به یې له خندا ډکه وه؛ د مور غېږې ته به یې په بیړه ځان ورساوه او دواړو به یو بل ښکل کړل، خو نن پر ټولو ونو وبرونکې چوپتیا پرته وه.

د هونورین په زوروره چیغه یې جټکه وخوړه:

_استفان.

وخت ووت، څوک ښکاره نه شول.

هونورین وویل:

_وړاندوینه مې سمه وه؛ ښه احساس نه لرم؛ د استفان درک نشته.

ورونیک په خبره کې ور ولوېده:

_ویده به وي !

هونورین سره سا واخیسته:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـنه، هغوی خبر وو چې مورِ راځو؛ خوب ته هم ډېر وخت پاتې دی، زړه مې درېږي.
ورونیک فکر په مخه کړه ؛ تېر ژوند یې له غمونو ډک و؛ خو اوس یې هم د یواځیني زوی د مړی، ژوندي درک نه ورته مالومېده.
هونورین وویل:
ـشپه به په بېړۍ کې تېره کړو او د تیارې له تېولېدو سره سم به جزېرې ته لاړ شو.
ورونیک سترګې پټې کړې؛ له بڼو یې بېلې شوې اوښکې پر غومبرو لارې واېستې؛ ورو یې وویل:
ـسخته ده؛ له اند ېښنې به مړه شم؛ ښه به دا وي چې همدا اوس له بېړۍ کښته شو.
د بېړۍ خاوند ته غوسه ورغله:
ـزه ځان او خپله بېړۍ په خطر کې نه شم اچولی؛ همدا ماته ګوډه بېړۍ مې د اولادونو نفقه ده؛ ښه به دا وي چې شپه په بېړۍ کې تېره کړو.
دا یې وویل؛ پړی یې د یوې تیږې تر تېرې ژۍ را تاو کړ؛ کلکه غوټه یې ور واچوله.
ورونیک ټوله شپه سترګې پټې نه کړې، له ځنګله وېرووونکې چیغې راتلې؛ دې یواځې ستورو ته کتل.
د سپېدو له چاودېدو سره رڼا شوه؛ د ځنګله ګڼې ونې ویروونکې ښکارېدلې. لمر راوخوت؛ اوس نو ځنګل تر ډېره ښکارېده؛ د غونډۍ پر سر د کنتې هرژمون ماڼۍ ولاړه وه، خو په ماڼۍ کې د ژوند نښه نه مالومېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه میرمنې له بېړۍ څخه کښته شوې؛ ورو مخکې لاړې؛ زنګنونه یې لړزېدل... په لاره کې یې هیڅوک ونه لیدل؛ ان هغه کب نیونکي هم نه ښکارېدل چې هر سهار به د سمندر خواته په ښکار پسې روان ول.

دواړه په احتیاط مخ پورته ختلې؛ ماښې ته نېږدې یو ناڅاپه د ټوپک ډز واورېدل شو. له دوهم ډز سره د یوه چا چیغې پورته شوې. هغه مرسته غوښته. ورونیک غوږ ونیو، دا غږ د هغې د پلار کنت هرژمون و. هونورین همالته ودرېده، خو ورونیک په بیړه ځان کړکۍ ته ور ورساوه؛ سالون ته یې وکتل؛ یوه قوي سړي یې پلار ته سوکان نیولي وو. ورونیک وحشت واخیسته؛ پنځلس کاله مخکې صحنه یې بیا سترګو ته ودرېده. په همداسې یوه ورځ یې خاوند( ورسکي ) د دې د پلار پر ټټر ناست ، له تېرې چاړې سره لیدلی و .

ورونیک ځنګ بدل کړ؛ بلې کړکۍ ته ور وګرځېد ؛قوي سړی د شا لخوا د ورسکي په څېر ښکارېده؛ څېره یې نه شوای لیدلی. د ورونیک په زړه کې ور وګرځېدل، چې ورسکي مړ دی؛ هغه به په زندان کې سا ورکړې وي.

وروسته یې یو ناڅاپه ټکان وخوړ:

ــنو دا سړی څوک دی؟

په دې وخت کې کنت هرژمون چیغه کړه !

ــای قاتله ! که ما مړ هم کړې، بیا به هم خپل هدف ته ونه رسېږې. زه پوهېدم چې ته به دلته راځې، خو د معجزې تیږې ته به ونه رسېږې !

ورونیک له ځان سره وویل:

ــد معجزې تیږه ! څه مانا ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډز شو، کنټ هرژمون چیغه کړه.
ورونیک ځان کابو نه شوای کړای؛ زوروره چیغه یې له خولې راووته.
سړي مخ ور واړاوه؛کړکۍ ته راغی؛ ورونیک ته یې وکتل، په زوره یې وخندل.
سړي دروازه خلاصه کړه؛ ورونیک یې تر مټ ونیوله او په کشولو یې کوټې ته ننه ایسته. د ورونیک پښې بې سېکه وې او په وېره یې د خپل پلار جسد ته کتل. وروسته یې د مستخدمینو مړو ته هم پام شو؛ هغوی په ګولیو ویشتل شوي وو.
سالون د سړي خندا ونیو:
ـزه دې وپېژندلم؟
ورونیک مخ ور واړاوه؛ زړه یې له ویرې خولې ته راغی؛ په زحمت یې وویل:
ـورسکي، ته !

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ د مرګ غر.

ورونیک پنځلس کاله وروسته خپل خاوند ولید ؛ ورسکي نه و مړ. دا ورسکي و چې پر ټوله جزیره یې د وحشت سیوری غوړولی و.

ورسکي له شهوته ډکې سترګې د ورونیک له لوڅې غاړې نه اړولې؛ خو ورونیک د خپل پلار په وینو لړلي جسد ته کتل او پرته له دې چې څه ووایي، سر یې وځړېد. وروسته یې یو ناڅاپه پورته وکتل؛ چیغې یې کړې:

ــ وواېه ! زوی مې چېرته دی؟

ورسکي په زوره وخندل:

ــ زموږ د دواړو زوی.

ــ غواړم هغه ووینم.

ورسکي په ملنډو وویل:

ــ بیړه مه کوه، وبه یې وینې.

ورسکي قوي سړی و ؛ د متو غوښې یې د ورزشکارانو غوندې پېچلې ښکارېدلې؛ لنډه غاړه او کوچنی سر یې درلود ؛ ککرۍ یې وړو خړو ویښتو پوښلې وه. له څېرې څخه یې د بېرحمۍ نښې له ورایه ښکارېدلې، خو له دې سره سره یې جذابې سترګې درلودې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسکي يوې څوکۍ ته لاس ور وغزاوه؛ کېناست؛ بلې څوکۍ ته يې اشاره وکړه؛ ويې ويل:

ـ کېنه، زمونږ خبرې به اوږدې وي.

ورونيک غولي ته کتل.

ورسکي وخندل:

ـ خپل خاوند دې له پنځلسو کلونو وروسته وليد ؛ خوشاله نه شوې؟

ځواب يې وانه ورېد.

ورسکي وويل:

ـ په جزيره کې دا وحشت ما راوستی؛ څوک چې وژل شوي؛ امر يې ما ورکړی دی؛نو ته هم بايد له ما اطاعت وکړې.

يودم پورته شو ؛ د سالون تر کونجه لاړ؛ بېرته راوګرځېد ؛ په غوسه يې وويل:

ـ زما د خبرو په وړاندې مې بې اعتنا کسانو ته غوسه راځي.

ورونيک هماغسې ځمکې ته کتل.

ورسکي وويل:

ـ زه يو وخت درباندې ګران وم؛ داسې نه ده؟

ورونيک پورته وکتل؛ چيغه يې کړه !

ـ نه، له تا مې تل کرکه درلوده.

ورسکي وخندل:

ـ دروغ وايې؛ پر تا ګران وم او هغه وخت مې د ژوند تر ټولو غوره ورځې وې چې له تا سره تېرې شوې.

ورسکي غلی شو، خو دې سکوت ډېر دوام ونه کړ، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـته اوس هم راباندې ګرانه يې، خو حالاتو زما او ستا تر مينځ بېلتون راووست؛ ته پاک زړه لرې؛ سترګې دې لا اوس هم ښکلې او زيږې دي، خو ستا پلار مورې سره بېل کړو؛ باور وکړه، ته نه يې ملامته؛ ته زما له پاره غوره ميرمنه وې؛ خو ستا پلار تحقير کړم؛ ويې څورولم او ماته يې په ټيټه سترګه وکتل. د بېلتون په دې اوږده موده کې مې يوه شېبه هم له ياده نه يې وتلې.
ورسکي غلی شو؛ ورونيک ته يې وکتل؛ ويې ويل:
ـد پلار د بد چلند له لاسه دې مجبوره شوم چې په نړيواله جګړه کې برخه واخلم، خو ژوندی راووتم؛ کله چې جګړه خلاصه شوه، بيا مې هم ستا په اړه فکر کاوه. هغه وخت مې واورېدل چې ته يواځې يې؛ پلار دې زما له زوی، فرانسوا سره ژوند کوي. فکر مې وکړ چې زما د ګرانښت له سببه به له خپل پلاره بېله شوې يې؛ خوشاله وم؛ ژوند ته مې تمه پيدا شوه، خو وروسته پوه شوم چې له پلاره بېلتون دې بل علت درلود. په دې هم وپوهېدم چې ستا پلار دې جزيرې ته د يوه لوی ماموريت له پاره راغلی و؛ ما هم په بدل نوم جزيرې ته ځان راورساوه؛ پلار مې دې څاره؛ تل ورپسې وم؛ بايد پوهېدلی وای چې پلار دې په دې جزيره کې څه کوي، خو پلار دې هوښيار سړی و؛ ويې پېژندلم او د جاسوسي په تور يې زندان ته ولېږلم.
ورسکي وټوخل؛ بېرته يې خپلې خبرې وغزولې:
ـزه د بوهم د يوه پخواني پاچا کړوسی يم، خو دوی په زندان کې له غلو او قاتلينو سره په يوه کوټه کې واچولم؛ زما د ژوند تر ټولو ښه وخت زندان رانه وخوړ. ښه شو، وتښتېدم، که نه هلته به له ډېرې خواشينی مړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای. په زندان کې په ځینو پټو رازونو پوه شوم؛ له تېښتې را پدې خوا
هره ورځ د همدې رازونو په سپړلو پسې ګرځم.
ورسکي د میز له سره له اوبو ډک ګیلاس ور پورته کړ، ویې ویل:
ـپه زړه کې مې یو پټ راز دی، خو که مې ته مینه ومنې او ګډ ژوند را سره
وکړې، درته وبه یې وایم.
ورونیک په بیړه ودرېده؛ په دقت یې ورسکي ته وکتل؛ ورسکي ور
نږدې شو؛ ورو یې وویل:
ـدا موضوع مهمه ده؛ که ورباندې وپوهېږې؛ حیرانه به شې، خو لومړی
دا راته ووایه چې له ما سره مینه لرې که نه؟
ورونیک کږکې ته کتل؛ په ذهن کې یې یوا ځې د خپل زوی فرانسوا ځېره
ور ګرځېده.
ورسکي وویل:
ـ راځه پخوانۍ خبرې هېرې که! بیرته به له سره خپل ژوند پیل کړو.
ورونیک غلې وه.
ورسکي د هغې تر لوخ مټ ګوتې را تاوې کړې په غوسه یې وویل:
ـبدمرغې ښځې، غوږ ونیسه! ورسکي له تا سره خبرې کوي او ته بې
تفاوته یې.
ورونیک په بیړه ځان شاته کړ؛ ورسکي وویل:
ته زما میرمن یې؛ هر څه هېر کړه؛ نه غواړم چې له تا څخه کرکه وکړم.
ورونیک په غریو کې وویل:
ـزه ستا کنیزه نه یم.
ورسکي وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـيې، زه په ټوله نړۍ کې تر ځان لوړ کس نه وينم؛ غواړم چې زما هره خبره ومنې او له ما څخه اطاعت وکړې. ايا دا وړانديز منې؟ ته بايد د زړه له تله له ما سره مينه ولرې. واوره ! زه د نړۍ په هره برخه کې کسان لرم؛ ټول زما تر امر لاندې دي؛ کولای شم چې ان په يوه هېواد حکومت وکړم؛ نو ته هم بايد يواځې زما تر امر لاندې واوسې !

ورونيک غلی وه.

ورسکي خپل سر وخوځاوه:

ـډېر ښه، تا تر اوسه د ورسکي اصلي څېره نه ده لېدلې؛ پښېمانه به شې.

ورسکي د اوبو غوړپ وکړ، ويې ويل:

ـته بايد په ځينو نورو خبرو هم پوه شې. د جګړې په پيل کې د مجبوريت له مخې المان ته تلم، خو مخکې تر هغه مې يو چا ته پيسې ورکړې چې ستا پلار وڅاري، خو په زندان کې يو لوی راز را معلوم شو؛ وروسته وپوهېدم چې ستا پلار هم د هماغه راز په مالومولو پسې دی. کله چې جزېرې ته راغلم، څو زاړه کتابونه مې وموندل؛ ومې لوستل؛ د راز د سپړلو په اړه ډېر څه پکې ليکلي و، خو نتيجه يې ورنه کړه؛که په دې اسرارو پوه شم، نو ورسکي به د يوه فوق العاده قدرت خاوند شي. زه پر يوې نړۍ لاره روان يم؛ تر ما مخکې هم ډېر کسان پر دې لاره تللي دي، خو تراوسه يې دا اسرار نه دي کشف کړې. له ماسره د دې اسرارو په پيدا کولو کې مرسته وکه؛ هغه وخت به د ملکې په څېر ژوند ولرې.

ورسکي غلی شو؛ ناڅاپه يې مېز ته سوک ورکړ؛ ويې ويل:

ـته دوه لارې لرې؛ کومه يوه يې منې؟ ملکه کېدل که پر صليب را ځوړند بدل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورونیک زړه ولړزېد.
ورسکي وویل:
ــیوه د نیکمرغۍ لاره ده او بله هم د ذلت او مرګ؛ راته ووایه کومه یوه
یې منې؟
د ورونیک شونډې وخوځېدې:
ــمرګ
ورسکي وخندل:
ــخو دومره اسانه مرګ هم نه دی.
ورونیک په خبره کې ورولوېده:
ــپه غلامۍ دې یې بلا وګرځي.
ورسکي چیغه کړه !
ــته به له خپل زوی سره یو ځای ومرې !
ورونیک په غریو کې وویل:
ــپروا نه کوي.
ورسکي غلی و ؛ وروسته یې په ټیټ غږ وویل:
ــسمه ده ستا تر مخ به د فرانسوا پر غاړه چاړه راکش کړم، خو بیا هم فکر
وکړه؛ تر اوسه لا وخت لري.
ورونیک خپلې سترګې پټې کړې؛ ورو یې وویل:
ــوروستی ځواب مې همدا دی ! مرګ.
ورسکي چیغه کړه !
ــله ما نه دومره کرکه لرې ! د ځان او یوازیني زوی مرګ غواړې، خو ما ته
نه تسلیمېږې ! ته یوه مغروره او بې حیا ښځه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسکي خپل سر په دواړو لاسونو کې ټینګ ونیو، ویې ویل:
_خدایه! څه اورم! نه پوهېدم چې دا رذیله ښځه به له ما دومره کرکه ولري.
یو ناڅاپه په ګونډو شو؛ په پوست غږ یې وویل:
_هېله کوم، اوس هم راباندې ګرانه یې؛زما وړاندېز ومنه؛ راځه له سره به یو خوشاله ژوند پیل کړو. واوره! په ماشومتوب کې مې په خپل لاس حیوانات تر غاړو نیول؛ لغتې به یې وهلې، خو سا به یې زما په لاسونو کې وختله. ښه مې په زړه دي، مور مې د اتیلا په نوم یادولم. اتیلا یوه تاریخي وحشتناکه څېره ده؛ ده په زرګونو کسان وژلي وو، خو مور مې له دې نوم څخه خوند اخیست؛ وروسته یې د مرګ نوم راباندې کېښود، خو اوس دا اتیلا د خپلې مینې په وړاندې په ګونډو دی. جلاد هېڅ وخت نه ژاړي، خو زه تا ته التماس کوم؛ ما وبښه! ګډ ژوند به پیل کړو؛ زوی به مو هم راسره وي؛ هیڅ غم به ونه لرې.
ورونیک په حیرانۍ ورته کتل:
ورسکي په غریو کې وویل:
_ما ډېر قتلونه کړي دي؛ ویریږم، تا ونه وژنم.
ورونیک کرکې ته کتل.
ورسکي ته یودم غوسه ورغله؛ له خولې یې لاړې بادېدلې، چیغې یې وهلې... د سالون له یوه سره بل سر ته تلو او بېرته راتلو.
ورونیک ته نږدې ودرېد او په غوسه یې د هغې لوڅې اوږې ته ټکان ورکړ. ورونیک په بیړه شاته شوه، خو ونه توانېده چې خپله اوږه د هغه له قوي منګولو خلاصه کړي. ورسکي د لېونیانو په څېر چیغې وهلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ته نه پوهېږې چې د صليب پر سر مړينه څومره درد لري؛ راشه ما ومنه او له مرګ څخه ځان وژغوره.

ورونيک څو ځله خپلې اوږې ته ټکان ورکړ، خو د سړي منګولې ټينګې وې؛ نهيلي شوه؛ غلې کېناسته. يو ناڅاپه يې اوږه وخوځوله؛ دوه ګامه شاته شوه؛ د ميز پر سر د ورسکي ايښې توپانچه يې ور واخيسته او درې پرله پسې ډزې يې وکړې. دوه ګولۍ د ورسکي له غوږه تېرې شوې او دريمه هم پر چت ولګېده.

ورسکي وخندل:

ـ ډېره بېرحمه يې !

مخکې ورغی؛ خلاصې ګوتې يې سره وروستې او ورونيک يې پر ټټر په سوک ووهله. ورونيک پر څوکۍ ورغله او ځای پر ځای کېناسته. ورسکي شا وخوا وکتل؛ پړی يې را واخيست او ښځه يې پر څوکۍ پورې کلکه وتړله. سړه سا يې واخيسته، ويې ويل:

ـ ورسکي د ښځو په لاس نه مري.

وروسته يې يو دم وخندل:

ـ خپله دې مرګ وغوښت. خو مرګ به دې اسانه نه وي؛ تر مړينې مخکې بايد شکنجه شې، وژاړې او په خپله له خدايه مرګ وغواړې، خو لومړی به د خپل ژوند يو راز درته ووايم. تر تا مخکې مې له يوې بلې ښځې سره واده کړی و. له هغې ښځې هم يو زوی لرم؛ اوس مې هماغه زوی ښی مټ دی او زما ټول اوامر پر ځای کوي. راينولډ نومېږي؛ پنځلس کاله عمر لري، خو په توره وهنه کې يې وړې ده؛ هغه بايد ستا له زوی فرانسوا سره د مرګ مبارزه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته يې يو دم وخندل:
ـولې ژاړې ! تن په تن جګړه ده؛ يوه لنډه جګړه.
ورونيک په ژړا کې وويل:
ـفرانسوا هم ستا زوی دی.
ـخو زه له دې جګړې څخه خوند اخلم. ډاډه يم چې راينلوډ بريالی دی؛ غواړم چې ستا زوې (فرانسوا ) په وينو لړلی ووينم.
ورسکې غلی شو؛ شېبه وروسته يې وويل:
ـښه نو ، تر اوسه لا په خپله خبره ټينګه ولاړه يې؟
ـهو ، د تل په څېر کرکه درنه لرم.
ورسکې ټيټ شو؛ د ښځې اوږې ته يې سوک ورکړ؛ چيغه يې کړه !
ـستا سزا له همدې شېبې پيل شوه.
ورونيک يې تر څنګ ونيوله؛ د هغې سر يې له کړکۍ وايست، ويې ويل:
ـوګوره، په ټوله جزيره مې څنګه وحشت راوستی دی! اوس دې نو د خپل زوې فرانسوا د مرګ شاهده و اوسه. هغه به ستا د سترګو په وړاندې ووژل شي. که ته له ما کرکه لرې، نو زما هم پر تا رحم او شفقت نه دی پيرزو. دواړه به د سپيانو په شان له مينځه لاړ شئ.
ورسکې په بيړه د ښځې لاسونه پر کړکۍ پورې وتړل او له کوټې ووت.
د باندې يې چيغه کړه !
ـورسکې خپل غچ اخلي.

## ۴ـ د مرګ پر لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونیک یواځې وه؛ دې په راوتلو رڼو سترګو د خپل پلار جسد ته کتل؛ پلار یې هم خلاصې، سپینې سترګې ورته نیولې وې. ورونیک له مړینې نه ډاریده؛ هغې په دې اووه لس کاله کې داسې خوشالي نه وه لیدلې چې په ژوند پورې خپل زړه وتړي، خو د خپل یواځیني زوی فرانسوا د مرګ له لاسه یې پر زړه وبره تېربده. ټول بدن یې لړزې اخیستی و. اه، د مور پر وړاندې د ځوان زوی وژنه سخته وه، خو وروسته یې په زړه کې تمه پیدا شوه؛ ورسکي که هر څومره بېرحمه وي، څنګه به خپل اولاد وژني!

د څنګ له کوټې یې ټیټ غږونه واورېدل؛ ورونیک پوهېده چې ورسکي له خپلو ملګرو سره خبرې کوي. ورونیک سړه سا واخیسته؛ شونډې یې وخوځېدې:

_اه. فرانسوا، ته چېرته یې!

له کړکۍ څخه نرى باد راته؛ اسمان شین و او د سمندر شنې ارامه اوبه تر لیرې ښکارېدلې.د ورونیک په ذهن کې تېر وختونه ور وګرځېدل؛ یو وخت له کوچني فرانسوا سره د همدې سمندر پر ژۍ ارامه ګرځېدله؛ وړوکی ماشوم به یې په غېږ کې ونیو؛ غومبرې به یې له ډېرو ښکلولو ور سره کړل؛ خو څو شیبې وروسته به یې همدا نازولی زوی په همدې ساحل کې وژل کېده.

د ورونیک پر اننګو تودې اوښکې راماتې شوې. ورو یې وویل:

_اه! ګرانه فرانسوا! مور دې وبخښه! زه ملامته یم؛ که مې ته یواځې نه وای پرېښی، نن به مې دا صحنه نه لیده.

په دهلېز کې ګڼ غږونه واورېدل شول؛ د ورسکي غږ تر ټولو لوړ و، هغه ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـکارونه سم دي؛ تاسو دواړه کيڼ لور ته وګرځئ؛تاسو هم د ځنګله خوا ونيسئ؛ هر يو بايد خپله وظيفه وپيژني.
چو په چوپتيا شوه؛ ورونيک سترګې پټې کړې، د يواځيني زوې د مرګ لېدل سخت و.
د ورسکي غږ يې واورېد:
ـمخکې راشئ؛ هماغه ځای سم دی؛ دلته ودرېږئ!
ورونيک هماغسي خپلې سترګې پټې نيولې وې.
د ورسکي خندا يې واورېده:
ـفرانسوا بايد د خپلې مور د سترګو په وړاندې ووژل شي.
ورونيک په زحمت سترګې پرانيستې؛ له کړکۍ يې د باندې وکتل؛ دوه پټې مخې کسان يو بل ته مخامخ ولاړ وو؛ په لاسونو کې يې تورې ښکارېدلې.
ورونيک چيغه کړه!
ـخدايه! تر دې کوم بل لوی وحشت نشته.
يو بل ته مخامخ ولاړو کسانو سپينې جامې اغوستې وې؛ تر ملاوو يې چرمي کمربندونه را تاو ول؛ يواځې سترګې يې لوڅې وې.په دې دواړو ځوانانو کې د يوه مرګ حتمي و.
ورونيک ته هغه ليک ور په ياد شو چې له خپل ملګري پاتريس بلوال څخه يې د مرستې غوښتنه پکې کړې وه، خو د ارسن لوپن راتګ ته يې کومه هيله نه درلوده؛ دا پوهېده چې د فرانسوا مرګ نږدې دی.
ورسکي په زوره وخندل:
ـښه نو څه ته ماتله ياست؟ شروع يې کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونیک ورسکي ته وکتل؛ هغه مغرور ولاړ و؛ په څېره کې یې د خپګان نښه نه ښکارېدله.
ورسکي چیغه کړه !
ـوخت مه ضایع کوئ !
تورې وجنګېدې. ورونیک خپل بانه سره ور وستل، خو مورني احساس یې دې ته نه پرېښودله چې خپلې سترګې پټې کړي؛ بېرته یې سترګې پرانیستې؛ د یوه ځوان له مټ څخه وینو داري وهلې.
د تورو شرنګا وه؛ دواړو جنګیالیو هڅه کوله چې خپل حریف له پښو وغورزوي؛ یو ځل به یو مخکې شو بل به شاته لاړ، بیا به همدا صحنه د مقابل لوري په ګټه تکرار شوه. سپینې تورې لمر بربښولې.
ورونیک ناڅاپه یو څه ولیدل؛ د یوه جنګیالي په لاس کې دسمال و؛ دا دسمال به فرانسوا ورسره ګرځاوه. د ورونیک له سترګو اوښکې وڅڅېدې. د فرانسوا مټ ټپي و. مور چیغې وهلې ! فرانسوا... فرانسوا...
خو د تورو شرنګا د هغې تر غږه لوړه وه.
فرانسوا ورو ورو کمزوری کېده، ناڅاپه توره ترې ولوېده.
ورسکي چیغه کړه !
ـهله نو، ډارن هلکان مې نه خوښېږي.
فرانسوا تورې ته لاس کړ او په یوه ټوپ یې ځان تر راینلود ورساوه، خو راینلوډ په چټکۍ سره ځپل ځای پرېښود او د فرانسوا توره په هوا کې پاتې شوه. ورونیک د خپل زړه درېا په خپله اورېدله؛ خپل زوی فرانسوا ته یې دعاوې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرانسوا په چټکۍ سره توره پورته کړه؛ چمن لوند و؛ د راینلوډ پښه وښویده او د فرانسوا توره د هغه پر سر راغله، خو مخکې تر دې چې توره د راینلوډ سر ته سیخه شي؛د فرانسوا پر غوږ دروند سوک ولګېد، هلک پر ځمکه ولوید، ورسکي په بیړه د فرانسوا پر ټټر کېناست.

د ورونیک سترګې رڼې راختلې وې. هغې د ورسکي په لاس کې له نیولې خنجر څخه سترګې نه اړولې. د ورسکي لاس په شدت سره ټیټ شو او چاقو تر لاستي پورې د پراته ځوان (فرانسوا) په اوږه کې ننوت.

ورونیک سترګې پټې کړې؛ پر لاسونو یې زور راووست، خو پرې ټینګ و.

له خندا ډک نږدې غږ یې واورېد:

_د فرانسوا مرګ دې په خپلو سترګو ولید، خو ته تر اوسه لا ژوندی یې او زړه دې نه دی دربدلی!

ورونیک سترګې پرانیستې. ورسکي په سالون کې ولاړ و.

ورونیک تو کړل، لاړې د ورسکي پر مخ ولګېدې.

دروازه وټکېده او یو په عمر پوخ سړی کوټې ته راننوت. ورسکي په غوسه وویل:

_او تو څه خبره ده؟

د اوتو ژبه بنده شوه:

_په، په، په جزیره کې یو ناشناخته سړی لیدل شوی دی.

ورسکي پر خپل مخ لستونی تېر کړ، ویې خندل:

_لکه چې بیا نشه یې، چتیات وایې!

_نه صیب! ما په خپله ولید؛ کونورا هم شاهد دی؛ هغه هم ماالته و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورسکي د تندي ګونځې ژورې شوې:
ـڅه ډول سړی و؟
اوتو وويل:
ـپه ځنګله کې مو وليد؛ له تنې قوي مالومېده؛ کله چې يې زموږ غږ واورېد منډه يې واخيسته او په ګڼو ونو کې ورک شو.
ورونيک له ځان سره وويل:
ـډاډه يم، دا ارسن لوپن دی.
ورسکي وويل:
ـونه پوهېدی چې چېرته لاړ؟
ـنه صيب! شايد په کومه مخروبه کې پټ وي.
ورسکي يوه شېبه غلی و؛ وروسته يې وويل:
ـښه نو، له دې وروسته بايد ډېر احتياط وکړو.
اوتو پـه وېره وويل:
ـشايد يو نفر نه وي.
ورسکي په غوسه وويل:
ـورسکي ډار نه پيژني؛ که لس نفره هم وي، څه نه شي کولای. ښه ، دا ووايه چې کونورا چېرته دی؟
ـله پله سره و؛ د نوي راغلي سړي د پښو پلونه يې تعقيبول.
ورسکي وخندل:
ـکونورا تکړه سړی دی؛ د دې جزېرې لويشت لويشت ځمکه ور مالومه ده؛ نه شي ترې خلاصېدای.
وروسته يې ورونيک ته وکتل؛ په ملنډو يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـښه نو په پای کې یو څوک درپسې راغی، خو ډېر ناوخته.
د اوتو غږ یې واورېد:
ـدا ښځه څوک ده؟
ورسکي په بېړه مخ ور واړاوه:
ـپه تا پورې اړه نه لري!
ـخو موږ سره ملګري یو، باید پوه شم.
ورسکي چیغه کړه!
ـاحمقه! هېر دې شول، ته او کونورا ابدي بندیان وئ، خو ما له زندانه په تېښته کې مرسته درسره وکړه؛ کار مې درکړ او تاسو هم ومنله چې په پټو سترګو به زما خدمت کوئ؛ اوس په کوم جرات له خپل رییس څخه پوښتنه کوې؟ هه!
د اوتو سر وځړېد.
ورسکي د ورونیک لاسونه خلاص کړل؛ هغه یې تر مټ ونیوله او په کشولو کشولو یې تر بلې کوټې بوتله.
وخت تېر شو؛ ورونیک یوائې د فرانسوا په اړه فکر کاوه. زړه ته یې لوېدلې وه چې دا به هم په سخت مرګ مري.
شپه شوه؛ ورسکي راغی او د ورونیک سترګې یې ور وتړلې.
ورسکي په لوړ غږ وویل:
ـاوتو!
دروازه خلاصه شوه؛ اوتو په وره کې ودرېد. په وېره یې وویل:
ـرییس صاحب! لا هم په خپل تصمیم ولاړ یاست؟
ـهو، خو داسې احمقانه سوالونه مې نه خوښېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوتو غلی شو.

ورسکي وویل:

_ګاډی دي راوسته؟

_هو صیب.

ورسکي او اوتو په ګډه د ورونیک پښې او لاسونه ور وتړل؛ له ځمکې یې پورته کړه او په ګاډی کې یې پرېیسته. کونورا هم راورسید او له اوتو سره یې په ګډه ګاډی ته حرکت ورکړ. باران تېز و ؛ ګاډی په ختو او چکړو کې په زحمت مخکې تله.

ورسکي شاته وکتل؛ په غوسه یې وویل:

_دا څه دي؟

په تیاره کې یې د اوتو غږ واورېد:

_صیب ! د فرانسوا وفاداره سپی په موږ پسې روان دی.

ورسکي د سپي تر ګیډې پښه لاندې کړه؛ سپی یو ګز هوا ته پورته شو ؛ پر ځمکه ولوېد ؛ کوړنج یې وهل ؛ په پښو ودرېد او بېرته په دوی پسې روان شو.

پر لوړو غونډیو واوره اورېدله او په واوره کې د ګاډی تګ قوي متې غوښتې. وخت ووت؛ یوه باغ ته ورسېدل؛ دا باغ د ماکونوک د چمن په نوم یادېده؛ ورسکي امر وکړ چې همالته سا سمه کړي. ټول ودرېدل؛ ورسکي وویل:

_اوتو، شراب شته !

اوتو وخندل:

_اوتو له شرابو پرته ژوند نه شي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوږده بالاپوښ له جېبه يې د شرابو بوتل را وايست. ورسکي دوه درې غوړپه شراب وښبل؛ بوتل يې کونورا ته ونيو:

ـ وڅښه، د يخني له پاره ښه دي.

اوتو وويل:

ـ په جزيره کې ناشناخته سړی مې له ذهنه نه وځي.

ورسکي وخندل:

ـ هيڅ هم نه شي کولای.

اوتو وويل:

ـ خو که ډېر وي، بيا !

ـ مه وېرېږه، خطر يوازې د سيند لخوا دی، ځکه د ځنګله لاره بنده ده؛ پلونه مې هم په بمونو والوزول؛ يوازې يوه لاره شته، د ولاندوار لار، خو دا لار هم په واورو پوښلې؛ درې ورځې مزل غواړي؛ فکر نه کوم چې څوک دې ژوندی ترې تېر شي.

اوتو وويل:

ـ يوه پوښتنه کولای شم؟

ورسکي وخندل:

ـ اوس خو دې هم خوله نه ده تړلې، له ډېرو پوښتنو دې زړه را وخوړ.

اوتو په وېره وويل:

ـ د ګنج په اړه دې څه تصميم نيولی دی؟

ورسکي له کونورا څخه د شرابو بوتل ور واخيست، غوړپ يې ترې وکړ، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـاوتو، د تیرېي د معجزې د ګنج د نوم په اورېدو ناراحته کېږم؛ ډېره خواري مو تېره کړه، خو ډاډه اوسه، نه غواړم چې د ګنج له تر لاسه کولو پرته دا جزیره پرېږدم؛ زه باید د اووه لسو کالونو زحمت نتیجه ووینم.

ورسکي غلی شو؛ تش بوتل یې پر ځمکه واچاوه؛ ویې ویل:

ـځئ، ناوخته دی.

ګاډی حرکت وکړ؛ واوره په شدت سره اورېدله؛ د ونو په تورو څانګو کې تېز باد ننوتی و؛ یوې، بلې خواته یې سره اړولې. پاو وروسته په ګڼو ونو کې ودرېدل. ورسکي تناب ور واخیست، یوې لوڅې ونې ته چې څانګې یې مخکې قطع شوې وې، ور وخوت، په خندا کې یې وویل:

ـورونیک باید همدلته پر صلیب راوځړوو.

یو ناڅاپه غلی شو؛ غوږ یې ونیو؛ ویې ویل:

ـهلکانو! د شپیلکي غږ مو واورېد؟

کونورا له لاندې ور غږ کړل:

ـهو، شاید زموږ خپل کسان وي.

اوتو وویل:

ـغوږ ونیسئ! پر ځمکه د ځنځیر د کشولو غږ دی.

ورسکي له پورته لاسي بټی ور واچوله؛ په حیرانۍ یې وویل:

ـاوتو سم وایي، هلته د ونو په مینځ کې یو څه وخوځېدل.

ورسکي بټۍ مړه کړه؛ ورو یې وویل:

په لوړ غږ مه غږېږئ!

ورسکي له ونې کښته شو؛ ویې ویل:

ـاوتو! ته همدلته پاتې شه؛ زه او کونورا به شاوخوا سیمه وګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسکي پر ورونيک ور تېيت شو ؛ د هغې ساره غوږ ته يې خوله ور نږدې کړه؛ په ملنډو يې وويل:

_ملګري دي ډېر ناوخته را ورسېدل.

دوارو حرکت وکړ؛ يو ځای يې يو سپين جسم وليد ؛ مخکې ورغلل، خو سپين جسم هم په حرکت کې و ؛ ورسکي پوه شو چې انسان دی.

ورسکي او کونورا منډه ور واخيسته، خو د سپين جسم حرکت هم تېز شو. ورسکي په غوسه وويل:

_دا احمق ملنډې راباندې وهي.

دوی په منډه تر غونډۍ کښته شول؛ د پريوره مسطح ځمکو ته ورسېدل؛ ورسکي ناڅاپه ودرېد ؛ ويې ويل:

_همدلته دی.

ورسکي بې حرکته ولاړ سپين جسم ته توپانچه ونيوله. چيغه يې کړه !

_حرکت ونه کړې !

ورسکي کونورا ته اشاره وکړه؛ د کونورا د توپانچې له ميل څخه دوو وتليو ګوليو د ځنګله چوپتيا ماته کړه.

ورسکي وخندل:

_بس ! کار يې خلاص شو.

خو سپين جسم ونه لويد. ورسکي ور نږدې شو ؛ په ونه پورې يوائې سپين کميس را ځوړند و.

ورسکي وويل !

_دا احمق څه شو !

کونورا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـهرڅوک چې دی، په چالاکۍ کې يې تر موږ وړې ده.
ورسکي يو ناڅاپه چيغه کړه !
ـهله، ژر، منډه واخله؛ دې سړي په چل او دوکه تر دې ځايه راوستو؛
ډاډه يم چې خپله به د ورونيک ژغورلو ته ورغلی وي.
دواړو منډه کړه، خو کله چې لوځې ونې ته ورسېدل، اوتو يې په خپل
ځای ولاړ وليد. ورسکي په بيړه وويل:
ـورونيک د ځان د خلاصولو هڅه ونه کړه؟
اوتو ځواب ورکړ:
ولې نه، غوښتل يې چې وتښتي، خو د تيښتې پر ځای يې يوه مرمۍ
وخوړه.
ورسکي په تياره کې د ښځې پر تښتر لاس کېښود:
خير، زړه يې درېږي؛ تر اوسه لا ژوندۍ ده، خو دا بايد خپل مرګ په
خپلو سترګو ووينې. راځئ ! وخت کم دی؛ ورونيک بايد پر صليب
راوځړوو.

۵ـ زما خواته راشئ !
په لنډ وخت کې لوځه ونه د صليب په شکل جوړه شوه، ورسکي وويل:
ـملګرو، په تاسو دواړو کې يو بايد ونې ته ور وخيژي؛ د پړې دواړه
څوکې د صليب له اړخونو راتېرې کړي او لاندې يې راوغورځوي، هله
نو، کونورا ! ته ونې ته په ختلو کې چټک يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب یې وانه ورېد.
ورسکي وویل:
ـدا کار باید په څو دقیقو کې بشپړ کړو.
کونورا غلی و.
ورسکي وویل:
ـاوتو یا کونورا ، په تاسو دواړو کې باید یو ونې ته ور وخېژي.
بیا یې هم څه وانه ورېدل:
ورسکي چیغه کړه !
ـاحمقانو ، زما خبره نه اورئ ! په لومړی ورځ مې غوړونه در خلاص کړي وو چې له مانه به په پټو سترګو اطاعت کوئ.
کونورا وویل:
ـموږ ستا هر امر منلی دی، خو اوس باید خبره سپینه شي؛ په ګنج کې به زموږ برخه څومره وي؟
ورسکي وخندل:
ـپه خپل رییس دومره بې باوره یاست !
د اوتو او کونورا سرونه وځړېدل.
ورسکي وویل:
ـسمه ده، د معجزې تیږه یې زما ، خو تاسو دواړو ته به دوه دوه سوه زره فرانکه درکړم.
اوتو وویل:
ـموږ هر خطر ته غاړه کېښوده، خو اوس باید سپین وغږېږو ! موږ د معجزې په تیږه کې هم حق غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسکي وويل:
ـدا خبرې به بل وخت ته پرېږدو؛ اوس تر دې مهم کارونه لرو. بس، د ګنج تر لاسه کولو ته لنډ وخت پاتې دی؛ څو دقیقې یا هم لږ ډېر، یواځې څو ساعتونه.
اوتو وويل:
ـله کومه دومره ډاډه يې؟
ـاې احمقه! رييس دې خام کار نه کوي؛ ما دا دومره قتلونه بېځایه نه دې کړي؛ پلان لرم. ډېر ژر به د ګنج دروازې درته پرانيستل شي.
اوتو وويل:
ـهماغه دوزخي دروازې چې ماکونوک يې په اړه راته ويلي !
ـزړه دې هر نوم چې ورکوې، خو دا دروازې موږ تر ګنجه رسوي.
ورسکي غلی شو؛ پورته يې وکتل؛ لا يې هم پر مخ د واورې ساړه بخرکي لګېدل؛ ويې ويل:
ـماکونوک د دې جزېرې يو پخوانی کب نيونکی و؛ ده د ګنج په اړه له خپل پلار او نيکه ډېرې خبرې اورېدلې وې. کنټ هرژمون په دې جزيره کې کلونه تېر کړل او د ماکونوک په مرسته يې د ګنج ځينو اسرارو ته لار موندلې وه، خو ما کنټ هرژمون وواژه؛ هغه ته مې دا موقع ورنه کړه چې تر ګنجه ورسيږي؛ له ماکونوک نه مې هم په زور ځيني خبرې تر لاسه کړې؛ وروسته مې ککرۍ ور سورې کړه. زه يواځينی کس يم چې ګنج ته د رسيدو پر اسرارو پوهېږم. نو مه وېرېږئ! تاسو هر يو به د دوه سوه زرو فرانکو خاوندان شی.
اوتو وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ دو که خو به نه راکوې؟

ورسکي چيغه کړه !

ـ ته خپل رييس ته بې احترامي کوې !

اوتو وويل:

ـ خو تا ژمنه کړې وه چې که ګنج پيدا شو نو د ټولو تر مينځ به په مساوي توګه وېشل کېږي.

ورسکي په نرمه ژبه وويل:

ـ سمه ده، اوس هم په خپله ژمنه ولاړ يم.

اوتو لاس ور وغځاوه:

ـ نو زموږ حق راکړه !

ورسکي وخندل:

ـ احمقه ! تر اوسه خو لا ګنج نه دی پيدا شوی.

ته دروغ وايې، کله چې دې د ارشينان خويندې پر صليب راځړولې، په هغوی کې دې د يوې له جيبه ډکه کڅوړه پيسې راوايستې، خو ځان دې غلی ونيو.

ورسکي وويل:

ـ دا واقعيت نه لري.

هوتو په خبره کې ور ولوېد:

ـ تر اوسه مو ستا هره خبره په ټپو سترګو منله، خو موږ هم انسانان يو؛ پيسو ته ضرورت لرو؛ په هغه کڅوړه کې سلګونه زره فرانکه ول، سم نه وايم؟

ورسکي وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـسم وايې ! خو تر اوسه مې نه دې شمېرلې !
اوتو وويل:
ـښه نو ، زموږ برخه ترې را بېله کړه.
ـکه داسې ونه کړم نو بيا ؟
ـخبره جنجال ته مه بيايه !
ورسکي وخندل:
ـورسکي داسې څوک نه دی چې له دوو نفرو وډار شي.
اوتو وويل:
ـخو موږ درې نفره يو.
ورسکي په حيرانۍ وپوښتل:
ـښه نو ، درېيم څوک دی؟
ـهغه د اسپانيول يو اوسېدونکی ځوان دی، هغه څوک چې لږ مخکې يې سپينې جامې اغوستې وې او تا ډزې ورباندې وکړې.
ورسکي چيغه کړه !
ـنو تاسو له ما سره خيانت وکړ !
غلی شو، دی پوهېده چې خبره خرابيږي، ځکه يې جيب ته لاس کړ؛ کڅوړه يې را وايسته او پر ځمکه يې وغورزوله. ويې ويل:
ـواخلئ، ته او کونورا يې سره نيمې کړئ !
اوتو کڅوړه ورپورته کړه، ويې ويل:
ـمننه، دې پيسو په ما او کونورا پورې اړه لرله.
ورسکي په پوست غږ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـخو دا ځای د دې خبرو نه و. خیر، له دې وروسته مو نه خپه کوم؛ راځی، تیاره ده، کار تمام کړئ.
تولو په ګډه په ګاډۍ کې پرته ښځه ور پورته کړه او پر صلیب یې را وځړوله.
ورسکي وویل:
ـپه تاریخي کتیبو کې لیکل شوي، د ګنج دروازې هغه وخت پرانستل کېږي چې په بې پانو ونو باندې څلور انسانان پر صلیبونو را ځوړند شي، اوس څلور پوره شول.
نا څاپه چاودنې ته ورته لوړ غږ پورته شو؛ ځمکه ولړزېده او د ګراندن د سړک یوه برخه سپینې رڼا ونیوله.
ورسکي او ملګري یې بې حرکته ولاړ وو؛ دوی تور لوګي ته کتل چې د اور پر سر راګرځېده.
کونورا وویل:
ـوګورئ! د ګراندش د سیمې ونو اور اخیستی!
ورسکي په خوشالۍ وویل:
ـد ګراندیش د سیمې اور اخیستنه د معجزې د تیږې د پیدا کېدو لومړۍ نښه ده.
ورسکي لاسي بتۍ بله کړه؛ درې سره په بیړه لاندې لاړل، خو ډېر ژر ځای پر ځای ودرېدل؛ ځمکه چاودلې وه او رڼا له هماغه ځایه راوتله.
ورسکي وویل:
ـپه ما پسې راځئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې سره تر ونو تېر شول؛ يو ځای ودرېدل؛ په ځمکه کې سمڅې پرې شوې وې؛ رڼا له همدې سمڅو راوتله.
ورسکي وويل:
_بايد يوې سمڅې ته ورکښته شو !
خو کونورا حرکت ونه کړ.
ورسکي وويل:
_احمقه ! چانس له لاسه مه ورکوه !
کونورا په خبره کې ورولوېد:
_ماکونوک د دې غارونو په اړه راته ويلي و چې دوزخ همدلته دی او که څوک دې غارونو ته ورکښته شي، اوراخلي.
ورسکي وويل:
_ښه نو، اوس چې په شپه کې وېرېږې، دا کار به سبا ته پرېږدو. اوتو ! ته پريورې ته لاړ شه؛ وږي يو ؛ خواړه او شراب راوړه؛ هو رښتيا ، تبر دې هم هېر نه شي.
اوتو په تياره کې ورک شو ؛ خو کله چې بېرته راغی، باران زور اخيستی و.
شپه يې د ماکونوک په باغ کې تېره کړه؛ سهار وخته بېرته راغلل؛د يوې سمڅې خوله يې پر تبر ازاده کړه. سمڅې ته تنګې ډبريني زينې کښته شوې وې. درې سره لاندې لاړل؛ څومره چې مخکې تلل تياره ډېرېدله؛ وروسته پراخ ځای ته ورسېدل؛ ورسکي بتۍ ولګوله؛ يودم شاته لاړ؛ غار د انسانانو له اسکليټونو ډک و.
ورسکي وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـشل پېړۍ مخکې دلته دولس کسان اوسېدل؛ دا د هغو دولسو کسانو هډوکي دي؛ دوی د پاچا مقبره ساتله؛ ورسکي له شلو پېړیو وروسته لومړنی انسان دی چې دلته راځي.
ورسکي غلی شو؛ د خپل تندي خولې يې پاکې کړې، ويې ويل:
ـپه زندان کې يوه تاريخ پوه بندي دا معلومات راکړي و چې دولسو نفرو د پاچا له مقبرې څخه ساتنه کوله. اوس مو همدا ځای پيدا کړ؛ ډاډه يم، ګنج هم همدلته دی.
ورسکي څو ګامه واخيستل؛ ډبرينه دروازه يې خلاصه کړه؛ په کوټه کې هيڅ هم نه و؛ دوهمې کوټې ته ورغی؛ بتۍ يې واچوله؛ کوټه تشه وه، يوې دروازې ته يې پام ور واوښت؛ له دروازې يې د غنو ځالې لرې کړې. د مثلث په شکل يوه درې کونجه لويه کوټه يې سترګو ته ودرېده. د کوټې له چت څخه سپينه نرۍ رڼا را لوېدلې وه. ورسکي ځير شو، چت سوری و، رڼا له هماغه ځايه راتله.
ورسکي شاوخوا وکتل؛ يو ځای ورې تيږې راټولې وې؛ د تيږو تر څنګ فلزي لکنه ښکارېدله؛ لکنه تر نيمايي پورې په ځمکه کې ننوتې وه.
ورسکي ور نږدې شو؛ پر لکنې د خاورې يوه ذره هم نه وه ناسته؛ سپينه رڼا ترې پورته کېدله.
ورسکي لاس ور وغځاوه؛ د کونورا چيغې يې ګوتې خلاصې پرېښودلې.
ـمه!
د ورسکي رنګ والوت:
ـولې؟
ـماکونوک راته ويلي و چې که څوک دې لکنې ته لاس ور وړي نو سوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسکي وخندل، لکنه يې له ځمکې را وايسته. لکنه له زرو جوړه وه، خو په سر کې يې د مار شکل ښکارېده چې له سرپو جوړ شوی و.
ورسکي په ځير لکنې ته وکتل؛ قيمتي غميو يې کمزورې رڼا کوله...
ورسکي وويل:
ـ دا خو به هماغه د معجزې تيږه نه وي؟
ورسکي متوجه شو چې د لکنې سر تاوېږي، خلاصه يې کړه، په مينځ کې يې تيږه وه. ورسکي ډبره را وايسته؛ ډېرې سره ځلا کوله؛ ورسکي په خوشالۍ چيغه کړه !
ـ دا هماغه د معجزې تيږه ده.
کونورا په بيړه وويل:
ـ اورې؟
ورسکي په حيرانۍ ورته وکتل.
کونورا وويل:
ـ غوږ ونيسه.
يو غږ راته؛ دا غږ به کله لوړ او کله هم ټيټ شو. غږ تر ډېره د انسان زګيروي ته ورته و، خو کله کله به داسې اواز پورته شو لکه يو څوک چې په خوب کې خرهاری کوي.
ورسکي په بيړه وويل:
ـ دا غږ د ځنګ له کوټې راځي.
اوتو د ډېرينو مجسمو خواته اشاره وکړه؛ ورسکي د لاسي بتۍ رڼا ور واچوله؛ تر مجسمو ورهاخوا نرۍ لاره پرې وه، مخکې لاړ او زورزوره چيغه يې له خولې راووته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ــ هلته يو انسان دی، هلئ، دې خوا راشئ!
اوتو او کونورا منډه ور واخيسته؛ د لارې د پای په لويه کوټه کې يو ببر سری بوډا پروت و. ورسکي ور نږدې شو؛ بوډا خيرن ښکارېده؛ ټول مخ يې ژورو ګونځو نيولی وو.
ورسکي کېناست؛ بوډا ويده و.
ورسکي ورو وويل:
ــ معجزې پيل شوې؛ دا بوډا بايد د دې ځای کشيش وي.
اوتو وويل:
ــ زه خو په هيڅ هم نه پوهېږم؛ دلته څه روان دي!
ورسکي وخندل:
ــ تر اوسه خو هر څه سم دي. زنداني ملګري مې دې بوډا ته هم اشاره کړې وه.
کونورا په خبره کې ور ولوېد:
ــ خو زه داسې فکر نه کوم، دا به هماغه سړی وي چې موږ يې ښارلو.
اوتو وويل:
ــ چټيات مه وايه. خو زه يوه شي ته حيران يم؛ دې کمزورې بوډا به څنګه ځان تر دې ځايه را رسولی وي؟
ورسکي ټيټ شو؛ د بوډا لاس يې ونيو؛ د هغه غوږ ته يې خوله ور نږدې کړه؛ ورو يې وويل:
ــ زه يم.
د بوډا شونډې ورپېدې؛ څو نامفهومه تورې يې له خولې راووتل، بېرته بېسده پرېووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه شېبه چوپه چوپتيا وه؛ وروسته بوډا وويل:
راغلل، راغلل...

۲ـ ورسکي ماتې خوري:

ورسکي کونورا ته وکتل:
ـ د هغه په خبرو پوه شوې؟
کونورا د ( نه ) په بڼه سر وخوځاوه. ورسکي د بوډا پر اوږه لاس کېښود ، ټکان يې ورکړ؛ بوډا په پټو سترګو وويل:
ـ ارامه مې پرېږدئ !
ورسکي د بوډا سترګو ته د بتۍ رڼا سيخه کړه؛ بوډا په حيرانۍ وويل:
ـ له ما څه غواړئ؟
ورسکي د بتۍ رڼا د هغه له سترګو ليرې کړه؛بوډا خپلې سترګې وموښلې؛ ورسکي ته يې وکتل؛ له وچو شونډو يې کمزورې خندا راووته !
ـ اه ! ورسکي، دا ته يې؟ تر اوسه لا نه يې زوړ شوی.
د ورسکي پر زړه لړزه راغله؛ دی دې ته حيران و چې بوډا يې له کومه پېژني.
ورسکي په بېړه وويل:
ـ ته څوک يې؟ دلته څه کوې؟
بوډا په کمزوري غږ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـپه دې پوښتنه دې خواشينی شوم؛ ته بايد ما وپيژنې !
ورسکي په حيرانۍ ورته کتل:
بوډا وويل:
ـپر ذهن دې فشار راوړه، زه د والدا پلار يم، هغه والدا چې ستا ميرمن وه، خو په ډېره ناځوانۍ سره دې پرېښوده.
ورسکي په خبره کې ور ولوېد:
ـخو ما تر اوسه نه يې ليدلی !
ـسمه ده، نه دې يم ليدلی؛ خو زه ستا په اړه په ډېر څه پوهېږم؛ ته په زندان کې وې چې زه د معجزې د تيږې د ساتلو له پاره دې جزېرې ته راغلم؛ پوهېدم چې ته به يوه ورځ دلته راځې.
ورسکي حيرانې سترګې ورته نيولې وې؛ دی د بوډا په خبرو نه پوهېده.
کونورا په بيړه وويل:
ـپه وښو کې يې توپانچه پټه کړې ده ؛ ميل يې ښکاري؛ دا بوډا زموږ دښمن دی؛بايد ووژل شي.
ورسکي فکر په مخه کړ؛ اوتو ته يې وکتل، ويې ويل:
ـاوتو، ته څه پکې وايې؟
اوتو بوډا ته مخ ورواړاوه، ويې ويل:
ـنوم دې څه دی؟
ـزوږډرويد.
ورسکي وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د کشیشانو یوه ډله ده چې پر ځانونو یې د ډروید نوم ایښی؛ هغوی پیژنم؛ غلي او ګوښه ګیره خلک دي؛ یوا ځیتوب غواړي؛ دوی د دنیا له ټولو خوښیو محروم دي.

بوډا په زحمت له وښو پورته شو؛ کېناست، ویې ویل:

ـزه ستا سو د ملنډو نه یم. بالعکس، دا تاسو یاست چې ماته اړتیا لرئ؛ وګورئ، نڅا مې هم زده ده.

بوډا په زحمت ولاړ شو د نڅا په ډول یې لاسونه پښې ووهلې.

ورسکي او د هغه ملګرو په حیرانۍ ورته کتل.

دې نڅا ته پخوانیو رومیانو د مار نڅا ویله؛ نڅاګر به په نڅا کې یو ځل مخکې لاړ بیا شاته، سینه به یې راوا یسته او پر خپل ځای به په تېزۍ سره راوګرځېد.

یوډا په نڅا کې وویل:

ـتاسو نه پوهېږئ! زه دوه زره کاله عمر لرم؛ څو سوه کاله مخکې مې پاچا ژول سزار ته هم همدا نڅا وکړه؛ چکچکې یې وهلې او زما له نڅا یې خوند اخیست.

بوډا خپله نڅا بدله کړه؛ لاسونه پښې یې پورته پورته وغورځولې، ویې ویل:

ـدا د دبرشو مړیو د جزبرې نڅا ده؛ دا هم د څلورو صلیبونو نڅا.

یو ناڅاپه یې وخندل؛د ورسکي تر مخ ودرېد؛ ویې ویل:

ـوبښئ! بیځایه حرکات مې تر سره کړل، خو اوس د جدي خبرو وار دی.

ګرانه، زما ماموریت دا دی چې تا ته د معجزې تیږه در وسپارم.

ورسکي په حیرانۍ ور ته کتل. وروسته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ته ولې دا کار کوې؟

بوډا په زوره وخندل:

ـ تا د معجزې د تیرې د لاسته راوړلو له پاره خلک ووژل؛ جزیره دې له وحشته ډکه کړه او اوس چې یو احمق بوډا د معجزې تیره در سپاري، خوشاله نه یې؟

بوډا غلی شو، په ځیر یې ورسکي ته وکتل، ویې ویل:

ـ ورسکې، زه د تېرې شپې سړی یم، هغه څوک چې سپین کالي یې اغوستي و او تاسو یې پر کمیس ډزې وکړې، دا زه وم چې د ځنګل د یوې برخې ونو ته مې اورور واچاوه، اوس هم ما نه پیژنې؟

د ورسکي زړه ولړزېد، اوتو او ماکونورا یو ګام شاته شول.

ورسکي خپل زړه غټ ونیو، ویې خندل:

ـ نو ته فکر کوې چې ورسکي به له تا وویرېږي؟

بوډا وویل:

ـ نه، نیت مې صاف دی؛ غواړم چې د معجزې تیره تاسو ته تسلیم کړم.

ـ ولې؟

په دې پسې مه ګرځه، خو یوه بله خبره واوره! دا تیره یو وخت د پاچا له جنازې سره دې ځای ته راوړل شوه؛ سل کاله یې وساتله، خو وروسته د بوهم د پاچاهي سلسله کمزورې شوه او د تیرې محافظین هم وتښتېدل. دا ځای تر ډېره همداسې پاتې و، خو وروسته بیا ساتونکي ورته وټاکل شول، هدف یې د بوهم د پاچا د قبر ساتنه نه وه، دوی پوه شوي و چې په دې سیمه کې د معجزې تیره پرته ده او وېرېدل چې دا ګنج د غلو لاس ته ورنه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې محافظينو کې يو هم زه وم؛ خبر شوم چې تاسو د دې ګنج په موندلو پسې جزېرې ته راغلي ياست؛ په دې هم پوهېږم چې د ورونيک پلار دې څنګه وواژه، ان د ورونيک د صليب د ځړولو پېښه مې هم په خپلو سترګو ولېده.

ورسکي وخندل:

_ښه نو، چې دومره مهربانه يې او له دې ټولو پېښو سره سره بيا هم مرسته راسره کوې، نو دا راته ووايه چې د معجزې تيږه چېرته ده، ها؟

ورسکي هغه تيږه د بوډا سترګو ته ونيوله چې د لکڼې له مينځه يې راکښلې وه.

بوډا وخندل:

_نه، دا تيږه ما په خپله په لکڼه کې کېښوده، ورته وګوره، مينځ يې مات دی.

ورسکي حيران و، خو ضرورت يې درلود چې د بوډا خبرې واورې.

بوډا ووېل:

_د معجزې د تيږې ځای يوازې ماته معلوم دی.

ورسکي چيغه کړه!

_زه په تا څنګه باور وکړم؟

بوډا وخندل:

_بله لاره نه لرې. خو زه به يو بل راز هم درته ووايم، په زندان کې درسره وم، له دې هم خبر يم چې ستا پلار او مور پر تا کوم نوم ايښی و. ستا کورنی نوم يادوم، ورسکي نه.

د ورسکي پښې ولړزېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوډا د ورسکي غوږ ته خوله ورنږدې کړه؛ شونډې یې وخوځېدې؛
ورسکي لکه مار چیچلی انسان ټوپ کړل؛ په زوره یې وویل:
ـ ته شیطان یې، شیطان، که نه نو له داسې رازونو څنګه خبرېدې !
بوډا وخندل:
ـ ښه نو، اوس په ما باور کولای شې؟
ـ هو، له دې وروسته سره ملګرې یو، خو د معجزې تیږه چېرته ده؟
کونورا غوښتل چې څه ووایي، خو ورسکي خپلې وسلې ته اشاره وکړه،
هغه یې پوه کړ چې بوډا څه نه شي کولای.
ټول له اوږده دهلېزه تېر شول؛ د لاسي بتۍ رڼا په دېوال کې یوه کوچیني
سوري ته سیخه شوه. ورسکي د ډروید ( بوډا ) په غوښتنه ګونډې
ووهلې، لاس یې سوري ته ور ننه ایست؛ ناڅاپه ټول د دېوال شاته لاړ، یوه
لویه کوټه ښکاره شوه؛ ډروید وویل:
ـ د معجزې تیږه همدلته ده.
شېبه وروسته ټول په کوټه کې ول.
په کوټه کې نمجن بوی ته، ځای ځای د قبرونو زړې شناختې ولاړې وې.
ډروید وویل:
ـ پوښتنه مو ونه کړه چې تر ځمکې لاندې دا کوټه ولې روښانه ده !
ټول غلي وو.
بوډا وویل:
ـ دا ځای له پورتنۍ کوټې څخه رڼا اخلي؛ وګوره، د ډبرینو مجسمو له
اړخونو رڼاوې راوتلې دي؛ بله خبره ! د معجزې په تیږه کې هم دا خاصیت
پروت دی چې کوټه روښانه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو دم يې وخندل:

ـخو د معجزې تيږه په دربيمه کوټه کې ده.

ورسکي وويل:

ـپه موږ ملنډې وهې !

ـنه، دا تيږه په زيرزميني کې موندلی شې. د دی تيږې يو ارزښت په دې کې دی چې د ګروپ په څير رڼا خپروي. هو رښتيا ، يوه بله خبره ! دا تيږه يو چا ته ژوند او مرګ، دواړه ورکولای شي.

ـڅنګه؟

ـد والدا نوم به دې نه وي هېر، هغه هم يو وخت زما په شان د دې تيږې ساتونکې وه.

د ورسکي زړه ولړزېد:

ـوالدا اوس چېرته ده؟

ـدلته ، د همدې تيږې لاندې ويده ده.

د ورسکي سترګې رډې راوختې:

ـچټياټ مه وايه !

بوډا وويل:

ـزما په خبرو باور وکړه، والدا له څو پېړيو راهيسې د داسې چا په انتظار ده چې دلته راشي او ورته ووايي چې ورباندې ګرانه ده؛ هغه وخت به د معجزې تيږه ورکړي.

ورسکي ته احساس ور لوېدلی و چې دا سړی ملنډې ورباندې وهي، خو د هغه ځينې خبرې رښتيا وې؛ دی بايد په ځينو رازونو پوه شوی وای.

ډروید وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـدا میرمن  په ښکلا کې جوړه نه لري؛ که دې ولیده،  په یوه نظر به زړه وربانديې وبایلې؛ دا ستا په خیر یوه ګنهګار  انسان ته ماتله ده.
ورسکي پوه شو چې له خطر سره مخامخ دی، خو بیا یې هم زړه غټ ونیو.
ډروید وویل:
ـته ماشوم وې، هغه وخت دې د مور په ګوته یوه ګرانبیه ګوتمۍ وه؛ دې ګوتمۍ دریې قیمتي ډبرې درلودې. ربښتیا نه وایم؟
د ورسکي د تنديې ګونځې سره ورغلې:
ـخو دا زموږ کورنی راز دی، ته له کومه پوهېږې؟
ډروید وخندل:
ـکه اوس هغه ګوتمۍ د والدا په ګوته وي، نو دا باور کوې چې والدا به د معجزې تیږه تاته درسپاري؟
ورسکي چیغه کړه !
ـخدایه ! د دې سړي له چټیاټو نور ستړی شوم.
ډروید پر غولي پرته هواره  تیږه وښوروله؛ لندې زبښي وې؛ ورسکي د هغه په امر ورکښته شو؛ شېبه ورسته د ورسکي وحشتناکه چیغه پورته راوخته:
ـربښتیا دي، ګوتمۍ د هغې په ګوته ده.
اوتو او ماکونو یو بل ته په وېره وکتل.
ورسکي په یوه اوږده دهلېز کې ولاړ و؛ یوې خواته یوه ښځه پرته وه؛ حرکت یې نه درلود؛ پر ګوته یې د ورسکي د مور ګوتمۍ ښکارېدله.
له پورته یې د ډروید غږ واورېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـد هغې لاس په خپل لاس کې ونیسه؛ دا باید یوه شي چې مینه ورسره لري.
ورسکي په بیړه د پرتې ښځې لاس ور پورته کړ.
ډروید وویل:
ـد ښځې له مخه نقاب لرې کړه؛ مه ویرېږه ! دا کار تر هغو قتلونو اسانه دی چې تا وکړل.
ورسکي لړزانده ګوتې ور نږدې کړې؛ د پرتې ښځې له مخه یې نقاب لیرې کړ؛ یو ناڅاپه شاته شو، پښې یې ولړزېدې او بې حرکته ودرېد.
ډروید چیغه کړه !
ـڅه دې ولېدل؟
ورسکي د لیونیانو په څیر په راوتلیو زړو سترګو د پرتې ښځې څېرې ته کتل؛ پر تندي یې مړې خولې راماتې وې.
بوډا وخندل:
ـوګوره، څیره دې څومره بدرنګه شوې ده؛ ښه ده، والدا ویده ده؛ د هغې پټې سترګې به نور رنځ هم درکړي.
ورسکي په زحمت خپلې سرېښ شوې شونډې پرانیستې، په ټیټ غږ یې وویل:
ـورونیک.
بوډا وویل:
ـاحمقه ! بیړه دې وکړه؛ په تیاره کې دې ان د ورونیک مخ ته هم ونه کتل؛ پوهېږې؟ د ورونیک پر ځای دې یوه بله مړه ښځه پر صلیب راوځړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسکي په بيره پورته وکتل؛ بوډا د پخوا په څير کمزوری نه ښکارېده،
نيغ ولاړ و او په څيره کې يې غوسه له ورايه مالومېدله.
ډروید وویل:
ځان دې ډېر چالاکه ګاڼه؛ قتلونه دې وکړل؛ جزېره دې د مظلومو خلکو په
وينو ولړله؛ له اوله لا پوهېدم چې يو ډارن انسان يې.
د توپانچو ګيتونه کش شول؛ ډروید ور وکتل، اوتو او کونورا د وسلو
ميلونه ورته نيولي وو.
ډروید په ملنډو وویل:
_هيله کوم، ما مه وژنئ، له يوه کمزورې بوډا څه غواړئ.
ورسکي چيغه کړه !
_احمقانو، ولې ماتله ياست، ويې ولئ !
له توپانچو څخه يوا ځې تور لوګی راووت.
ورسکي خپله توپانچه پورته ونيوله، خو تشه وه.
ډروید وخندل:
_دومره ساده نه يم، مرمۍ مې ايستلې دي.
ورسکي پر زينه پښه کېښوده. يو غږ يې واورېد:
_حرکت مه کوه !
ورو يې وکتل.
_ورونيک توپانچه ورته نيولې وه.
ورسکي په بيړه پورته وخوت؛ د بوډا تر څنګ تېر شو؛ له خپلو ملګرو
سره يې يو ځای منډه واخيسته.
ډروید پسې ناره کړه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـښاغلی ورسکي ! د معجزې تیرې دې هېره شوه.

۷ـ پیاوړی حریف:

ورسکي د ډار سړی نه و، خو دې پېښنو یې پر ذهن اغېزه کړې وه؛ نه پوهېده چې څه کوي او ولې له هغه ځایه راووت. په لاره کې یې ثو ځله اوتو او کونورا ته وویل:

ـورونیک مړه ده؛ ما په خپلو لاسونو پر صلیب راوځړوله.

دوی په بیړه روان ول، خو ورسکي ځای پر ځای ودرېد، ویې ویل:

ـزړه مې چوي؛ باید ډاډه شم چې هغه ورونیک وه که بل څوک؟

اوتو په خبره کې ور ولوېد:

ـنو څه کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببرته ورګرځو.
کونورا وویل:
ـنه، هغه وسله لري.
ورسکي وویل:
ـاحمقه، ترا وسه نو هلته نه دي ماتله.
دري سره ببرته د سمځو خواته ورغلل.
اوتو وویل:
ـوګورئ ! هغه رڼاوې نښته.
لاندې کښته شول، ورسکي اورلګیت ولګاوه، پر ډبرینو زینو ژېړه رڼا پرېووته؛ یو دم د تیږې د ښویدو غږ راغی؛ ورسکي په بیړه پورته وخوت؛ د ببرته تګ لاره د درنې تیږې په واسطه تړل شوې وه. ورسکي تیږې ته اوږه ورکړه، خو تیږه درنه وه.
د ورسکي څېره له غوسې تکه شنه شوه؛ ببرته ملګرو ته راغی، په غوسه یې وویل:
ـپه دام کې یې واچولو.
اوتو وویل:
ـله ما سره بله توپانچه شته.
ورسکي په غوسه وویل:
ـاحمقه ! ولې دې استفاده ترې ونه کړه !
د اوتو سر وځړېد:
ـهغه وخت وارخطا شوم، هېره مې وه.
ورسکي توپانچه ورواخیسته، مرمۍ یې وکتلې، سمې وې. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـله دې ځایه باید د وتلو لاره پیدا کړو،که نه نو هډوکي به مو همدلته وراسته شي.
کونورا خپل غاښونه وچیچل:
ـدواړه به په خپلو لاسونو ووژنم.
ورسکي وویل:
ـخو که له دې سمڅې ژوندي ووتو.
کونورا وویل:
ـماته داسې ښکاري چې دوی هم تر اوسه همدلته دي.
ـنو د سمڅې په خوله کې هغه تیږه چا کېښوده؟
ـډاډه یم، نور و ملګرو به یې دا کار کړی وي.
کونورا له جیبه یوه تېره چاړه را وایسته، پرته له دې چې د ورسکي نظر ورپوښتي، په تیاره کې ورک شو.
ورسکي او اوتو په خپل ځای پاتې شول؛ پاو ووت؛ د کونورا درک معلوم نه شو. دوی دواړه هم پسې ورغلل. ورسکي یو ځای نوک ونیو، ویې ویل:
ـاورې ! فکر کوم چې کونورا دی، ببرته زموږ خواته راځي.
غږ غلی شو؛ مخکې لاړل؛ په یوه کوټه کې تیاره وه؛ دومره ښکاریدل چې یو څوک پرمخې پروت و.
اوتو چیغه کړه:
ـکونورا خپل کار کړی دی؛ وګوره، د دې سړي په ټټر کې د کونورا چاړه ننوتې ده؛ لاستی یې برېښي؛ ډاډه یم؛دا د کونورا چاړه ده.
ورسکي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ احمقه ! داسې نه ده.
ورغی جسد یې پرمخې را واړاوه؛ هوتو چیغه کړه !
ـ کونورا ! اه ! کونورا یې وژلی دی !
ورسکي خپله توپانچه له جیبه را وایسته، ویې ویل:
ـ ډروید تر موږ ډېر چالاکه دی.
اوتو په حیرانۍ سره د کونورا جسد ته کتل...
ورسکي وویل:
ـ راځه !
دواړه اوږده سالون ته ورسېدل؛ لاندې کښته شول؛ د ورسکي زړه ولړزېد ؛ ښځه پرخپل ځای پرته وه. ورسکي ور ټيټ شو ؛ سترګې يې رډې راوختې؛ د ښځې مړې ګوتې د کونورا تر چاړې راتاوې وې. ورسکي په دقت ښځې ته وکتل؛ د لاسونو په بندونو کې یې د پړې سرې نښې پاتې وې.
ورسکي وویل:
ـ دا هماغه ښځه ده چې موږ په تیاره کې د ورونیک ګومان ورباندې کړی وا او د هغې پر ځای مو پر صلیب را ځړولې وه.
ورسکي یوناځا د ښځې له ګوتو چاړه ور واخیسته او د هغې ستونی یې ور پرې کړ؛ په غوسه یې وویل:
ـ اوس نو سمه مړه شه.
مخامخ یو سیوری راغی، ورسره یې یو ورو غږ واورېد:
ـ زه دې وپیژندلم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسکي مخامخ توپانچه ونیوله؛ په تیاره کې د توپانچې له خولې سره رڼا ووته، یو چا وخندل:

ـورسکي، ته هغه څوک یې چې په دوکه پسې دوکه خورې؛ ته هغه څوک وژنې چې مخکې دې وژلای و.

ورسکي اورلګېت ولګاوه؛ یوه ولاړ ځوان د پوال ته اوږه لګولې وه؛ ځوان متوسطه ونه درلوده، وېښته یې ژیړ او څېره یې سره ښکارېدله.

ځوان وویل:

ـنوم مې ارسن لوپن دی او د اسپانیول او سیدونکی یم.

ورسکي په حیرانۍ سره ځوان ته کتل....

ځوان وویل:

ـزه د کنت هرژمون د کورنۍ د ساتلو له پاره دلته راغلی یم؛ تا پیژنم؛ هغه کسان دې ووژل چې ډېر دې یې نه پېژندل. بې مانا قتلونو ستا زړه سخت کړی دی، خو تر اوسه لا په دې نه پوهېږې چې ورونیک مړه ده که ژوندۍ!

ته ان دومره بې رحمه یې چې د مقتول څېرې ته هم نه ګورې؛ تا دوې ښځې درلودې؛ یوه د راینولډ مور او بله هم د فرانسوا مور. دوې ورځې مخکې دې په تیاره کې خپله لومړنی میرمن ووېشته.

د ورسکي زړه ولړزېد.

ارسن لوپن په کونج کې له پراته جسد څخه څادر لیرې کړ، ویې ویل:

ـباور نه کوې؟

ـورسکي خپلې سترګې پټې کړې.

ارسن لوپن وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

_تاته مې نقشه وايسته او ته مې په خپله لومه کې راګیر کړې.
ورسکي چيغه کړه !
_له ما څه غواړې؟
ارسن لوپن وخندل:
_هیڅ، یوازې د کنټ هرژمون له کورنۍ څخه ساتنه کوم.
ورسکي وويل:
_راځه ! د معجزې تيږه به په ګډه پيدا کړو ، نيمايي شتمني يې ستا !
اوتو ته غوسه ورغله، خو څه يې ونه ويل.
ارسن لوپن وخندل:
_خو لومړی بايد په دې پوه شم چې فرانسوا چېرته دی؟
ورسکي غلی و.
ارسن لوپن دوهم ځل پوښتنه تکرار کړه !
_فرانسوا چېرته دی؟
د ورسکي په زړه کې تمه پيدا شوه؛ فرانسوا يو چاته ارزښت درلود او ده له دې موقع ډېره استفاده کولای شوای. خو بيا يې هم وويل:
_فرانسوا د توري وهنې په مسابقه کې ووژل شو.
لوپن وخندل:
_زه دومره احمق نه يم، پوهېږم چې هغه ژوندی دی.
ورسکي نه غوښتل چې په دومره اسانۍ دا چانس له لاسه ورکړي، ځکه غلی و.
لوپن شپېلکی ووهه ! له نږدې کوټې څلور وسلوال او يو په عمر پوخ سړی راغلل. په عمر پوخ سړی ګوډ ګوډ ته، يوه پښه يې له لرګي جوړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارسن لوپن ورسکي ته وکتل ويې ويل:
ـدی زما نږدې ملګری پاتريس بلوال دی.
غلی شو، پاتريس بلوال ته يې مخ ورواړاوه:
ـښاغليه! د فرانسوا درک مو پيدا نه کړ؟
منفي ځواب يې واورېد.
ارسن لوپن وويل:
ـنور پوځيان په بېړۍ کې دي؟
هو.
ارسن لوپن سر تېرو ته وکتل:
ـورسکي او د هغه ملګری ګراشن ته بوځئ، هلته يې وساتئ.
اوتو او ورسکي تر متهو ونيول شول.
له سالونه بهر يوه زينه ولاړه وه، خو ارسن لوپن تر څو سمڅو تېر شو او د ځکمې سر ته راوخوت. ډله د باغ خواته لاړه او هغې ونې ته ورسېدل چې ورسکي د ورونيک پر ځای د خپلې پخوانۍ ميرمنې مړی پرې راځړولی و.
ارسن لوپن يو ځای ودرېد، ورسکي ته يې وکتل، ويې ويل:
ـستړی شوې؟
د ورسکي سترګې سرې وې.
ارسن لوپن وويل:
ـدې ونې ته وګوره! کله چې تېره شپه تاسو د خپل جنايت په اړه غږېدی اومړي مو شمېرل، ما له موقع استفاده وکړه او ورونيک مې له دې ځايه وتښتوله. هلته وګوره! هغه څوک چې پر سړک را روان دی، پيژنې؟ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی هم ستا د قربانیانو له ډلې څخه یو دی. دا سړی دې لومړی د مرګ په خونه کې بندې کړ؛ بیا دې خپل زوی راینولډ ته امر وکړ چې سیند ته یې واچوي؛ دا کس د فرانسوا ښوونکی استفان ماروکس دی، خدای ژوندی وساته.

ماروکس را ورسېد؛ ورسکي ته یې په ژامه دروند سوک ورکړ، لوپن وویل:

_مه! اوس یې وخت نه دی؛ ورسکي به خپله سزا ووینې.

ورسکي په کرکه استفان ماروکس ته کتل؛ دی د ورونیک او د دې سړي له مینې څخه خبر و.

ارسن لوپن ورسکي ته ور نږدې شو، ویې خندل:

_د ښاغلي استفان ماروکس په ژوندي پاتې کېدو حیران یې! په دې ورځو کې مړي هم ژوندي کېږي.

ارسن لوپن ماروکس ته وکتل:

_فرانسوا مو پیدا نه کړ.

_نه

_په کوم ځای مو شک هم رانه غی، سمخه، غار یا بل څه؟

د استفان ځواب منفي و.

ارسن لوپن بېرته ورسکي ته ور نږدې شو، په غوسه یې وویل:

_د فرانسوا د ځای د ښودلو په مقابل کې څه غواړې؟

ورسکي ځمکې ته کتل...

ارسن لوپن له جېبه یو کارت را وایست، د ورسکي سترګو ته یې ونیو، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـدا سړی د فرانسوا بیه پرې کوي، ووایه، څومره پیسې غواړې؟
ورسکي په حیرانۍ وویل:
ـدا خو د فرانسې د ولسمشر موسیووالانګای کارت دی، هغه ولې له دې قضیې سره دلچسپي ښیي؟
ارسن لوپن وخندل، له جېبه یې یو بل سور رنګه کاغذ را وایست، ویې ویل:
ـوخت مه ضایع کوه، دا کاغذ ولوله.
ورسکي په لړزانده ګوتو کاغذ ورواخیست، لیکلي و:
د فرانسې د دولت نږدې ملګری پاتریس بلوال او ارسن لوپن د ورسکي د نیولو ماموریت لري.
د ورسکي خوله وازه پاتې وه.
ارسن لوپن لاس ور وغزاوه، کاغذ یې ورنه واخیست؛ څیرې یې کړ او ټوټې یې باد ور سره یوورې؛ ویې ویل:
ـزه په هیڅ دولت پورې نه یم تړلی؛ دا کاغذ مې ځکه در ښکاره کړ، چې ستا نیول څومره مهمه دي؛ نو زما خبره ومنه! له دې ځایه نه شې تښتېدلی؛ د فرانسوا د خوشې کېدو په مقابل کې څه غواړې؟
ـفرانسوا مړ دی.
ـدروغ وایې !.
ورسکي غلی شو، یودم یې وویل:
ـد معجزې تیږه !
ـامکان نه لري، زه به فرانسوا په خپله پیدا کړم.
ورسکي وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـکه یې پیدا هم کړی، نو یواځې به یې بې روحه جسد په لاس درشي.
ـولې؟
فرانسوا له پرون راهیسي نه اوبه څښلې او نه یې هم څه خوړلي دي؛ که زما شرط ونه منی؛ هلکی به له تندې مړ شي.
ورسکي وروستی جمله په ډېره بې رحمي سره ادا کړه.
ارسن لوپن وویل:
ـته خپل زوی په خپل لاس نه شې وژلای.
د ورسکي له خولې وحشیانه خندا راووته:
ـنه، ماته یې مرګ ډېر اسانه دی، فرانسوا به هم د نورو په څېر مړ شي.
استفان سوک جوړ کړ، خو ارسن لوپن د هغه مخې ته ودرېد.
ارسن لوپن د یوه سر تېرې له ملا پړی ور خلاص کړ؛ ورسکي یې د صلیب په بڼه په ونه پورې کلک وتاړه؛ د ورسکي پښې له ځمکې یوه لوېشت پورته وې.
ارسن لوپن وویل:
ـاوس به پوه شې چې دا ډول مرګ څومره دردونکی دی.
پړې د ورسکي پر مټو ، غاړه او پښو فشار راوړی و، خو ورسکي ځان داسې وښود چې تسلیمدونکی نه دی؛ سترګې یې اسمان ته ور واړولې، شونډې یې وخوځېدې، داسې لکه وروستۍ دعا چې کوي.
ارسن لوپن ور مخته شو؛ د ورسکي ټټر ته یې سوک ورکړ؛ ویې ویل:
ـای قاتله! یوه زوی دې بل زوی په توره وواهه، خو پوهېږم چې فرانسوا لا تر اوسه ژوندی دی؛ که مرسته ورسره ونه شي، تبې او لوږه به یې ووژني. ووایه! فرانسوا دې چېرته پټ کړی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتریس بلوان وویل:
ـورسکي به اقرار ونه کړي.
ارسن لوپن په خپلو ژړو وېښتو کې ګوتې تېرې کړې؛ لاندینۍ شونډه يې په غاښونو کې ټینګه کړه، ویې ویل:
ـنه، د پرې درد تر یوه ساعته ډېر نه شي زغملای؛ په خپله به هر څه ووایي.
لوپن ورسکي ته ورنږدې شو، چیغه يې کړه:
ـکه د فرانسوا ځای راوښيي په خپل شرافت قسم خورم، ازاد به يې!
د ورسکي غاښونه له ډېره درده سره وجنګېدل، په زحمت يې وویل:
ـهغه باید مړ شي.
پانې وخوځېدې؛ سرتېرو د خپلو ټوپکو خولې ونو ته ور واړولې؛ له ګڼو پاڼو یو کوچینی سپی راووت. استفان په خوشالۍ وویل:
ـدا د فرانسوا سپی دی.
سپی د ارسن لوپن خواته ورغی؛ لکۍ يې ووهله؛ لوپن سپی ور واخیست؛ هغه يې ټینګ په غېږ کې ونیو.
استفان په حیرانۍ وویل:
ـدا سپی تا څنګه پېژني؟
ارسن لوپن وخندل:
ـد فرانسوا د موندلو له پاره باید په ځینو حقایقو وپوهېږئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ـ د بوهم د پاچا تیره
ارسن لوپن ورسکي ته وکتل په زوره یې وخندل:
ـ فکر مې کاوه چې تر ما هوښیار یې، خو داسې نه ده.
ارسن لوپن پر یوه رنګه ونه کېناست، ویې ویل:
ـ یوه کیسه به درته ووایم. د مسیح له میلاده ۱۳۲ کاله وړاندې په نړۍ کې یوه حیرانوونکې پېښه رامینځته شوه ؛ د پېښې ځای د اروپا ریو ښارو ؛ دې ښار ته یې بوهم یا بوهیما ویل.
د پېښې ځای د ( ژاکي مې ستال ) کوچینی ښار ښودل شوی دی. د دې ښار د لوی سیند پر دواړو غاړو یوه لویه قبیله اوسېده. یوه ورځ په دې قبیله کې جنګ ونښت ؛ دوی سوله خوښوونکي خلک وو ؛ د جنګ په علت نه پوهېدل؛ نارینه وو تورو ته لاس کړ او ښځو هم د کورونو د وسایلو په راټولولو بوختې شوې، خو د هماغه ورځې په مازدیګر د قبیلې مشران د الب د سیند پر غاړه سره راټول شول ؛ تر سهاره یې د سولې په اړه خبرې وکړې.
سهار د پاچا دوې بېړۍ راورسېدې؛ د قبیلې مشران او د پاچا استازي په یوه لویه بېړۍ کې سره راټول شول ؛ د قبیلې مشرانو سوله وکړه، خو د پاچا استازو بله غوښتنه لرله. دوی غوښتل چې د قبیلې د ځوانانو په مرسته پر ګاونډیو هېوادونو یرغل وروړي.
هغه وخت په اروپا کې ورو حکومتونو واک درلود ؛ هر یوه به پر بل حمله کوله او خپل قلمرو به یې پراخاوه. دا قبیله وړې وه ؛ د ژوند له پاره یې باید یو څه موندلي وای؛ په جګړه کې ډېر غنیمت په لاس ورته، ځکه یې دا وړاندیز ومانه. هغه وخت به د جنګ له پاره ټوله قبیله ( واړه، زاړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې او نارینه ) تلل ؛ له همدې سببه به یې د قیمتي جواهراتو په شمول د کور ټول وسایل ورسره وړل. د دې قبیلې په جواهراتو کې یوه مثلث شکله تیږه وه چې دې قبیلې ته یې تر هرڅه ډېر ارزښت درلود.
د قبیلې ټول اوسیدونکي په جنګي بېړیو کې سپاره شول؛ کله چې د سر کشتۍ د درې نیمایي ته ورسېده، یوه مشر یوه پرده لیرې کړه او یوه ځلېدونکې تیږه ښکاره شوه. دا تیږه دوه متره پلنه او دوه نیم متره اوږده وه ؛ د تیږې پر لېدو ټولو تیږې ته سجده وکړه او د خوشالۍ غږونه پورته شول.
د پوخ مشر یوه لکنه ور واخیسته او ویې ویل چې دا لکنه او تیږه د یوبل له پاره مهم دي او یو بل ته قدرت ور ښښي. دا دتیږه موږ ته په جګړو کې پیاوړتیا راکوي.
دې تیږې جادویي قدرت درلود او د هغه وخت فیوډالانو هڅه کوله چې دا تیږه تر لاسه کړي. اوونۍ تېرې شوې؛ دې قبیلې په سمندر کې خپل سفر ته دوام ورکړ؛ ډېرې سیمې یې ونیولې او یوه ورځ د اسکاندینیا یوه ساحل ته ورسېدل.
دوی غوښتل چې دا تیږه په یوه مطمین ځای کې پټه کړي، خو دا ساحل ښه نه شو ورته ښکاره ؛ له همدې امله ایرلنډ ته ورسېدل. دو ی هماغه ځای د اوسېدو له پاره غوره کړ؛ وخت ووت؛ د پوخ مشرمړ شو او د هغه لمسي د خپل نیکه ځای ونیو.
یوه ورځ یوه ګاونډي پاچا له دوی سره یو تړون لاسلیک کړ، د دې تړون له مخې باید دواړو حکومتونو پر دریېیم حکومت یو ځای جنګ پیل کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای؛ دوی دا تیره یوې جزیرې ته یووړه ؛ دې جزیرې دیرش پلنې ډبرینې تختې او قوي پلونه درلودل.
کلونه ووتل؛ دا تیره په همدې جزیره کې ساتل کېدله، خو جزیره د ژرمن د وحشي قبیلې تر تهدید لاندې راغله؛ د پوځ او قبیلې مشرانودومره وخت ونه موند چې تیره له جزیرې څخه انتقال کړي ؛ تیره په جزیره کې پاتې شوه.
کال وروسته د پوځ او قبیلې تر مینځ اختلاف راغی؛ په خپل مینځ کې یې سختې جګړې وکړې ؛ په دواړو لورو کې ډېر کسان ووژل شول او تیره ورو ورو له ذهنونو ووته.
ارسن لوپن غلی شو، سګرټ یې ولګاوه ؛ ورسکي ته یې وکتل ؛ ویې خندل:
ـدا جزیره د سارک جزیره وه ؛ هغه جزیره چې زه او ورسکي پکې یوو.
پېرۍ ووتې؛ په دې تیرې پسې ډېر کسان وګرځېدل، خو پیدا یې نه کړه. دې تیرې زما پام هم ځانته ور واړاوه؛ څیړنې مې وکړې ؛ په هماغه لومړیو کې دې نتیجې ته ورسېدم چې دا تیره باید د ګراندیش او کالوفلوري د باغ په مربوطاتو کې وي، ځکه دا پخوانۍ خرابې وې او ماکونوک هم په دې اړه معلومات راکړي وو.
ماکونوک په دې عقیده و ، چې د ګراندیش د چینې اوبه شفا بښونکې دي؛ تیره هم په هغه ځای کې ده چې دا اوبه سرچینه ترې اخلي. دی په دې باور و چې دا تیره د هر ډول ناروغیو علاج کولای شي او له همدې سببه یې دې تیرې ته د مرګ او ژوند نوم ورکړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماکونوک له پخوا راهیسي په دې تیره پسې ګرځېده؛ یوه ورځ یې په یوه سمڅه کې یوه زړه کتابچه وموندله؛ له لیکنو یې داسې ښکارېده چې دا کتابچه د هماغه پوځ د مشر یا دابښتونه دي. په دې کتابچه کې پر صلیب د څلورو ښځو د راځړولو او دبرشو جنازو یادونه شوې وه، خو روښانه مفهوم نه ترې اخیستل کېده.

ماکونوک به خپل ټول معلومات له کنټ هرژموند سره شریکول، تر څو چې ورسکي دې جزېرې ته راغی او دواړه یې ووژل.

ارسن لوپن غلی شو؛ نیم سوخته سګریټ یې د بوټ تر تلي لاندې کړ؛ ورسکي ته یې وکتل، ویې خندل:

_فکر کوم چې ترلې اندامونه دې ورو ورو بې حسه کېږي.

ورسکي په غوسه ورته کتل او له درده یې خپله لاندینۍ شونډه پر غاښونو کلکه نیولې وه.

ارسن لوپن وویل:

_اوس هم نه غواړې چې د فرانسوا ځای راوښیې؟

د ورسکي په سترګو کې غوسه ښکارېدله.

ارسن لوپن وویل:

_غوږ ونیسه! پنځه دبرش کاله مخکې د بوهم په ښار کې یوې ښکلې ځوانې ښځې ژوند کاوه. دا ښځه د یوه بیروتي پروفیسور معشوقه وه؛ پروفیسور د دې ښځې په برکت د بوهم له دوهم پاچا سره وپېژندل. دی هوښیار سړی و؛ ډېر ژر یې د بوهم د پاچا پام ځانته ور واړاوه.

پروفیسور له خپلې معشوقې سره واده وکړ او د ورسکي په نوم یې یو وحشي انسان نړۍ ته راوړ. ورسکي ورو ورو لویېده؛ یوه ورځ یې مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

له یوه حیرانونکي راز څخه خبر کړ؛ زوی ته یې وویل چې د سارک په جزیره کې یوه قیمتي ډبره پرته ده او که ته دا تیږه تر لاسه کړې نو د بوهم پاچا به شې.
ورسکي لوی شو؛ خو نا ارامه ذهن یې دې تیږې په مخه کړی و؛ ورسکي په نړیواله جګړه کې ګډون وکړ او له جګړې وروسته زندان ته ولوېد، خو لا یې هم د معجزې تیږه په یاد وه. ورسکي له زندانه وتښتېد؛ د سارک جزیرې ته راغی او په ټوله جزیره کې یې وحشت خپور کړ.
ورسکي خپلې لومړنۍ میرمنې الفرایډ ته دنده ورکړه چې کنت هرژمون وڅاري او کله چې جزیرې ته د خپلې دویمې میرمنې ورونیک له راتګه خبر شو، پر صلیب د هغې د ځړولو فکر په مخه کړ.
ورسکي به ډېر وخت له خپلې لومړنۍ میرمنې او ملګرو سره د ویرانو په سمڅو کې تېراوه؛ دوی زحمت وایست او په دې پوه شول چې د معجزې د تیږې د لاسته راوړلو لومړنی شرط په صلیب د څلورو ښځو راځړول دي.
خو ماکونوک د دوی په راز وپوهېد او په دې هڅه کې شو چې دوی ته دوکه ورکړي. یوه شپه سمڅې ته ورغی او په پټه یې د ورسکي او د هغه د ملګرو جلسه ولېده. ده د تیږې د پیدا کېدو په اړه غلطه نقشه وایسته او کاغذ یې تر خاورو لاندې کړ؛ دا نقشه د ورسکي لاس ته ولوېده؛ هغه دوکه وخوړه او په تقلبي نقشه یې باور وکړ، ځکه د یو څه مودې له پاره په نورو خرابو کې ګرځېده.
ما دا هر څه د ماکونوک د خاطراتو په کتابچه کې ولوستل.
ارسن لوپن د خپل بالاپوښ له جیبه یوه زړه کتابچه را وایسته، ویې ویل:
_خو دا اصلي پاڼې دي؛ غوږ ونیسه! ځینې برخې به یې درته ووایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـد سارک په جزیره کې به وحشت خپور شي؛ د مرګ کوټه، پر صلیب را ځړول شوې څلور ښځې، اور او حیرانونکي غږونه، د معجزې تیږه چې هم مرګ ورکوي او هم ژوند ښونکې ده...
دا پېښې وړاندې د دې تیږې د ترلاسه کولو له پاره د پوځ د یوه مشر شرطونه دي، خو ورسکي په دې خرافاتو باور وکړ او جزیره یې په وحشت بدله کړه.

۱۰ـ ورسکي د تقدیر استازی:

ارسن لوپن ورسکي ته وکتل او چیغه یې کړه!
ـته یو جنایتکار یې؛ د ورونیک رهنما (هونوریک) دې هم ووژله.
د ورونیک زړه ولړزېد.
ارسن لوپن وویل:
ـخو یوه خندونکې خبره پاتې شوه، ډروید.
شونې نه وه چې ډروید او ارسن لوپن دې یو کس واوسي او په یوه وخت دې د دوو کسانو رول ادا کړي؛ زوړ ډروید له پخوا راهیسې په دې جزیره کې ژوند کاوه؛ تا د ډروید ځوانه لور ووژله او ډروید د غچ اخیستلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکل کې شو؛ هغه د سارک د جزېرې ټولې سمڅې او خرابې پېژندلې؛ ته يې ځارلې او د غچ اخيستلو په موقع پسې ګرځېده؛ کله چې دې جزېرې ته راغلم، ډروید مې ولېد؛ پوه شوو چې دواړه یو هدف لرو.
ما د ډروید په مرسته ستا د لومړنۍ ښځې الفریډ جسد وموند؛ ډروید راته وویل چې دا ښځه په تا پسې ګرځېده او غوښتل یې چې خپل زوی ووینې؛ خو ستا ملګرو په تیاره کې ډزې ورباندې وکړې او مړه شوه؛ تاسو دومره په وحشت کې ډوب وئ، چې ان خپل او پردي مو هم نه پېژندل؛ هرڅوک چې په مخه درتلل؛ ویشتل مو. موږ د الفریډ جسد را واخیست او کله چې ته او کونورا په سپین کالي سړي پسې ګرځېدئ، په ډېر مهارت سره مو د ورونیک پر ځای پرې ایښتله.
په بېړه سمڅو ته ورغلو؛ ډروید پر پروړه پرېووت او ما هم په بله کوټه کې ستاسو د راتګ انتظار ایست؛ نوره کیسه مالومه ده.
د ورسکي شونډې وخوځېدې؛ ارسن لوپن غوږ ور نږدې کړ، ويې ويل:
ـپه زوره ووایه، فرانسوا چېرته دی؟
ورسکي په زحمت وویل:
ـیو شرط لرم.
ـڅه؟
ـما خوشې کړئ.
ارسن لوپن وویل:
ـژمنه کوم.
ورسکي په زحمت وویل:
ـفرانسوا تر پله لاندې موندلی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارسن لوپن وویل:
زه په خپله خبره ولاړ یم؛ ورسکي خوشي کړئ !
یوه شېبه غلی و ؛ بیا یې وویل:
_له دې ځایه ورک شه ! هو ربښتیا ، ورونیک او استفان له یو بل سره مینه لري او په نږدې وخت کې یې واده دی؛ اووه لس کاله کېږي چې ته او ورونیک له یو بل ښځه بېل یاست؛ د فرانسې د قوانیو له مخې ستا او د ورونیک واده فسخه شوی دی، نو دوی ته مزاحمت مه کوه که نه نو تر ما به بد سړی نه وي. لس دقیقې وخت لرې چې دا جزیره پرېږدې !
ارسن لوپن او استفان د پله خواته منډه کړه، کله چې هلته ورسېدل فرانسوا یې پر ډېرېنه تخته تړلی ولید. استفان په بیړه د هغه تر لاسونو پښو تړلی پړی خلاص کړ؛ فرانسوا کمزوری شوی و؛ په احتیاط کېناست؛ ارسن لوپن وویل:
_له تېرې شپې راهیسې همدلته وې؟
فرانسوا د سر په اشاره د هو ځواب ورکړ؛ وروسته یې په زحمت وویل:
_ورسکي چېرته دی؟
_هغه مو خوشی کړ.
فرانسوا حیران شو:
_ولې؟
ارسن لوپن وخندل:
_زه له خپلې ژمنې نه اوړم.

• * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سمندر پر مخ يوې ببړۍ حرکت کاوه؛ د ببړۍ په مينځ کې له لرګيو جوړه کوچينۍ، ښکلې کوټه ښکاريدله؛ ورونيک پر څوکۍ ناسته وه؛ د هغې په نيولې څېره کې د ستړيا نښې له ورايه ښکاريدلې. دې د خپل زوې فرانسوا د ليدو تمه درلوده.

فرانسوا کوټې ته ور ننوت؛ ځان يې د مور غېږې ته ور واچاوه او دواړو په چيغو، چيغو وژړل. مور او زوی تر ډېره اوښکې تويولې؛ وروسته د کوټې دروازه خلاصه شوه، ارسن لوپن و.

فرانسوا په ژړا کې وويل:

ـ موري ! دې سړي مور دواړه له مرګه وژغورلو.

ارسن لوپن د ځوان تر څنګ کېناست. مور او زوی ژړل؛ د ارسن لوپن سترګې هم له خوشالۍ ځلېدلې.

۱۱ـ د معجزې تيږه

له څو دقيقو وروسته ارسن لوپن، پاتريس بلوال او استفان له ببړۍ څخه کښته شول؛ د ساحل شګې پستې وې؛ د بوټونو تلې يې پټول، پورته؛ تر شنه اسمان لاندې سمندري سپين مرغان په هوا کې ګرځېدل؛ چيغې يې وهلې؛ يو نيم به په سرعت ټيټ شو او د اوبو له سره به يې يو کوچينۍ ماهي ور پورته کړ.

پاتريس بلوال وويل:

ـ د دې خطرناک سړي خوشې کول ښه کار نه و.

ارسن لوپن يوه وړه تيږه په پښه ووهله، ويې خندل:

ـ وبښئ ! خو زه له تاسو سره موافق نه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استفان وویل:
ـارسن لوپن بله چاره نه درلوده؛ فرانسوا په خطر کې و.
ارسن لوپن وویل:
ـپوهېږم؛ ورسکي په جنایت کې وړې ده، خو ما ژمنه ورسره کړې وه.
پاتریس بلوال وویل:
ـخو د ورسکي پرېښودل مې زړه خوري؛ هغه په لسګونو بېګناه انسانان ووژل؛ جزېره یې په وحشت بدله کړه؛ اخ، باید چې تر ستوني مې نیولی وای.
ارسن لوپن وخندل؛ یوه ساتونکي ته یې اشاره وکړه؛ ساتونکی له دوو دوربینانو سره راغی؛ ارسن لوپن یو دوربین پاتریس بلوال او بل استفان ته ورکړل، ویې ویل:
ـاوبو ته وګورئ! په یوه میل واټن کې به یوه بېړۍ ووینئ.
دواړو دوربینونه سترګو ته ور نږدې کړل؛ استفان وویل:
ـلیرې یوه کوچینۍ بېړۍ روانه ده؛ یوازې یو نفر پکې ښکاري؛ اه، فکر کوم چې ورسکی دی؛ خپل ملګری اوتو یې وژلی او په بېړۍ کې تښتي.
ارسن لوپن وخندل:
ـاو که برعکس اوتو هغه وژلی وي، بیا؟
پاتریس بلوال په حیرانۍ وویل:
ـدا امکان نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارسن لوپن له جېبه کتابچه را واېسته؛ پاڼې يې واړولې؛ ويې لوستل:

ـد پوځ د پخواني مشر په يادابنتونو کې ليکلي دي چې ګنج هغه څوک لاسته راوړلای شي چې د ېرش جنازې پوره کړي؛ څلور ښځې پر صليب راوځړوي او خپله ميرمن ووژني او په پای کې دی په خپله د خپل ملګري لخوا ووژل شي.

ورسکي د دې خبرو ټول شرايط پوره کړل، خو په دې نه پوهېده چې د کتابچې په پاتې پاڼو کې څه ليکلي دي؛ ماکونوک هم څه نه وو ورته ويلي چې دی به د خپل يوه ملګري لخوا وژل کېږي، خو اوتو په هر څه پوهېده؛ هغه ته مې دا پخوانۍ کتابچه ور وښوده؛ اوتو هم خرافاتي سړی دی؛ دی باور لري چې د ورسکي په وژلو به د معجزې تيږه پيدا کړي؛ فکر کوم چې تر اوسه به يې ورسکي وژلی وي.

استفان په حيرانۍ وويل:

ـنو تا له اوتو سره پېژندل؟

ارسن لوپن وخندل:

ـڅه فکر کوئ، په دې لنډه موده کې دا ټول کارونه ما په يوازې ځان تر سره کړل؟

د پاترېس بلوال او استفان سترګې رډې راوختې.

ارسن لوپن وويل:

ـاوتو مې له پخوا پېژانده، خو له ډېر وخت وروسته مې په همدې جزېره کې ولېد؛ ومې پوهاوه چې ورسکي د ارشينان د خويندو له وژلو وروسته د هغوی له جېبونو سلګونه زره فرانکه کښلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوتو پوهېده چې ارسن لوپن غل دی، خو دروغ نه وايي، ځکه يې زما خبره ومنله. د ورسکي دې خيانت يې پر زړه اور بل کړ؛ ورنه ومې غوښتل چې د ورسکي او کونورا توپانچې خالي کړي، خو اوتو له پيسو پرته دا کار نه کاوه؛ مجبوره وم؛ د هغه خبره مې ومنله؛ ورسکي او کونورا نشه وو؛ اوتو يې له توپانچو څخه اصلي مرمۍ وايستلې.

استفان وويل:

ـخو اوتو به ورسکي ونه وژني !

ـاوتو د خپل رييس په وړاندې کينه درلوده؛ دی د ارشينان له خويندو څخه د ورسکي پټې غلا د هغه په وړاندې بې باوره کړی و؛ د دواړو له يو بل څخه ښه نه راتلل؛ له بل لوري د معجزې د تيرې کيسه خلاصه شوه؛ اوتو، ورسکي ته کوم احتياج نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲ـ موسیو والانګلای:

ورونیک دوهرژمون په یوه ښکلي باغ کې ناسته وه؛ دې باغ د فرانسې په یوه کوچیني سرحدي ښار کې موقعیت درلود. د ورونیک په څېره کې خوشالۍ پرته وه؛ دې په مینه خپل ځوان زوی فرانسوا ته کتل...

ناڅاپه یې نارینه غږونه تر غوږ شول؛ غږونه له ګڼو ونو راتلل؛ د ورونیک تندی نور هم پسې وغوړېد؛ د باغ پر عمومي لاره ارسن لوپن او پاتریس بلوال را روان ول.

فرانسوا مخکې منډه ور واخیسته او په مینه یې وویل:

ــډېر وخت نه ښکارېدی، وواياست، څه مو کول؟

ورونیک ور غږ کړل:

ــزویه، دوی زموږ له لیدو پرته نور کارونه هم لري.

ارسن لوپن وخندل؛ ورونیک ته یې لاس ورکړ او دواړه پر څوکیو کېناستل؛ ارسن لوپن فرانسوا ته وکتل؛ څو متره لیرې یې ګلانو ته اوبه ور کولې. ارسن لوپن په خندا وویل:

ــنه میرمنې ! د فرانسوا پوښتنه ډېره پر ځای وه. حاضر یم چې د خپل غیابت په اړه معلومات ورکړم، خو مخکې تر دې دا راته وواياست، فرانسوا په دې پوهېږې چې ورسکي د هغه پلار دی؟

ورونیک وویل:

ــنه.

ــښه نو، ورته ووایه چې پلار یې بل څوک دی.

ورونیک په پوښتونکي نظر ورته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارسن لوپن وویل:
ـ نه غوارم چې ستا په شخصي ژوند کې مداخله وکړم، خو ورسکي وژل شوی؛ استفان مینه درسره لري او وړاندیز مې دا دی چې له هغه سره واده وکړه.
د ورونیک رنګ سور شو.
ارسن لوپن فرانسوا ته اشاره وکړه؛ هغه د ګلانو نورو بوټو ته اوبه ور اړولې، ویې ویل:
ـخوښه دې، خو په فرانسوا مې د ورسکي جنایتکار نوم نه دی پېرزو؛ نه غوارم چې د هغه د نوم په پای پسې د ورسکي نوم هم وتړل شي؛ شخصیت ته یې تاوان لري؛ فرانسوا ته ووایه چې تا له استفان سره پخوا واده کړی و؛ ته پیدا شوې او وروسته د یوې وړې موضوع پر سر سره بېل شوو، اوس غواړو له سره خپل ژوند پیل کړو.
فرانسوا راغی او د ارسن لوپن تر څنګ کېناست. ارسن لوپن وویل:
ـګرانه! اوس به ستا پوښتنې ته ځواب درکړم.
فرانسوا په بیړه وویل:
ـهغه ګوتمۍ مو له کومه کړه چې لومړۍ مو مور او بیا الفرېډ ته ور په ګوته کړه؟
ارسن لوپن وخندل:
ـپه هماغه ساعت کې مې له هغو رنګه تیږو جوړه کړه چې په فلزي لګنه کې مې موندلې وې.
ـخو ورسکي هغه پېژندله، ځکه چې د مور یاد ګار یې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـدا ګوتمی مې د ورسکي د مور کوتمۍ ته ورته جوړه کړه، اوتو راته وویل چې ورسکي په نشه کې د دې ګوتمۍ یادونه ورته کړې وه.

فرانسوا وویل:

ـښه، دوهمه پوښتنه، د معجزې تیږه یوه معما ده؛ خلک په پیړیو پیړیو پسې وګرځېدل، خو تا په دومره لنډ وخت کې وموندله، څنګه؟

ارسن لوپن وخندل:

ـله فکره مې کار واخیست؛ په جزیره کې مې واورېدل چې د ماکونوک د باغ د چینې اوبه او ګلان شفا ښښونکي دي؛ پوه شوم چې تیږه په همدې حدودو کې ده، څکه د چینې دا اوبه له همدې شفا ورکوونکې تیږې څخه تېرېږي او اوبه هم له همدې تیږې خپل خاصیت اخلي، څکه مې په اسانی سره وموندله.

په غرونو کې ډېرې شفا ښښونکې تیږې شته، دا تیږې مختلف اکسیدونه او فلزات لري چې څینې یې د صحت له پاره ښه دي؛ د معجزې تیږه هم په همدې ډله کې راځي، خو دا تیږه خپله مخصوصه رڼا هم لري، لکه الماس، اورانیم، توریم او داسې نور.

په پخوانیو زمانو کې همداسې یوه تیږه وموندل شوه، رڼا به یې کوله او خلکو د شپې ګوهر باله. په ۱۲۲۳ م کال کې د مادام کیوري په نوم یوې میرمنې په راډیوم کې دا خاصیت کشف کړ. د دې عنصر له پېژندلو وروسته طب پرمختګ وکړ او د ډېرو ناروغیو مخه ونیول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه. د معجزې تيږه هم په حقيقت کې راډيوم ده، خو لوى او ډېر قيمتي راډيوم. بلهبېلګه به يې په دنيا کې نه وي.
استفان راغى؛ په مينه يې ميلمنو ته ښه راغلاست ووايه؛ کېناست او ويې ويل:
ــوروستى خبرې مې واورېدې؛ د معجزې د تيږې په اړه وې؛ زه هم يوه پوښتنه لرم؛ د معجزې د تيږې تر څنګ نورې وړې تيږې هم پيدا شوې دي؛ هماغه چې د ماکونوک لاس يې وسوځاوه.
ارسن لوپن وويل:
ــد هانري بکرل په نوم يوه فيزيک پوه يو وخت د راديوم پوډر په خپل جيب کې اچولي وو؛ وروسته يې پوستکى سور شو؛ په دې کې شک نشته چې ماکونوک هم د راديوم وړې تيږې په لاس کې نيولي او لاس يې ور سوځولى دى. له همدې امله وايي چې دا تيږه هم ژوند ورکوي او هم مرګ.
فرانسوا وويل:
ــښه نو، اوس مو چې د معجزې تيږه تر لاسه کړې ده؛ په دې تيږه څه کوئ؟
ارسن لوپن ورونيک ته وکتل:
ــميرمن ورونيک، تاسو څه فکر کوئ؟
ورونيک خپلې اوږې پورته واچولې:
ــنه پوهېږم؛ زه له دې تيږې سره مينه نه لرم؛ د سارک د جزيرې هر څه راته وحشتناکه دي.
ــخو د سارک په جزيره کې مو د پلار ماڼۍ په تاسو پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـنه، له مانۍ او هغې جزېرې، دواړو کرکه لرم.
ـنو ژوند به څنګه پرمخ وړې؟
ـزما له پاره زما زوی فرانسوا ټول ژوند دی.
وروسته يې استفان ته وکتل، ويې ويل:
ـتاسو به هم له ماسره اوسئ، داسې نه ده؟
استفان په بيړه وويل:
ـهمداسې ده.
ارسن لوپن وويل:
ـپوليسو ستا د پلار په کوټه کې يوه وصيت نامه موندلې ده؛ ليکلي يې وو چې لمسی يې فرانسوا د ده د ټولې شتمنۍ مالک دی. هيله لرم چې له خپلې مور سره خوشاله ژوند ولرې.
ورونيک په حيرانۍ ارسن لوپن ته کتل، وروسته يې وويل:
ـسمه ده، منم يې.
ارسن لوپن وويل:
ـښه نو، اوس دې د معجزې د تيږې په اړه نظر څه دی؟
ـتاموندلې او په تا پورې اړه لري.
ـسمه ده، خو زه غواړم چې دا تيږه داسې يو چاته ورکړم، چې په طب کې ښه نوم ولري؛ هيله مې دا ده چې له دې ګران بيې تيږې څخه په درمل جوړولو کې استفاده وشي.
پاتريس بلوال وويل:
ـتا تل د فرانسې له حکومت سره مرسته کړې ده.
ارسن لوپن غلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورونیک سترګې له اوښکو ډکې شوې؛ په غریو کې یې وویل:
ـ ارسن لوپن یو لوی شخصیت دی.
ارسن لوپن غوږ ونیو؛ په بیړه یې له جیبه یو وړوکی دوربین را وایست؛ ودرېد، په دوربین کې یې وکتل؛ ویې ویل:
ـ هاغه موټر وینې، لکه چې زما په بیولو پسې راغلی دی.
ورونیک په حیرانۍ وپوښتل:
ـ ولې؟
ارسن لوپن غلی و؛ شېبه وروسته د تورو شیشو لرونکی موټر باغ ته راننوت. د پولسیو مشر له موټره کښته شو؛ ارسن لوپن یې تر مټ ونیو؛ ویې ویل:
ـ راځه!
ورونیک او نورو په حیرانۍ ورته کتل.
ارسن لوپن د موټر دروازه خلاصه کړه؛ په بیړه یې خپله خولۍ له سره لیرې کړه؛ په احترام یې وویل:
ـ ښاغلی رییس جمهور! خوشاله یم چې تاسو وینم؛ ما د جزیرې اسرار په لیکلي ډول د پولیسو مشر ته ور لیږلي وو.
ولسمشر والانګلای وویل:
ـ هو، پرون یې د تیرې په اړه مالومات راکړل؛ اوس د دې له پاره راغلم چې د دې تیرې له پیدا کوونکي څخه مننه وکړم او هغه د دولت نورو عالي رتبه مامورینو ته وروپېژنم.
ارسن لوپن وویل:
ـ ښاغلی رییس جمهوره! د مننې وړ نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـخیر، تاسو باید د دولت اوامر ومنئ او له مورې سره د مامور په صفت کار وکړئ.
ارسن لوپن وویل:
ـ په بښنې سره، زه خپلواک سړی یم؛ نه غواړم چې په دولت پورې ځان وتړم.
دواړه غلي ول؛ ارسن لوپن دا چوپتیا ماته کړه:
ـغواړم چې د معجزې تیږه دولت ته وسپارم ځو د خلکو د صحت له پاره ګټه ترې واخلي؛دا ډالۍ منئ؟
ولسمشر وخندل:
ـولې نه، د فرانسې دولت به ستاسو دا نیک کار هېر نه کړي.
ـخو په بښنې سره، د دې تیږې په بدل کې دوه شرطه لرم.
ولسمشر په حیرانۍ ورته وکتل.
ـشرطونه دې د وزیرانو په وړاندې ووایه.
ـخو زه د وزیرانو شورا ته نه درځم.
ـسمه ده، کوم شرطونه لرې؟
ارسن لوپن یوه شېبه غلی و، بیا یې ویل:
ـد سارک جزیره دځو پېړیو راهیسې د جنایتکارانو پناهګاه وه؛ دا جزیره په دې وروستیو کې د فرانسې مستعمره شوه؛ غواړم په دې جزیره کې د اورګاډي یوه پټلۍ وغزېږي؛ په ساحل کې یې جنګي کیشتۍ لنګر واچوي او د معجزې تیږه هم تر استفادې پورې هماړنه وساتل شي. په دې توګه به له جزیرې تللي خلک زړه وکړي؛ بېرته به جزیرې ته راوګرځي او په ډاډه زړه به خپل ژوند ته دوام ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسمشر وویل:
ـفکر وکړه چې دا شرط دې ومنل شو؛ ته به په خپله د تیرې د ساتلو مسول یې.
ـمننه، زه دې کارته مناسب کس نه یم؛ ښه به دا وي چې دا ماموریت بل چا ته ورکړئ.
ولسمشر وخندل:
ـښه، بل شرط !
ـدوهم شرط ساده دی؛ هیله لرم چې د پریوره مانۍ له ترمیم وروسته د میرمن ورونیک او د هغې د زوی فرانسوا په نوم کړئ.
ولانګلای وویل:
ـدا شرط مې هم ومانه.
ارسن لوپن جېب ته لاس کړ؛ یو پاکټ یې را وایست؛ رییس جمهور ته یې ونیو:
ـپه دې لیک کې د معجزې د تیرې په اړه ډېر معلومات لوستلای شئ؛ اوس نو اجازه درنه غواړم. زه باید لاړ شم.
دا یې وویل او له خدای پامانۍ پرته په بیړه له باغه ووت، خو مخکې تر دې چې خپل موټر ته حرکت ورکړي، پاتریس بلوال ځان ور ورساوه؛ په بیړه یې وویل:
ـتګ دې له رییس جمهوره تېښتې ته ورته و؛ ولې؟
ارسن لوپن په خبره کې ور ولوېد:
ـپه دې کیسو پسې مه ګرځه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـخو ولسمشر غوښتل چې تاسو خپلو وزیرانو ته معرفي کړي؛ تر دې ښه چانس نه شته.

ارسن لوپن وویل:

ـ وېرېږم؛ هغوی به مې بندي کړي.

پاتریس بلوال په حیرانۍ وویل:

ـنه، دوی ته ستا خدمت د ستاینې وړ دی؛ نازوي دې.

ارسن لوپن وخندل:

ـپه دولتي خلکو باور نه لرم؛ زه لا تر اوسه دوی ته ګنهګار ښکارم؛ داسې یو څوک چې دولت ته سر نه ټیټوي.

ـنه، داسې نه ده.

ارسن لوپن له موټره کښته شو؛ لاس یې د خپل ملګري پر اوږه کېښود؛ په سترګو کې یې اوښکې راورغړېدې.

ـپه یاد دې دي؟ یو وخت مې د دولت غلا شوې خزانه بېرته دولت ته ورو سپارله، خو دوی زما د نیولو تصمیم ونیو. نه مې هېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳_د سیوري نښه:

پاتریس بلوال بېرته باغ ته لاړ؛ رییس جمهور تللی و؛ دی پر څوکۍ کېناست؛ سړه سا یې وایسته؛ ورونیک ور نږدې شوه، ویې ویل:

_کاپیتانه ! رنګ دې الوتی دی؛ څه خبره ده؟

پاتریس بلوال ځواب ورنه کړ.

فرانسوا وویل:

_ارسن لوپن له خدای پامانۍ پرته لاړ، ولې؟

پاتریس بلوال د هغه پر سر لاس تېر کړ، ویې ویل:

_ارسن لوپن عجیب انسان دی؛ دی هیڅوخت له چا د منني تمه نه لري.

ورونیک وویل:

_خو د هغه په څېره کې وېره ښکارېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـمېرمنې ! ارسن لوپن ښه سابقه نه لري؛ ويره يې پر ځای ده. تېر کال يې زه او مامان کورالي له مرګه وژغورلو؛ درې سوه زره د زرو پخوانۍ سيکې يې له غلو بچ کړې؛ دولت ته يې وسپارلې، خو " مننې " ته ماتله نه شو. (۱ـد زرو زخېرې کتاب.)

څو کاله مخکې د المان د دولت مهم سياسي اسرار ورک شول؛ که دا اسناد د دښمن لاس ته ور لوېدلي وای، د المان دولت به په يوه روپۍ شوی وای، خو ارسن لوپن دا اسناد وموندل او د المان پاچا ته يې تسليم کړل. هغه وخت هم له خدای پامانۍ پرته ورک شو؛ د خلکو په مينځ کې ګنګوسې شوې چې ارسن لوپن ځان سيند ته غورزولی او ځانوژنه يې کړې ده. ( ۸۱۳ کتاب)

استفان وويل:

ـخو نه و مړ.

ـخير، دا سړی مرموز ژوند لري؛ تر جګړې مخکې يې له دښمنانو سره شديده مبارزه وکړه؛ د يوه امريکايي فيوډال په ميليونونو شتمني يې له هغوی څخه وژغورله، خو بيا هم پوليسو شک ورباندې کاوه ( ۳ـ د پړانګ غاښونه کتاب). لس کاله مخکې يې د سويس په کانال کې يو سړی وموند؛ مهم اسناد يې په خپله مصنوعي سترګه کې پټ کړي وو ، خو بيا هم پوليسو خپل نه کړ.

ورونيک وخندل او ويې ويل:

ـارسن لوپن د نړۍ تر ټولو هوښيار او زړور انسان دی.

پاتريس بلوال د ميز له سره د چايو پياله ور پورته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـارسن لوپن له پخوا راهيسي پيژنم؛ يوه بله کيسه يې هم د اورېدو وړ ده. د سيوري ننبه به مو اورېدلې وي؛ دا په ګڼو چاپي مطبوعاتو کې راغلې ده، خو زه د ارسن لوپن له خولې کيسه درته کوم.

فرانسوا خپله څوکۍ ور نږدې کړه.

پاتريس بلوال وويل:

ـارسن لوپن څو کاله مخکې تلګراف راولېږه؛ خبر يې کړم چې پاريس ته راځي؛ ما يې هم په خپل کور کې پذيرايي وکړه. ما په بلاک کې د ېر ګاونډيان لرل، خو له دوی سره مې رابطه نه درلوده او نه مې خوښېدل چې د دوی په اړه کومه پوښتنه وکړم.

په هغو ورځو کې مې د تاريخي آثارو له يوه پلورونکي څخه يوه ښکلې تابلو اخيستې وه؛ د ارسن لوپن ډېره خوښه شوه؛ ويل يې چې په تابلو کې معماري د پخواني يونان په سبک جوړه شوې ده؛ هماغسې مرمريني ستنې لري. ورياده مې کړه چې دا يوه واقعي تابلو ده؛ په څنګ کې ليکلې تاريخ ته يې وګوره. تابلو د ۱۸۰۲ کال د اپريل پر ۱۵ رسامي شوې وه.

وروسته مې له ارسن لوپن څخه وغوښتل چې په دوربين کې مخامخ کور ته وګوري.

لمر و؛ دمخامخ تامير لومړی پوړ په اسانی سره ليدل کېده؛ د ويدېدو تخت او ښکلې څوکۍ ښکارېدلې، خو ارسن لوپن ناڅاپه ټکان وخوړ؛ په بيړه يې وويل:

ـوګوره، په مخامخ کور کې همداسې يوه تابلو راځوړنده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـزه پوهېدم؛ له همدې امله مې غوښتل چې ارسن لوپن هم پوه شي؛
ومې ويل، تاريخ ته يې وګوره. ۱۸۰۲ کال د اپريل ۱۵
ارسن لوپن وويل:
ـتا يادونه وکړه چې خپله تابلو دې کاپي نه بلکې اصلي ده ؛ نو د
ګاونډي په کور کې مو دا تابلو له کومه شوه؟
ـنه پوهېږم !
ـپه هغه کور کې څوک اوسي؟
ـڅه موده مخکې مې همدې تابلو ته پام شو؛ پوښتنه مې وکړه؛
ښځه لويز درمونت نومېږي؛ ژوند يې سخت دی؛ يوه وړه لور لري؛
خپل ژوند په کارګرۍ او خياطۍ پرمخ وړي؛ نيکه يې شتمن سړی
و ، خو د انقلاب په دوران کې اعدام شو.
ارسن لوپن فکر په مخه کړ؛ دوربين يې پر مېز کېښود ويې ويل:
ـهغه وخت يې مشهور شاعر، اندريه شنيه هم اعدام کړ.
ومې ويل:
ـهو او نن د اپرېل پنځلسمه ده.
ارسن لوپن په پوښتونکي نظر راته وکتل.
ومې ويل:
ـد تامير چوکېدار راته وويل چې دا تاريخ دې ښځې ته ډېر اهميت
لري.
ـپوه نه شوم.
دا بېوزله ښځه بايد هره ورځ کار وکړي او خپله وړه لور تر مکتبه
ورسوي، خو دا څوم کال دی چې دا ميرمن د اپريل پر پنځلسمه کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته نه ځي، بس هر کال په همدې ورځ سهار کور پرېږي او د شپې ناوخته بېرته راشي. نه پوهېږم، خو د تابلو تاريخ او په همدې ورځ د دې ښځې ناڅاپي ورکېدلو حېران کړی يم.

ارسن لوپن وويل:

ـ پوهېږې چې دا ميرمن چېرته ځي؟

نه، دا ميرمن ډېرې خبرې نه کوي ؛ ژوند يې حيرانوونکی دی؛ له هيچا سره اړيکې نه لري. وګوره ! له دروازې يوه اووه کلنه نجلۍ را ووته، ؛ ښځه هم ښکاري؛ څېره يې غمجنه ده؛ غواړې چې چېرته لاړه شي.

ارسن لوپن خپله خولۍ ور واخيسته ويې ويل:

ـ راځه !

دواړه له کوټې ووتو؛ پر زينو کښته شوو او کوڅې ته ورسېدو. ګاونډۍ ميرمن نانوايي ته ودرېده؛ دوې ډوډۍ يې واخيستې او په لاسي بکس کې يې واچولې. وروسته يې حرکت وکړ؛ د مونت سيمې ته ورسېدل؛ په يوه کوڅه کې راوګرځېدل؛ کوڅه تشه وه؛ دواړو غاړو ته يې زاړه کورونه وو ؛ د سن د سيند اوبه له يوې غونډۍ څخه را تويېدلې.

د کوڅې په پای کې نرۍ لار پرې وه؛ ښځه او د هغې وړه لور يوه زاړه کور ته ودرېدې؛ ښځې له خپل دستکول څخه کيلې را وايسته؛ ور يې خلاص کړ او دواړه کور ته ور ننوتې.

په دې وخت کې مو د يو چا د پښو غږ واورېد ؛ مخ مو ور وګرځاوه؛ يو بوډا او يوه ميرمنه ول؛ دوی زړې جامې اغوستنې وې؛سوالګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ورته رنګونه يې لرل. پرته له دې چې موږ ته څه ووايي؛ تېر شول. بوډا له جېبه کيلي را وايسته او دواړه هماغه کور ته ور ننوتل.
دا وخت مو د يوه موټر غږ واورېدء زه او ارسن لوپن تر يوه زاړه دېوال پټ شوو؛ موټر د کوڅې په سر کې ودرېد؛ يوه ځوانه ښځه ترې راکښته شوه؛ هغې قيمتي جامې اغوستې وې؛ پر غاړه يې د الماسو غاړکۍ ځلا کوله. دا ښځه هم هماغه کور ته ورغله.
ارسن لوپن وويل:
_جالبه ده ! دا خلک څه اړېکې سره لري؟
دوې په عمر پخې ډنګرې ښځې، يو خدمتګار، حکومتي مامور او يو چاغ سړی چې زړې جامې يې پر تن وې هم همدې کور ته ور ننوتل.
حيرانوونکې وه، ټولو له خوراکه ډکې ټوکرۍ ورسره وړلې.
ارسن لوپن ديوال ته وکتل؛ هسک و ؛ خو بخت ياري را سره وکړه؛ له وره يو ماشوم راووت؛ د راينورډ د کوڅې پر لور يې منډه واخيسته؛ کله چې بېرته راغی، دوه غټ بوتله اوبه ورسره وې. ماشوم دروازې ته ودرېد ؛ له جېبه يې د کيلي د را ايستلو له پاره دواړه بوتلونه پر ځمکه کېښودل؛ ارسن لوپن نږدې ورغی؛ ځان يې داسې وښود لکه په تفريح چې راوتلی وي؛ کله چې ماشوم په ځان پسې دروازه وتړله؛ ارسن لوپن شاوخوا وکتل؛ له جېبه يې نری چاقو را ويست؛ د کولپ په سوري کې يې تاو کړ؛ دروازه خلاصه شوه.
په بيړه ورغلم؛ وره ته نږدې زړه ونه ولاړه وه؛ ورپسې بوټي ښکارېدل؛ دې ګڼو بوټو د نورو له ديده ساتلو. د ونې څانګې مې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

احتياط ليري کړې، خوله مې وازه پاتې شوه؛ کور د هغې منظرې په بڼه جوړ شوی و چې ما په تابلو کې ليدلې و.
زينې، پايې، چوتره، هر څه په يوناني سبک جوړ ول؛ حيرانوونکې دا وه چې د اپريل په پنځلسمه د پاريس په يوه ارامه کوڅه کې دا خلک د څه له پاره راټول شوي دي.
زه او ارسن لوپن په بوټو کې مخکې ورغلو؛ په يوه هوار ځای کې ګڼ کسان د دايرې په بڼه راټول ول؛ ټولو خوراک کاوه.
نيم ساعت وروسته په ګډه ولاړ شول؛ سوالګر او هغه چاغ سړي سګريټونه ولګول؛ ښځې او ماشومان غلي ولاړ ول. داسې ښکاريدل چې ټوله ډله يو بل ښه پيژني. موږ ليري وو؛ د دوی خبرې مو نه اوريدلې، خو داسې راته واېسيده چې خبرې يې تودې دي. کومې ميرمنې چې د الماسو غاړکۍ يې پر غاړه وه تر نورو ډيرې خبرې کولې؛ زه يې د لاسونو له حرکاتو پوه شوم چې په غوسه ده؛ وروسته ناڅاپه د ټولو له خولې يوه وحشتناکه ناره راووته او د څا خواته يې منډې کړې.
همالته يې د کاريګر له کوچيني زويه جامې وايستلې؛کميس يوه ور واخيست او پطلون بل؛ دولتي مامور خولۍ ته لاس کړ؛ خو ډنګرې ښځې غوټه کړه او خولۍ يې د هغه له ګوتو وايستله. دوی يوه شيبه خبرې وکړې، خو خبرو يې عادي حالت نه درلود؛ ټول يو بل ته په غوسه ول؛ وروسته بېرته خپل لومړي ځای ته راغلل او بې حرکته په خپلو ځايونو کېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول غلي ول؛ په خبرو کې يې غوسه ښکارېده، خو حرکت يې نه کاوه.
وخت ووت؛ چاغ سړی وخوځېد ؛ خپل ساعت ته يې وکتل؛ نورو هم همدا کار وکړ. ډله منتظره وه؛ داسې لکه په يوه ټاکلي وخت چې کومې مهمې پيښې ته په تمه وي، خو کومه پېښه ونه شوه؛ نيم ساعت وروسته چاغ سړي خپلي خولۍ ته لاس ور وغځاوه؛ ولاړ شو ؛ په خبره کې يې نا اميدي پرته وه.
دوې ډنګرې ښځې او کاربګره ميرمن پر زنګونو کېناستې؛ پر خپلو ټټرونو يې د صليب نښه رسم کړه؛ شتمنې ښځې ژړل؛ ګاونډی هم خپله لور پر خپله سينه پورې نيولې وه؛ خبره يې خواشينې ښکارېدله.
ارسن لوپن اشاره راته وکړه، دواړه په احتياط له کوره ووتو.
ارسن لوپن تر ما مخکې و؛ د کوڅې په سر کې له يوه سړي سره ودرېد ؛څه يې وويل؛ ټکسي ته يې لاس وخوځاوه؛ له موټروانه يې وغوښتل چې موږ ۳۴ شمېرې کوڅې ته ورسوي. دا کوڅه ډېره لېرې نه وه؛ زه او ارسن لوپن د رهنمای معاملاتو د يوه رسمي دفتر مخې ته کښته شوو. دروازه مو خلاصه کړه؛يو مهربانه انسان ځان راوپېژاند:
ـمهرباني وکړئ، والاندريه نومېږم او د کورونو د پلورلو او اخيستلو رسمي جواز لرم.
ارسن لوپن په بدل نوم ځان ور معرفي کړ؛ ويې ويل چې کاپيتان ترونوت نوميږي او غواړي چې د کور د جوړولو له پاره ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخلي؛ د دې يادونه يې هم وکړه چې د راينولد  په کوڅه کې د خرڅلاو ځمکه شته.

خو د موسيو والاندريه ځواب منفي و؛ ويل يې چې دا ځمکه د خرڅلاو له پاره نه ده.

ارسن لوپن په خپله خبره ټينګار کاوه؛ ويل يې چې د همدې ځمکې د پلورلو اعلان يې وليد ، خو موسيو والانديه يې خبره نه منله. له څه بحث وروسته، مهربانه سړی ولاړ شو؛ الماری ته ودرېد او يوه تابلو يې راکښته کړه. حيران شوو؛ دا تابلو هم کټ_مټ هماغه تابلو وه چې زما او زما د ګاونډۍ په کور کې راځړېدله.

ويې ويل:

_همدا ځمکه ياودې؟

_هو

_دا ځمکه د يوه لوی باغ پاتې شوې برخه ده؛ يو وخت يې په ښاغلي درمونت پورې اړه لرله، خو هغه د انقلاب په دوره کې اعدام شو؛ باغ يې وارثينو په خپل مينځ کې ووېشه؛ ډېرو خپلې برخې وپلورلې، خو دا زوړ کورلا پاتې دی. په دې ټوټه ځمکه کې د هغه ټول وارثين شريک دي، خو يوه خبره ده...

ارسن لوپن په بيړه وويل:

_څه؟

_دا ځمکه يو خوندور داستان لري؛ په بيا بيا اورېدلو ارزي.

ارسن لوپن وويل:

_نو څه ته ماتله يې !

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـدرته وایم یې ! د انقلاب په پیل کې د باغ خاوند ، درمونت په دې پلمه چې د میرمنې او لور لېدو ته ورځي، په سن ژرمن کې خپل کور ته کولپ ور واچاوه؛ د ده له قوله، میرمن او لور یې چې پولین نومېده په ژنیو کې اوسېدې. درمونت د کور مستخدمینو ته هم ځواب ورکړ او له خپل زوی شارل سره د ژنیو پر ځای یوه بل کور ته لاړ. د پارسي په سیمه کې دا کور هم د دورمونت ملکیت و او له خپل یوه وفادار نوکر پرته یې بل څوک په دې نه پوهېدل چې زوې او پلار په همدې کور کې اوسي.
دواړه په دې کور کې درې کاله پټ شول؛ تمه یې درلوده چې څوک یې ونه وینې؛ خو یو ماسپښین یې زوړ خدمتګار په بیړه کوټې ته راغی او ویې ویل چې د کوڅې په سر کې یې څو پولیس لیدلي دي. زاړه خدمتګاردا هم وویل چې د وسلوالو کسانو له حرکاتو پوه شو چې همدې کور ته راځي.
د خدمتګار خبره ربښتیا وه؛ شېبه وروسته د کور دروازه وټکېده؛ درمونت خپل زوی ته وویل چې یواځې پنځه دقیقې هغوی مصروفه کړې او په خپله د کور له شاتنۍ دروازې په بیړه باغ ته ووت.
درمونت څه کول، تېښته؟ د څه شي پټول؟ هېڅوک هم پوه نه شول؛ دی لنډه شېبه وروسته بېرته راغی او ځان یې دولتي مامورینو ته تسلیم کړ.
هغه وخت یې زوی یواځې اوولس کاله درلودل، خو پولیسو هغه هم له ځان سره بوت.
ارسن لوپن وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـکوم وخت و؟
ـد انقلاب دوهم کال...
ارسن لوپن په د ېوال کې ټومبلې جنترۍ ته وکتل:
ـپه همدې ورځ، د اپرېل پنځلسمه.
موسیو ولاندریه د هغه خبره تایید کړه.
ارسن لوپن وویل:
ـبیا؟
ـهېڅ، خبره خلاصه شوه؛ درمونت یې درې میاشتې وروسته اعدام کړ. زوی یې زندان ته ولېږه او خلکو د هغه پاتې شتمنۍ چور کړه. خو د درمونت واقعي ثروت ورک شو؛ په خلکو کې دوه رنګه اوازې وې، ځینو ویل چې په سن ژرمن کې د هغه باغ ، نورې ځمکې او جواهرات پر یوه انګلیس وپلورل شول؛ د کنوانسیون مجلس هم په همدې اړه د پلټنو غوښتنه وکړه، خو قانع کوونکی دلیل یې ونه موند ، خو نور په دې عقیده ول چې د درمونت ټوله شتنمي ورکه شوه.
ارسن لوپن وویل:
ـخو د پارسي د سیمې ځمکه لا همدا سې پاتې ده.
ـدا ځمکه یوه دولتي مامور په ارزانه بیه واخیسته؛ دا مامور بروکت نومېږي، خو وروسته یې د کور دروازې وتړلې او تر کور یې سیمتې د ېوالونه راوګرځول، کله چې د درمونت زوی شارل له زندانه را خلاص شو ، د بروکت پر ضد محکمې ته لاړ؛ دعوا یې وکړه، خو قضیه یې ونه ګټله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شارل په دولت کې له یوه لوړپوړي چارواکي مرسته وغوښته؛ بروکت د فشار له کبله راضي شو او د ډېرو پیسو په مقابل کې یې کور بېرته شارل ته ور پرېښود. شارل ډېر خوشاله و، هومره چې د ټولو په مخ کې په نڅا راغی.

شارل څوک نه لرل؛ مور یې د ډېر زړښت او خور یې د ناروغي له لاسه مړه شوي وو؛ ده له یوه زاړه خدمتګار سره یوا ځې ژوند کاوه. کلونه تېر شول، خو په ۱۸۱۲ م کال کې یوه حیرانوونکې پېښه رامینځته شوه؛ د درمونت یوې پخوانۍ زړې خدمتګارې د ژوند په وروستیو کې شارل ته اعترا ف وکړ چې درمونت د انقلاب په پیل کې له سرو زرو څو ډکې کڅوړې همدې کور ته راوړې، خو کله چې ونیول شو، له زرو ډکې کڅوړې هم ورکې شوې. دا یې هم وویل چې دا لوی ګنج، په باغ کې تر خاورو لاندې دی، خو دقیق ځای یې نه دی معلوم.

شارل او د هغه زاړه خدمتګار نیمایي باغ پر بل مخ را واړاوه، خو نتیجه یې ورنه کړه.

ارسن لوپن وویل:

_څه فکر کوې، د زرو دا کڅوړې به اوس هم په باغ کې وي؟

_ نه پوهېږم، بروکت مې هم تر پایه سرمایه داره ونه لید. فکر نه کوم چې هغه دې وړې وي.

_بیا؟

_شارل واده وکړ؛ د اولادونو خاوند شو، خو لا یې هم د سرو زرو له کڅوړو تمه نه ختله؛ ده به وخت ناوخته د لوی باغ ځینو سیمو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيلچې او کولنگان نيولي وو. يو وخت يې له ژنيو څخه د خور اولادونه راغلل؛ هغوی هم د باغ په کښندلو کې مرسته ورسره کوله.
شارل نا اميده شو؛ تمه يې وخته؛ دی ډېر وخت له کوره نه راووت، خو کله کله به د عادت خلاف په باغ کې ښکاره شو؛ تابلو به يې په لاس کې نيولې وه؛ کله به څا ته ودرېد او کله به يې هم په باغ کې دوره وخوړه. شارل به هر سهار پنځه نيمې بجې له خوبه را وېښېده؛ تل به په خپله کوټه کې و. دی په ۱۸۲۰ کې مړ شو.
موسيو والاندريه وټوخل او خبرې يې پرې شوې.
ارسن لوپن وويل:
ـ د شارل له مرګه وروسته څه پېښ شول؟
موسيو والاندريه غاړه صافه کړه:
ـ د هغه اولاده له تېرو شلو کالونو راهيسې په دې ګنج پسې ګرځي؛ په باغ کې يې يوه لوښت ځای هم له اړولو پرته پرېښنښود، خو څه يې ونه موندل؛ د شارل او د هغه د خور لمسيان اوس هم په کال کې يو ځل د اپرېل په پنځلسمه په همدې کور کې راټولېږي. لا يې تمه نه ده ختلې؛ کله کومه تيږه له ځايه را پورته کړي او کله هم څا ته ور کښته شي. له دې کورنۍ پاتې شوي کسان هر کال په همدې ورځ په همدې تاريخ زاړه کور ته راځي؛ د ليونيانو غوندې حرکتونه کوي او د يوې غيبي پېښې په انتظار ناست وي.
دوی د کال له پيل څخه دا پرېل پنځلسمې ته په تمه وي؛ هيله لري چې په دې ورځ به يوه معجزه تر سره او د نيکه ګرانبيه خزانه به ومومي. په دوی کې له يوې ښځې پرته نور ټول په غربت کې ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي؛ هر یوه یې د باغ خپله برخه خرڅه کړه، خو ټول په یوه اتفاق د زاړه کور له پلورلو څخه ډډه کوي؛ دوی ته دا برخه د زیارت په شان مقدسه ده او په هېڅ صورت یې پلورلو ته غاړه نه ږدي. دوی په دې عقیده دي چې یوه ورځ به یې د نیکه خزانه له ځا څخه راووزي.

ارسن لوپن خپلو اوږو ته ټکان ورکړ؛ سګرټ یې ولګاوه؛ د دوکان مالک ته یې وکتل او ویې ویل:

ـ ښاغیله والاندریه! تاسو په دې اړه څه فکر کوئ؟

والاندریه په خپلو ذره بیني عینکو سپین دسمال تېر کړ:

ـ زه په دې باور یم چې هیڅ هم نشته؛ هسې یې د یوې لیونۍ خدمتګارې په خبرو باور کړی؛ له بل لوري باغ ټول وکېندل شو؛ که خزانه وای، تر اوسه به راوتلې وه.

ارسن لوپن دېوال ته وکتل:

ـ نو دا یورنګه تابلو ګانې څه مانا لري؟

نه پوهېږم، خو درمونت ښه رسام و؛ کټ مټ دې ته ورته دوې نورې تابلو ګانې یې هم انځور کړې وې.

ارسن لوپن ولاړ شو؛ له دېواله یې تابلو را واخیسته؛ پر مېز یې کېښوده؛ په ځېر یې ورته وکتل.

والاندریه وویل:

ـ یوه یې همدا ده؛ بله یې د درمونت د یوې لمسۍ په کور کې راځړېږي او له دریمې نه یم خبر.

ارسن لوپن ماته وکتل، ویې ویل:

ـ په درېیو تابلو ګانو یو تاریخ لیکلی، د اپریل پنځلسمه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

والاندريه وويل:

ـپه ټولو تابلو ګانو ۲ـ۴ـ۱۵ ليکل شوي دي؛ درمونټ په ۱۷۹۴ کال په همدې ورځ ونيول شو.

د ارسن لوپن شونډې وخوځېدې:

ـدا په دې مانا ده چې د ۲ عدد...

يو دم غلی شو، والاندريه ته يې وکتل:

ـله دې کورنۍ پرته بل چا د دې ګنج د پيدا کولو هڅه ونه کړه؟

ـولې نه! دې اوازې ټول ښار په سر واخيست؛ په ۱۸۴۳ کې د موسيو توربون په نوم يوه مشهور دولتي مامور له دې قضيې سره دلچسپي وښوده؛ ده اتلس ځله په باغ کې کېندنې وکړې؛ وروسته يې د دورمونت د کورنۍ د غړيو په خوښه فالبينان او جادوګران راوغوښتل؛ هغوی ژمنه وکړه چې دا ګنج به پيدا کوي، خو برياليي نه شول. بيا دا کور د دولت د بوديجې له پاره مهم وګڼل شو؛ دولت امر وکړ، که د درمونت له اولادې پرته کوم بل څوک غواړي چې په همدې سيمه کې کېندنې وکړې، دولت ته بايد ټکس ور وسپاري.

ارسن لوپن وويل:

ـڅومره؟

ـد کېندنو د جواز له پاره لس زره فرانکه، خو که يې ګنج وموند، په دريو برخو کې به دوې برخې حکومت ته سپاري. له هغه را وروسته ډېرو کسانو د ګنج له پيدا کولو سره علاقه ونه ښوده.

ارسن لوپن جيب ته لاس کړ، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـمهرباني وکړئ، دا يې هم لس زره فرانکه، هيله کوم، د دولت اجازه ليک راته واخلئ.
والاندريه په حيرانۍ ورته کتل.
ارسن لوپن وويل:
ـيو بل کار هم وکړه! د درمونت د کورنۍ غړو ته ووايه چې راتلونکی کال د اپرېل په پنځلسمه په همدې کور کې زما په تمهووسي.
والاندريه وويل:
ـته ليونی يې، هلته هيڅ هم نشته؛ هسې اوازې دي.
ـخير، ته به خپله برخه کميشن واخلې..
والاندريه قلم ور واخيست او د پيسو د اخيستلو رسيد يې وليکه.
کاغذ يې ارسن لوپن ته ونيو ويې ويل:
ـهيله کوم، د پښيمانۍ په صورت کې بايد د اپريل تر پنځلسمې، اته ورځې مخکې خبر راکړی، خو زه به تر بل اپرېله د درمونت وارثينو ته څه نه وايم؛ نه غواړم چې دې بېوزله خلکو ته د ګنج د پيدا کولو ببځايه تمه پيدا شي.
ارسن لوپن په خبره کې ور ولوېد:
ـنه، همدا نن يې خبر کړه! غواړم چې يو کال خوشاله و اوسي.
دواړه د والاندريه له دوکانه راووتو؛ په کوڅه کې مې ارسن لوپن ته وويل:
ـد ګنج په اړه په څه پوه شوې؟
ويې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـنه، یواځې یوه ښکلې سرګرمي ده.
ـخو په دې سیمه کې سل کاله کیندنې کېږي.
ـد کیندنو پرځای باید فکر شوی وای؛ زه د فکر کولو له پاره **۳۲۵** ورځې لرم، خو که مې دا خزانه هېره شوه،ته به یې راپه یادوې.
میاشتې ووتې؛ کله کله به مې د ورکې خزانې یادونه ورته کوله، خو ارسن لوپن داسې ښکارېده چې له دې موضوع سره کومه دلچسپي نه لري؛ یو ځل دوه ـدرې میاشتې ورک شو؛ نه پوهېدم چې چېرته تللی و او څه یې کول. یوه ورځ دخپلو ځینو کارونو د ترسره کولو له پاره افریقا ته لاړم؛ وخت ووت؛ له ارسن لوپن څخه مې هیڅ احوال نه درلود. کله چې بېرته فرانسې ته راغلم، د دورمونت په اړه مې ځینې اطلاعات ترلاسه کړل؛ پوه شوم چې د درمونت لمسی( زموږ ګاونډی ) څو کاله مخکې له یوه ځوان شتمن سړي سره نامزاده شوې وه، خو د ځوان کورنۍ په دې نامزادۍ خوښه نه وه؛ همدا علت و چې ځوان خپله نامزادي فسخه کړه او له یوې بلې شتمنې نجلۍ سره یې واده وکړ.
همدا مالومات مې ارسن لوپن ته په یوه لیک کې ولیکل، خو هغه زما یو لیک هم نه ځواباوه. په دې نه پوهېدم چې لیکونه مې ور رسېږي که نه! په هر صورت، د اپریل پنځلسمه ورو ورو را نږدې کېدله او په پای کې همدا ورځ راورسېده، خو د ارسن لوپن درک نه و. د غرمې له ډوډۍ وروسته د پارسي سیمې ته ورغلم؛ د کوڅې په سر کې مې څلورکاریګر ماشومان ولېدل چې د درمونت د زاړه کور مخې ته ولاړ ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې زړې ونې سیوري ته ودرېدم. د معاملاتو د لارښوني د دفتر مشر والاندریه راغی؛ په مینه یې روغبړ وکړ، ویې ویل:
_ښه نو، ملګری دې لا تر اوسه نه دی راغلی؟
لنډ ځواب مې ورکړ:
_نه
والاندریه ټوخي واخیست؛ ویې پړنجل، له لمره سیوري ته شو؛ ویې ویل:
_د درمونت د کورنۍ غړي مې لا پخوا خبر کړي وو؛ بېوزلو ته تمه پیدا شوې ده؛ خو کاشکې مې نه وای ورته ویلي؛ ستا د ملګري درک نشته.
د کور دروازه خلاصه شوه؛ ډله کسان ترې را ووتل؛ ټولو زړې جامې اغوستې وې؛ له خبرو نهیلي ښکارېدل؛ دوی تر موږ را تاو شول؛ د ارسن لوپن په اړه یې پوښتنې کولې؛ هغوی ته مې وویل چې راځي، خو په زړه کې په خپله خبره شکي وم.
زما ګاونډي وویل:
_که هغه رانه غی، بیا؟
مخکې تر دې چې ځواب ورکړم، سوالګر بوډا وویل:
_والاندریه ته یې لس زره فرانکه ایښي دي؛ که یې درک ونه لګېد؛ دا پیسې باید موږ ته راکړي؛ په خپلو مینځو کې به یې وو یشو.
خو دې خبرې یو هم خوشاله نه کړ؛ په خبرو کې یې نا امیدي له ورایه ښکارېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت ووت؛ دوو ډنګرو میرمنو دېوال ته خوار ولي ولګول؛ خیرن چاغ سړی عصباني و؛ وروسته یې غوسه له کنټروله ووته؛ له خولې یې لاړې باد شوې، ویې ویل:

ـدې احمق سړي پر موږ ملنډې ووهلې؛ له کاره او غریبۍ یې وایستلو؛ په اوله ورځ لا پوهېدم چې دروغ وایي.

بیا یې په غوسه ماته وکتل؛ تر خولې یې سپکې سپورې راووتې او غلی ودرېد.

د موټر سایکل غږ راغی؛ غږ په چټکۍ سره را نږدې کېده؛ ورمېږونه کاږه شول؛ یو ځوک پر موټرسایکل سپور و؛ جامې او ږېره یې په خاورو ککړه وه؛ په موټرسایکل پسې لیکه دوړه ښکارېدله.

موټر سایکل نږدې ودرېد؛ سړي ته مې په ځیر وکتل؛ اه خدایه! ارسن لوپن و؛ زړې او شکېدلې جامې یې اغوستې وې؛ ږېره یې له دوړو نه پېژندل کېدله.

والاندریه زما غوږ ته خوله رانږدې کړه:

ـغلط شوی خو به نه یم؟

ارسن لوپن یې خبره واورېده؛ ویې خندل؛ مخکې راغی؛ ویې ویل:

ـنه، یواځې برېتونه مې خرېیلي دي؛ ذهن دې سم کار کوي.

لاس یې راکړ؛ وروسته یې له جېبه یو کاغذ را وایست:

ـښاغلیه والاندریه! دا یې هم د پیسو رسید.

بیا یې یوه ماشوم ته وویل:

ـهله، له ښاره یو کرایي موټر راوله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشوم حيراني سترګې ورته نيولې وې.
ارسن لوپن خپل ساعت ته وکتل؛ يو دم يې چيغه کړه !
ـهله نو، ژر؛ وړی يم، له تندې مې ستونی وچ دی. يواځې پنځلس دقيقې وخت لرم.
هلک منډه واخيسته؛ زاړه ګډا ارسن لوپن ته د وچې ډوډۍ ځنډه ونيوله؛ ارسن لوپن دېوال ته کېناست؛ پر کلکه ډوډۍ يې غاښونه ټينګ کړل؛ په ډکه خوله يې وويل:
ـښښنه غواړم؛ په لاره کې ريل له پټلۍ ووت ؛ پنځلس نفره مړه شول؛ اړ وم چې له زخميانو سره مرسته وکړم؛ وروسته مې همدا زوړ موټرسايکل کرايه کړ؛ تر دې ځايه مې ځان راورساوه. ښاغليه والاندريه ! هېله کوم دا موټرسايکل د هغه خاوند ته وسپاره؛ نوم يې د موټرسايکل پر ټانکی ليکلی دی...
ارسن لوپن خبرې کولې او له حاضرينو يې د ناوخته راتګ له امله ښښنه غوښته. وروسته يې يودم وويل:
ـاه ! موټر راغی.
ساعت ته يې وکتل:
ـوخت تېر دی.
ټولو په حيرانۍ ارسن لوپن ته کتل؛ ډاډه وم، هغه باور چې ما پر ارسن لوپن درلود نورو نه درلود.
شېبه وروسته ټول انګړ ته لاړو؛ څا ته ور نږدې شوو؛ څا ته نږدې لويه تيږه وه؛ تيږه تر ډېره د انسان هغه مجسمې ته پاتې کېدله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ملا کړوپ وي او پر اوږو یې یو مرمرین لوښی نیولی وي. په لوښي کې غشي ته ورته ډېرین تیر ښکارېده.
تیږه زړه وه؛ د وخت په تېرېدو سره یې رنګ بدل شوی و او په هغې کې نقاشي شوي خطونه سم نه ښکارېدل.
ارسن لوپن یوه دقیقه تیږې ته وکتل؛ وروسته یې ورو وویل:
_هیله کوم یوه چاړه راکړئ!
چاغ ګردي سړي له جېبه تېره چاقو را وایست.
ارسن لوپن لومړی څپل ساعت او بیا غشي ته وکتل؛ شېبه وروسته د غشي د سیوري څوکه د تیږې پر لاندینۍ برخه ولګېده؛ ارسن لوپن هماغه ځای ته چاقو سیخ کړ؛ په احتیاط یې راشنه شوي وابنه لیرې کړل؛ یو درز پیدا شو؛ دوې ګوتې یې ور وغځولې؛ یو کوچینی شی یې را وایست؛ په دسمال یې پاک کړ؛ لمر ته یې ونیو؛ په ځیر ځیر یې ورته وکتل، ویې ویل:
_ښاغلیه والاندریه، دا درسره وساته.
والاندریه رېږدېدلی لاس ور وغځاوه.
ارسن لوپن وویل:
_د الماسو یوه وړه ټوټه ده.
ټولو یو بل ته وکتل؛ په څیرو کې یې خوښي ور ټوله شوه.
ارسن لوپن په احتیاط د چاقو څوکه تر تیږې لاندې کړه؛ چاک لوی شو؛ لومړی یې یو کوچینی الماس وموند او وروسته یې له هماغه ځایه د الماسو نورې شپاړس ټوټې را وایستلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درمونت د کورنۍ د غړو ستړګې رڼې راختلې وې، خو یوه هم څه نه ویل؛ په خیر خیر یې د ارسن لوپن ګوتو ته کتل.

خو چاغ خیرن سړی بې صبره شو؛ له خوشالۍ ډکه ناره یې تر خولې راووته!

_اه خدایه! شکر.

دوې ډنګرې خویندې له ډېرې خوشالۍ بې هوښه شوې؛ بوډا سوالګر دعاوې کولې. ..د وړو_ زړو سترګې له اوښکو ډکې وې. ما هم په حېرانۍ تر مجسمې لاندې جوړ شوې درز ته کتل، خو کله مې چې مخ واړاوه، ارسن لوپن نه و.

په دوهمه ورځ مې خپل کور ته نږدې په یوه قهوه خانه کې وموند.

لومړی پوښتنه مې دا وه:

_تا په خزانه کې یوه برخه حق درلود.

ویې خندل:

_د درمونت بېوزلو وارثینو ترما ډېره اړتیا ورته درلوده.

_خو څنګه دې دا خزانه پیدا کړه؟

ارسن لوپن د قهوې پیالې ته لاس وروغځاوه:

_اسانه وه، بس لږ فکر یې غوښت. درمونت په دربېو تابلوګانو یو تاریخ لیکلی و؛ زوی یې شارل په زړښت کې عصبي شو او د لېونتوب حمله ورباندې راغله؛ دغه د ناروغي په اړه مې یو رواني ډاکټر وپوښت؛ را ته ویې ویل، چې دا ناروغي پر اعصابو ناوړه اغېزه پرېږدي او تېر یادونه له ذهنه باسي. د شارل په ذهن کې به د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خزانې د پټېدو ځای د خوب په څېر ور ګرځېده، خو دی نه پوهېده چې پلار یې خزانه چېرته پټه کړې وه.

د هغه یو زوړ خدمتګار راته وویل چې شارل به د ژوند په وروستیو کې هر کال د اپرېل په پنځلسمه تر څا راګرځېده، فکر مې وکړ د تابلوګانو تاریخونه مې ذهن ته راغلل؛ پوه شوم چې ټول راز څا ته نږدې په همدې ډبرینه مجسمه کې دی.

ومې ویل:

ـنو څنګه پوه شوې چې د غشي سیوری به په دوو بجو د مجسمې پر هغه درز لوېږي ، چې تر لاندې یې خزانه پرته وه؟

ارسن لوپن له قهوې څخه غوړپ وکړ، ویې ویل:

ـد تابلوګانو په تاریخ کې ۲ لیکلي وو؛ فکر مې وکړ د دوو بجو مانا مې ترې واخیسته؛ په دې مانا چې لمر راګرځي او د اپریل په پنځلسمه دوه بجې به د غشي سوری د مجسمې پر هغه ځای لوېږي چې تر لاندې یې خزانه پرته ده.

ـخو اوازې وې چې درمونت له طلا ډکې کڅوړې درلودې؟

ـدرمونت له دولت سره مخالفت درلود؛سره زر ډېر وو؛ د اسانه پټولو له پاره یې د الماسو په اتلسو قیمتي ټوټو بدل کړل؛ پټولو یې ډېر ځای نه نیو. کله چې دولتي مامورین د هغه د نیولو له پاره کور ته ورغلل، سړی وارخطا شو؛ په بیړه د باندې ووت او الماس یې د همدې مجسمې په یوه درز کې کېښودل. فکر مې وکړ، په سل کاله کې سلګونه خلک یوې خواته روان ول؛ ټول باغ یې پسې وغوښت. زه د هغوی په مخالفه لاره لاړم؛ نوې لار؛نتیجه مې واخیسته، څکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرو زرو د کڅوړو پټېدو وخت غوښت؛ څمکه ورته کېندل کېده،
خو د والاندریه په خبره درمونت په پنځو دقیقو کې بېرته کوټې ته
راغلی و؛ وپوهېدم چې د پټېدو شی باید ووړ وي، دومره چې په
پنځو د قیقو کې پټ شي. یوه بل ټکي ته مې هم پام شو؛ هغه وخت د
اپرېل پنځلسمه د ماسپښین دوې بجې وې؛ ده هم د غشي سیوری په
نښه کړ؛ دا سیوری همدې درز ته سیخ و.
ارسن لوپن غلی شو، ویې وخندل، ویې ویل:
ـ خو پوښتنه دې ونه کړه چې په دا سل کاله کې دا الماس ولې پیدا نه
شول؟
په پوښتونکې نظر مې ورته وکتل.
ویې ویل:
ـ د خلکو په مینځ کې د سرو زور د کڅوړو اوازه ګډه وه؛ ډېر ځای یې
نېو؛دوی ځمکه پسې اړوله؛ په حقه ول؛ د سرو زرو ډکې کڅوړې به
د مجسمې په یوه درز کې څنګه ځاید لې!
د پاتریس بلوال کیسه همدومره وه. یوه شېبه غلی شو؛ وروسته یې
فرانسوا او د هغې مور ورونیک ته مخ ور واړاوه:
ـ ارسن لوپن زړه سوانده انسان دی؛ ده له ډېرو بېوزله خلکو سره
مرسته کړې؛ د دولت غلا شوې خزانې او رازونه یې بېرته دولت ته
ورسپارلې دي، خو هېڅوخت مننې ته نه دی ماتله شوی.
ورونیک وویل:
ـ ارسن لوپن اوس چېرته لاړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دم ګړی خو يې د افريقا نيت درلود ، خو هغه مرموز انسان دی؛ په پلان يې څوک نه پوهېږي؛ ډاډه يم چې له تاسو څخه به د ليک په واسطه احوال واخلي.

پاتريس بلوال غلی شو؛ استفان ته يې وکتل؛ د هغه سر ځوړند و؛ داسې لکه په ژور سوچ کې چې ډوب وي. پاتريس بلوال د ورونيک پر اوږه لاس کېښود ، ويې خندل:

_تمه لرم چې د ارسن لوپن وړاندېز ومنئ! د ګډ ژوند له پاره تر استفان ښه انسان نه شې موندلی.

ورونيک وويل:

_له استفان څخه نه بېلېږم؛ زړه مې دی چې درې واړه، زه، استفان او فرانسوا انګلستان ته لاړ شو او يو څه وخت په ارامه تېر کړو.

پاتريس بلوال پوه شو چې ورونيک او استفان په انګلستان کې واده سره کوي. ټولو ته يې لاس ور کړ او له انګړ ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴_حیرانونکی مساپر
کال ووت؛ یوه ورځ ارسن لوپن ربل ته وخوت؛ نیت یې و چې د سن د سیند په ساحل کې خپل ملګري ووینې، خو د قطار تر حرکت مخکې څو ځوانان ربل ته ور پورته شول؛ سګریټونه یې لګولي وو او یو بل ته یې په ټوکو کې سپکې سپورې ویلې. ارسن لوپن ته دا حالت د زغملو وړ نه و؛ بکس یې ور واخیست او دوهمې کوپې ( د ربل کوټې ) ته ورغی؛ په کوپه کې یوه میرمن او یو سړی ولاړ و؛ ارسن لوپن په لومړي نظر دا مېرمن وپېژندله؛ یو وخت یې ګاونډۍ وه، خو ارسن لوپن د هغې له سترګو څخه وپوهېده چې دې کوپې ته د ده په راتلو خوښه نه ده؛ ښځې ببرته مخ واړاوه او له سړي سره په خبرو بوخته شوه. ارسن لوپن غلی ودرېد؛ شېبه وروسته یې یو ځل بیا ښځې ته وکتل، خو دا ځل د هغې پر سرو شونډو موسکا پرته وه. سړي په لوړ غږ وویل:
_اه ګرانې، زه باید لاړ شم.
دا یې وویل؛ د ښځې مخ یې ښکل کړ او په بله ایستګا کې له ربله کښته شو.
ناڅاپه د شور او زوږ غږ راغی؛ یو سړی کوټې ته راننوت؛ ګاونډۍ چیغه کړه؛ ارسن لوپن په بیړه ور وکتل؛ د ښځې په څېره کې وېره پرته وه. ارسن لوپن ډارن سړی نه و، خو نوی راغلی کس په ظاهره ډېر با ادبه ښکارېده. دې سړي ښکلې دریشي او منظمه نیکټایي درلوده؛ لاسونه یې په قیمتي دستکشو پټ ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سړی شناخته ورته وایسېد؛ پر ذهن یې فشار راوړ، خو کومه نتیجه یې وانه خیسته. کله چې یې دوهم ځل ګاونډۍ میرمنې ته وکتل د هغې رنګ تر پخوا زیات الوتی و؛ سترګې یې رډې راختلې وې او پرته له دې چې له نوي راغلي سړي څخه سترګې واړوي، په بکس کې یې څه لټول... وروسته یې بکس پر خپل ټټر پورې ټینګ ونیو؛ له ارسن لوپن سره یې سترګې وجنګېدې؛ ارسن لوپن د ښځې په سترګو کې پروت وحشت، پوښتنې ته اړ کړ:

ـمیرمنې! خوښه مو نه ده چې کړکۍ خلاصه کړم؟ تازه هوا به مو پریشانې لیرې کړي.

ښځې نوي راغلي سړي ته اشاره وکړه؛ ارسن لوپن په سترګو کې وپوهوله چې مه وېرېږه! زه درسره یم.

ناپېژانده سړي لومړی ارسن لوپن او بیا ښځې ته وکتل او د کوپې په کونج کې غلی ودرېد. دري واړه غلي وو؛ یواځې پر پټلۍ د رېل د تېرېدو غږ راته؛ کله کله به د ځنګ له کوپې د مستو او بې تربیه ځوانانو خندا راغله.

ګاونډۍ میرمنه ارسن لوپن ته ورنږدې شوه په وېره یې وویل:

ـدا سړی پېژنې؟

ـنه

ـارسن لوپن دی!

ارسن لوپن ته خندا ورغله، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ــ امکان نه لري؛ ارسن لوپن د یوه جرم په تور ونیول شو؛ یوه اوونۍ مخکې یې محکمه وه؛ په خپله مې واورېدل؛ شل کاله قید ورباندې ختلی دی.

د ښځې په تندي کې ګونځې پیدا شوې:

ــ پر ما باور ولره؛ خاوند مې په عمومي زندان کې وظیفه لري؛ ویل یې چې ارسن لوپن وتښتېد.

ــ که داسې وي، ریل له پولیسو ډک دی، ولې یې نه نیسي؟

ــ د دې سړي وارخطا راتګ له پولیسو څخه د هغه د تېښتې مانا ورکوي.

ارسن لوپن ته د ښځې خبرې احمقانه ښکاره شوې، ویې ویل:

ــ غم مه کوه! که ستا خبره رښتیا وي، په همدې کوپه که به یې ونیسي.

غلی شو؛ نوي راغلي سړي ته یې کتل؛ نیمایي څېره یې په خولۍ کې پټه وه. ښځې ته یې وویل:

ــ نو تاسو ولې وېرېږئ؟

ځواب یې وانه ورېد.

یو ماشوم راغی؛ په لاس کې یې اخبارونه وو؛ ارسن لوپن پیسې ورکړې؛ یو اخبار یې ترې واخیست او مهم عنوانونه یې تر سترګو تېر کړل؛ د ارسن لوپن په اړه هېڅ هم نه و لیکل شوي.

تېره شپه یې تبه وه؛ سترګې یې نه وې پټې کړې؛ خوب ورته، ځکه چپرکټ ته وخوت.

ښځې په وېره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـتاسو باید ویده نه شئ.
ارسن لوپن سترګې پرانیستې؛ ښځې اخبار ور واخیست؛ په ځیر ځیر یې ورته وکتل؛ ببرته یې پر چپرکټ کېښود.
ارسن لوپن وویل:
ـخو ماته خوب راځي.
یوه شېبه یې د ربل له کړکۍ څخه د باندې وکتل؛ ولاړې ونې او شنه فصلونه په چټکۍ سره شاته پاتې کېدل؛ وروسته یې سترګې پټې کړې؛ فکرونو په مخه کړ؛ ارسن لوپن ته د ښځې خبرې حیرانونکې وې؛ دې ښځې اصلي ارسن لوپن نه پیژانده، خو ولې یې پر بل چا د ارسن لوپن شک راغلی و او له ارسن لوپن څخه
په څه خاطر وېرېدله! وروسته دې نتېجې ته ورسېد چې ښځه روحي ستونزه لري او چټیات وايي.
یو ناڅاپه یې پر سینه فشار راغی؛ په بېړه یې سترګې رڼې کړې؛ نا پیژانده سړي تر ستوني نیولی و. ګاونډی ته یې وکتل، تندی یې وینې و.
ارسن لوپن د ځان د خلاصولو هڅه وکړه، خو سړي پیاوړې ګوتې درلودې؛ ارسن لوپن په سختۍ سا اخیسته.
سړی پوه شو چې که یوه دقیقه نور هم د ارسن لوپن ستونی همداسې ټینګ ونیسي، نو مړینه یې حتمي ده، ځکه یې ستونی پرېښود، خو په ډېره چټکۍ سره یې د ارسن لوپن تر لاسونو پړی تاو کړ؛ ارسن لوپن د ځان د ژغورلو هڅه کوله چې پښې یې هم وتړل شوې.
د ارسن لوپن په زړه کې ور تېره شوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ اه ! دا سړی تر ما هم چټک دی.
سړي له خپل جېبه پلستر را وايست او د ارسن لوپن خوله يې ور وتړله. وروسته يې د ګاونډۍ بکس له غولي راپورته کړ؛ په بکس کې پراته ګران بيه جواهرات او قيمتي غمي يې په خپل جېب کې واچول.
ښځې په زحمت سترګې خلاصې کړې؛ په بيړه يې له خپلو لاسونو بنګړي را وايستل او د سړي پښو ته يې ور وغورځول.
سړی ټيټ شو؛ په ډېرې خونسردۍ يې يو يو بنګړی جېب ته کړ.
ښځې ته ور نږدې شو؛ پر هغې دوهم ځل د بې هوښۍ حمله راغله.
سړي سګرېټ ولګاوه؛ يو يو غمی يې سترګو ته ونيو؛ وروسته يې د ارسن لوپن جيبونه وپلټل؛دولس زره فرانکه او د هغه د يادانښت کتابچه په ګوتو ورغلل.
ارسن لوپن پيسو ته نه و خواشينی، له بل څه وېرېده. ارسن لوپن څو مياشتې مخکې پوليسو د غلا په تور ونيو، خو دا غلا ده نه وه کړې؛ دولت بهانه غوښته؛ په محاکمه کې يې د ارسن لوپن پخوانۍ دوسيې را برسېره کړې؛ قاضي مجرم وپيژاند او شل کاله قيد ورباندې وخوت، خو يوه اوونۍ مخکې له زندان څخه وتښتيد.
ارسن لوپن دومره وخت ونه موند چې په سمه توګه خپله څېره بدله کړي، خو بيا هم ښه و، په ښار کې يې يو شناخته سړي ته سلام ور واچاوه، هغه ونه پيژاند، خو پوليسو هڅه کوله چې ارسن لوپن ونيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارسن لوپن مجبور شو چې له یوه جعل کاره ملګري مرسته وغواړي؛ هغه هم په جعلي نوم د مدافع وکیل یو کارت ورته جوړ کړ. دې کارت مرسته ورسره وکړه چې تر ربله پورې ځان را ورسوي، خو زړه یې درېېده؛ پر سړک، مغازه، ربل او هر ځای کې خلکو د ارسن لوپن د تیښتې په اړه خبرې کولې. تر ټولو بده لا دا چې اوس پر یوه چپرکټ پورې تړلی و، ژر، یا ناوخته، بس! د پولیسو له پاره تیاره ګوله وه، هغه یې لاس تړلی نیولی شوای.

ارسن لوپن یوه بله اند ېښنه هم درلوده؛ غل په راتلونکي تم ځای کې له کوپې څخه کښته کېده؛ بې هوښه ښځه په سد راتله؛ چیغې یې وهلې او پولیس یې مرستې ته را بلل؛ د ده نیول کېدل حتمي وو.

له ځان سره یې وویل:

_کاشکې دا غل د ښځې خوله هم ور وتړي، خو غله بې غمه خپل سګرټ څکاوه او له کړکۍ څخه یې له ښکلو منظرو خوند اخیست.

وروسته یې د ارسن لوپن د یادابنت د کتابچې پاڼې واړولې؛ ښځې ته یې وکتل؛داسې ورته  واېسېده لکه ځان چې یې په بې هوښۍ اچولی و، ځکه کله به یې د سګرټ د لوګي له لاسه له خولې ورو ټوخی را ووت.

ربل تېز و ؛ له لېرې د ټکټ ورکونکې چیغې راتلې:

_د ارش د پله  تم ځای را نږدې دی، کوزېدونکي مسافر دې تیاری ونیسي.

غل یو ناڅاپه په  چټکو ګامونو د دوی خواته  ور نږدې شو؛ ښځې چیغه کړه او دا ځل په رښتیا بې هوښه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غل د رېل کړکۍ ته ودرېد؛ په بيړه يې د ارسن لوپن بالاپوښ واغوست.

رېل د سن له سيند څخه د تېرېدو په حال کې و؛ غله خپلې پايڅې ور پورته او کړکۍ يې خلاصه کړه. ارسن لوپن له ځان سره وويل:

ـ احمق نه پوهېږي چې له دومره تېز رېل څخه ځان اچول مرګ دی.

رېل په اوږده تونل کې ننوت؛ تياره شوه؛ د ارسن لوپن سترګې رڼې راوختې؛ سرې له کړکۍ څخه خپلې پښې ايستلې وې.

تياره، د رېل لوګی او پر پټلۍ باندې د رېل د تېرېدو تېره غږ، اه! مرګ حتمي و، خو د رېل سرعت يودم ورو شو. ارسن لوپن نه پوهېده چې تونل د ترميم په حال کې دی، خو غله مخکې له مخکې دا فکر کړی و؛ ده ته مالومه وه چې په دې تونل کې کارېګر کار کوي او د رېل سرعت به کمېږي.

غله ټوپ کړل او په تياره کې ورک شو.

ريل له تونل څخه ووت؛ ساړه باد کوپې ته راغلی لوګی ور سره يووړ؛ رېل په يوه شنه دره کې روان و؛ ارسن لوپن پوهېده چې يو بل تونل هم نږدې دی. دا وخت ساره شمال ښځه په هوښ راوسته؛ لومړی يې په خپلو جواهراتو پسې سترګې وغړولې، خوتمه يې وخته، بيا يې د ارسن لوپن له خولې پلستر ليرې کړ.

ښځې په بيړه وويل:

ـ د خطر زنګ ووهم؟

ارسن لوپن وخندل:

ـ نه، دا کار به دی په خپل وخت کړې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـخو وېرېدم، وژلم يې.
غلې شوه، وروسته يې يودم وويل:
ـاوس دې باور وکړ چې دا غل ارسن لوپن و؟
ارسن لوپن ويل:
ـپوليس به يې پيدا کړي او تاسو به بېرته خپل جواهرات تر لاسه کړئ.
ښځې سره سا وايسته:
ـامکان نه لري؛ ارسن لوپن داسې څوک نه دی چې په اسانۍ ونيول شي.
ارسن لوپن وويل:
ـمېرمنې، غوږ ونيسه، کله چې رېل ودرېد، پوليس را وغواړه ورته ووايه چې ارسن لوپن دې په خپلو سترګو وليد؛ هر څه يې درنه يووړل او په تونل کې يې ځان له رېله وغورځاوه. ننښه يې تور بلاپوښ دی چې په لستوڼو کې يې اسماني رنګه شنې ليکې تېرې شوې وې.
ارسن لوپن غلی شو؛ دی په دې فکر خوشاله و، ځکه چې د پوليسو پام په بله اوښته.
رېل ورو ورو تم ځای ته نږدې کېده؛ ښځه په فکر کې ډوبه وه.
وروسته يې د ارسن لوپن په غږ جټکه وخوړه:
ـپوليسو ته زما نوم هم ووايه! موسيو برلات... ورياده کړه چې ما پېژنې؛ په دې توګه به زه هم شاهدي ورکړم؛ پوليس به ارسن لوپن ونيسي او ته به بېرته د خپلو جواهراتو خاونده شې.
رېل لا درېدلی نه و، چې ښځې چيغې کړې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـد خدای له پاره، تبا شوم، هر څه یې رانه یو وړل.
څو پولیس راغلل؛ ښځې یواځې د ارسن لوپن نوم اخیست؛ ویل یې چې زما نوم ورودن او د زندان د معاون میرمن یم؛ ارسن لوپن غلا رانه وکړه.
یو چاغ سړی راغی؛ ارسن لوپن یې له دریشۍ پوه شو چې د پولیسو مشر دی. د پولیسو مشر ښځې ته مخ ور واړاوه:
ـډاډه یې، په خپله ارسن لوپن و؟
ـهو، په خپله و.
ـاوس چېرته دی.
ـد سن سیند ته نږدې یې له رېله ټوپ کړل. د تونل شمالي برخه وه.
غلې شوه؛ خپلې اوښکې یې پاکې کړې ویې ویل:
ـتور بالاپوښ یې پر تن و؛ په لستوڼو کې یې شنې لیکې تېرې وې.
د پولیسو مشر خپلو ملګرو ته مخ ور واړاوه:
ـد ښځې خبرې سمې دي.
ارسن لوپن سړه سا واخیسته؛ یو پولیس ورغی او د هغه لاس او پښې یې خلاص کړل.
ارسن لوپن د پولیسو د مشر تر مخ ودرېد، ویې ویل:
ـښاغلیه! دا سړی ارسن لوپن و؛ بیړه وکړئ، نیولی یې شئ؛ که غواړې نو زه به هم مرسته درسره وکړم.
د پولیسو مشر څه ونه ویل؛ ارسن لوپن شېبه وروسته د رېل د رییس په دفتر کې و. ګڼ کسان ترې را تاو ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارسن لوپن ته دا ځای خطر ناک مالوم شو؛ هڅه یې کوله چې له ګڼې ګوڼې ځان وباسي، خو د پولیسو مشر یې تر څنګ ولاړ و. د پولیسو مشر په دوهم ځل د تحقیق غوښتنه وکړه، خو ارسن لوپن وویل:
ـښاغلیه! وخت مه ضایع کوه بس، یو موټر راوغواړه او غل ونیسه.
د پولیسو مشر وویل:
ـدوه تنه مې د ارسن لوپن په پیدا کولو پسې لیږلي دي.
ارسن لوپن حیران شو:
ـڅه وخت؟
ـلږ مخکې؛ پر بایسکلو لاړل؛ ډاډه یم، ارسن لوپن نه شې ترې تښتېدلای.
ارسن لوپن خپلو اوږو ته ټکان ورکړ، په بې اعتنایي یې وویل:
ـفکر نه کوم چې مامورین دې د ارسن لوپن په نیولو بریالي شي؛ هغه هم پر بایسکلو.
ـولې؟
ـدا د موټر کار و؛ ارسن لوپن به اوس تر لیرې رسېدلی وي.
د پولیسو مشر وخندل:
ـزموږ د مالوماتو له مخې ارسن لوپن د روین سیمې ته ځي، همالته به یې ونیسو.
ـفکر نه کوم.
ـپروا نه کوي؛ هر چېرې چې وي. موږ یې نیسو.
ارسن لوپن وویل:
ـداسې ښکارې چې د یامین سیمه یې هدف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پولیسو مشر په حیرانۍ ارسن لوپن ته وکتل:
ـته له کومه پوهېږې؟
ـپه کوپه کې یې همدا ویل؛ ما په خپله ولید ؛ له جېبه یې د رېل د حرکت لیست را وایست او د رامین سیمه یې په نښه کړه.
د پولیسو مشر ارسن لوپن ته وکتل، خو دا کتل یې اوږده وو؛ د ارسن لوپن زړه ولړزېد ؛ له ځان سره یې وویل:
ـشک یې نه وي کړی !
یودم یې وخندل:
ـدوولس زره فرانکه ډېر شی دی؛ توله سرمایه مې ده؛ د غله نیولو ته بیړه لرم. که خپل دوه نفره همکاران را سره ولېږئ، نو د ارسن لوپن د نیولو ډېر چانس لرو ، ځکه ما ته هغه سیمه مالومه ده.
مخکې تر دې چې د پولیسو مشر څه ووایي ګاونډۍ د ارسن لوپن خبرې تصدیق کړې:
ـښاغلیه دا سړی موسیو برلات نومېږي؛ اطمیناني شخص دی؛ زموږ د دواړو غلا شوې؛ د هغه خبره ومنه.
د پولیسو مشر به د زندان د مرستیال د میرمنې د غوښتنې په مقابل کې څه ویل ! هېڅ، ځکه یې په ډېره مینه د ارسن لوپن پر اوږه لاس کېښود ، ویې ویل:
ـموسیو برلاته ! که د دې غله په نیولو بریالی شوې، قانون به دې تل پوروړی وي. خوشاله یم چې د ارسن لوپن د نیولو له پاره دومره زړه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پولیسو مشر ارسن لوپن تر لاس ونیو ، یوه موټر ته یې ودراوه؛ د ماول او کاستون په نومونو یې دوه تنه پولیس ور وپېژندل او ویې ویل چې دا دوه پولیس د ده په خدمت کې دي.
موټر حرکت وکړ؛ څومره چې د رېل له سټېشن څخه لېرې کېده په هماغه اندازه د ارسن لوپن زړه ته ډاډ ور لوېده. موټر په شنه دره کې ګړندی روان و؛ ارسن لوپن د ازادۍ احساس کاوه؛ ده د دې دوو دولتي مامورینو په مرسته ډېر څه کولای شوای.
حیرانوونکې وه؛ ارسن لوپن د ارسن لوپن په نیولو پسې ته !!
وروسته یې دواړو پولیسو ماول او کاستون ته وکتل؛ په زړه کې یې له هغوی مننه وکړه، اه ! که دا دوه پولیس نه وای،نو د تلاشي له پوستو به څنګه تېرېده. خو کار نه و خلاص، غل یې باید موندلی وای؛ له هغه سره یې پیسې او مهم اسناد ول. ارسن لوپن نه غوښتل چې نور څوک یې په رازونو پوه شي.
نیم ساعت وروسته د دارنتال سیمې ته ورسېدل؛ د پولیسو په مرسته یې مالومه کړه چې د تور بالاپوښ لرونکي کس د امین د سیمې ټکټ اخیستی دی.
ماول وویل:
ـد امین رېل نولس دقیقې وروسته د بوستي په سټېشن کې د لنډ وخت له پاره درېږي، که ور ونه رسېږو، رېل سرعت نیسي او د پاریس خواته ځي.
ارسن لوپن وویل:
ـتر هغه ځایه څومره لار ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـدرویشت کیلو متره.
ارسن لوپن خپل لاسي ساعت ته وکتل:
ـدرویشت کیلو متره او نولس دقیقې.
موټر حرکت وکړ؛ تېز ته؛ یو ځای لاندې په دره کې له ښنو ونو د رېل تور لوګی راووت؛ لاره خلاصه وه؛ موټر په سلو کې روان و.
د رېل تر حرکت مخکې سټېشن ته ور ورسېدل. په بیړه یې ټولې کوپې ولټولې؛ د غله درک نه و.
د سټېشن رییس راغی، دوو پولیسو خپل کارتونه ور وښودل، خو د رییس یوې خبرې نهیلي کړل؛ هغه د رېل د یوه کارکونکې له خولې ورته وویل چې د رېل تر درېدو مخکې یوه سړي له رېله ټوپ کړل او په ګڼو ونو کې ننوت.
ارسن لوپه په غوسه چیغه کړه!
ـغله د پولیسو موټر لیدلی و.
د سټیشن رییس وویل:
ـکه دوه سوه متره شاته لاړ شئ، د غله پلونه به په اسانۍ سره ومومئ.
خبره یې سمه وه؛ پلونه روښانه ښکارېدل.
ارسن لوپن یوه پولیس ته شاره وکړه؛ هغه په ګڼو ونو کې ننوت، خو ډېر ژر یې چیغه کړه، ارسن لوپن او بل پولیس منډه ور واخیسته؛ لومړي پولیس په ستړې سا وویل:
ـهلته وګورئ! غل تر دېوال واوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارسن لوپن په بيړه مخ ور واړاوه؛ د غله د بلالپونښ ژی تر د ېوال پټه شوه، خو ده غوښتل چې په يو اځې ځان غل ونيسي، دی وېرېده چې د غله په جيب کې يا داښتونه به پوليس وپوهوي چې اصلي ارسن لوپن څوک دی.
ويې ويل:
ـښاغلی ماسول! تاسو کېڼ لوری وڅارئ! کاستون به هم ښی خواته لاړ شي، په دې توګه به غل د تېښتې لار ونه لري.
يوه شېبه غلی و ، بيا يې شاوخوا وکتل، ويې ويل:
ـکه مې مرسته غوښته، تاسو به خبر کړم.
ماسول او کاستون هر يو يوې خواته لاړل؛ ارسن لوپن په احتياط ځانګې ليرې کړې؛ د ځنګل دا برخه ګڼه وه؛ د ځانګو له لاسه کړوپه ملا روان و. ځای ځای به يې ځمکې ته کتل،خو په مرطوبه ځمکه او ژېړو رالوېدلو پاڼو کې د غله پلونه نه ښکارېدل. ارسن لوپن له غونډۍ کښته شو، يو ځای ړنګه وړه کوټه ولاړه وه.
ارسن لوپن په احتياط ورغی؛ غل په ړنګو د ېوالونو کې ولاړ و . پيسې يې شمېرلې؛ ارسن لوپن ټوپ کړ؛ غله توپانچه ور واړوله، خو د ماشې د کشولو وخت يې ونه موند. پړمخې پرېووت، تر څو چې يې لاسونه ښورول، دروند سوک يې ژامه يوې خواته کړه کړه؛ ارسن لوپن وويل:
ـګرانه ملګريه! زه ارسن لوپن يم؛ څه چې دې غلا کړې دي را ويې سپاره! ژمنه کوم پوليس نه خبرېږي.
غله په حيرانی ورته کتل...ارسن لوپن وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـسم نه وایم؟

غله وویل:

ـسم وایې.

غل یې پرېښود؛ هغه په پښو ودرېد، خو په چټکۍ سره یې له جېبه تېره چاړه را واېسته؛ ارسن لوپن خنګ بدل کړ؛ د غله لاس یې ونیو؛ زنګون یې د غله تشي ته سیخ کړ؛ غله اخ کړل او پر ځمکه پرېووت. ارسن لوپن د هغه پر ټټر کېناست، ویې ویل:

ـپه مهربانۍ پوه نه شوي!

غل یې پر غوږ په سوک وواهه، بې هوښه شو.

ارسن لوپن د هغه جیبونه ولټول؛ هرڅه یې ترې یو وړل؛ د غله له جېبه یې د هغه د یادا ښت کتابچه را وایسته، څو پاڼې یې واړولې، ناڅاپه یې له خولې راوتل:

ـپیر اوفري! مشهور قاتل، هغه څوک چې میرمن دومبرورا او د هغې دوې لوڼې یې یوا ځې د زرو فرانکو له پاره ووژلې.

د غله څېرې ته ځیر شو، ویې ویل:

ـ اوس پوه شوم چې دا سړی په رېل کې ولې شناخته راته وایسېد.

وروسته یې په یوه واړه کاغذ کې ولیکل:

ـدا دوه سوه فرانکه هغو دوو پولیسو ته ډالۍ چې له ارسن لوپن سره یې د دې مشهور قاتل په نیولو کې مرسته وکړه.

لیک او پیسې یې غله ته نږدې کېښودې، توپانچه یې را واخیسته؛ هوایي ډز یې وکړ؛ له ځان سره یې ویل:

ـد ډز په اورېدو سره به پولیس راشي او دا قاتل به خپله سزا ووینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګاونډۍ پیسې او جواهرات یې د بې هوښه قاتل پر ټټر کېښودل او خپله په ګڼو ونو کې ننوت. شل دقیقې وروسته یوه کوچیني بازار ته ورسېد ، ملګرو ته یې تلګراف وکړ چې د ځینو ستونزو له لاسه هغوی نه شي لیدی.

هماغه ورځ په شپږ بجې پاریس ته ورسېد؛ په ورځپاڼه کې یې ولوستل چې مشهور قاتل پیراوفري نیول شوی دی.

سهار یې د فرانسې د اکوی په ورځپاڼه کې ولوستل:

ـتېره ورځ ارسن لوپن وتوانید چې مشهور غل او قاتل پیراوفري ونیسي. که څه هم چې ارسن لوپن له قانون څخه سرغړونه کړې، خو بیا یې هم خو ځله خپلو خلکو او وطن ته خدمت کړی؛ ده د طلا زېرمه او مهم اسناد دولت ته وسپارل؛ څه موده مخکې یې د سارک په جزېره کې د معجزې تیږه د غلو له منګولو وژغورله؛ د فرانسې ولسمشر ښاغلی والانکلای په خپله له ارسن لوپن څخه غواړي چې د وزیرانو شورا ته ورشي او د فرانسې دولت په رسمي توګه له هغه څخه مننه وکړي.

دولت دا پرېکړه هم کړې چې د ارسن لوپن د بند موده را ټیټه کړي، خو که ارسن لوپن دا کار ونه کړي، د ولسمشر د غوښتنې د نه منلو او له زندان نه د تېښتې په خاطر به لا هم د پولیسو تر تعقیب لاندې وي.

د ورځپاڼې دې خبر په خلکو کې ګونګوسې پیدا کړې؛ دوی ویل، ارسن لوپن یو قهرمان دی؛ ده د سارک جزیره له غلو څخه وژغورله؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دولت غلا شوي پټ اسناد يې بېرته دولت ته ور وسپارل. ټول په يوه خوله ول چې ارسن لوپن بايد وبښل شي.
خو ارسن لوپن غلی و؛ نه يې څه وويل او نه هم په اجتماع کې وليدل شو؛ د ځينو زړه ته لوېدلې وه چې ارسن لوپن له فرانسې څخه وتلی دی.
دا تصور سم و؛ ارسن لوپن افريقا ته لاړ، خو يوه ورځ يې د فرانسې په اکوی ورځپاڼه کې په خپله امضا يوه مقاله خپره شوه. ارسن لوپن ليکلي و:
"د خلکو له مينې مننه؛ ماته يې په درنه سترګه وکتل، خو زه په منني پسې نه ګرځم؛ لوی هدف مې خپلو خلکو او وطن ته خدمت دی.
د معجزې د تيږې پېښه هم اتفاقي وه. بس، يوه ورځ زما ملګري پاتريس بلوال ليک راولېږه؛ ده غوښتنه کړې وه چې د ورونيک په نوم له يوې ميرمنې سره مرسته وکړي چې د سارک په جزېره کې خپل ورک زوی ومومي.
د سارک جزېرې ته ورغلم او په لنډ وخت کې مې ډېر مالومات تر لاسه کړل. د ورسکي په نوم خطرناک قاتل مې ونيو، خو يو څه ناوخته؛ کنت هرژمون او د جزېرې ډېر اوسيدونکي وژل شوي وو.
د دې پيښې بشپړ جريان مې د پوليسو مامور ته وليکه؛ ولسمشر هم ترې خبر دی.
خو بيا هم د پوليسو لخوا ونيول شوم؛ ځان بيګناه راته واېسېد، ځکه له زندانه وتښتېدم. د ربل پېښه هم اتفاقي وه؛ يوه بله خبره!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولیس د دې پر ځای چې په مجرم پسې وګرځي، خپل ډېر وخت بېځایه تېروي او په اوزاو پسې ګرځي. دا ځکه چې ډېر پولیس له تجربه لرونکو کسانو څخه نه دي تاکل شوي. "
ارسن لوپن

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**